(( دپښتنوډيرلرغوني ادبي ستوري ))

په دې کي شک نه شته چي هرولس ځانته خپل تاريخ ، دود اودستور، هنراوادب ، ژبه اوداسي نور معنوي ارزښتونه لري . چي هرولس په همدغه معنوي ارزښتونو پيژندل کيږي چي دهغه ولس نخښي نښاني دي افغان ولس هم ددې وصولو ترسيوري لاندي درلونکی دځانګړي تاريخ ، کلتور اوادبي ارزښتونودی .افغانان دمځکي پرمخ يوخور ااوږد او لرغونی تاريخ لري ، پردې خاوره اوولس باندي ډول ،ډول مذهبونه اوکلتورونه حاکم سوي دي ، پرافغانانوباندي جنګونه اوحملي سوي دي ، کله کله افغانانو پرنورو قومونو حملي کړي دي ، کله کله طبعي افتونه پرنازل سوي دي چي ددې ټولو پيښوانعکاس ددې هيواد په ادبي تاريخ کي نغښتی دی . ددې هيواد ادبي تاريخ که شفاهي دی اوکه په ليکي ډول موږته دارزښت وړدی اوموږدهغه په خوندي کولواوساتلوکي دنده اومسؤليت لروهرڅومره چي ديوه قوم ادبي تاريخ روښانه وي په هغه اندازه هغه قوم دنړی پرمخ يو څرګند اوپيژندل سوی قوم بلل کيږي .دتاريخي اسنادوله مخي افغانان په همدغه شا وخواکي څلورپنځه زره کلن تاريخ لري چي مؤرخين افغانان د ابګان – اپګان - اوګان په نوم يادکړي دي .اوننی افغانان همدغه قوم دی چي په ورسته کي د پښتون په نوم سره ونومول سوه .چي اوس هم ډيرنورقومونه اوخلک پښتانه دهغه پخواني افغان په نوم يادوي ،داچي اوسني افغانان ياپښتانه دتاريخ په اوږدوکي دنړی ديوپيشرفته قوم په حيث ژوندتيرکړی دی ، تاريخي تمدن يی درلود ، هنري نخښي نښانی يې موږته په ميراث راپرايښي دي ، دولتونه يی جوړکړي دي. او په نړيواله سويه ئي تخنيکي افزاراووسايل هم جوړکړي دي . چي تاريخ ددی خبري شاهد دی چي هغه وخت اسلا م لا دعربو په خاوره کي نفوذ نه وکړی، چي افغانانوپه مختليفونومونو حکومتونه درلودل اومختليف مذهبونه يی قبول کړي وه ، نوددې ټولو خبرو څخه داسي څرګند يږي چي پښتوژبه يا دهغه مور اوانا ژبه چي کښل او ويل په کيدل يوه پخه اولرغونی ژبه وه . ليکن بايد داخبره هم په تعصب سره ووايم چي دتاريخي اسنادو له مخي پردی خاوره له ميلاد نه مخکي هم سخت جنګونه تيرسوي دي او دافغانانو وملي شتمنيوته يی هم ډيرزيان اړولی دی نوکه موږ دپښتوادبياتو تاريخ ته ګورو او موږ دابي اسنادو له مخي پرادبياتو خبري کو نو موږ بياهم داسلامي پير اودوران څخه وړاندي نه سو تلای اوزموږدفرهنګ مينوالو د۱۳۹هـ څخه وړاندي ليکلي اسناد نه دي ميندلي چي په پښتوژبه دي موږته کوم ليکلی سند وړاندي کړي هو : دهمدغه څخه مخکي ليکل سوي اسناد چي دلرغون پيژندونکو دخوا پيداسوي دي يا په اويستا يي ژبه او يوناني ليک دود پرډبرينو شنختو اودغوايي پرپوستکواويانور څيزونوباندي ځيني لرغوني اسنادميندل سوي دي.نودهغه څخه داسي څرګنديږي چي پښتوژبه يوه آريي لرغونی ژبه ده چي خورا ډيرتوري اوکلمی يي په اويستايي ژبه کي ليدل کيږي خو څه وخت چي پردی خاوره داسلام لمن وغوړيده اوافغانانو هم اسلام قبول کړ نو پرليک دود هنر اوادب يی هم شغلي ولويدې اوپه دې سيمه کي عربي رسمول خط رواج پيداکړ چي داميرکروړ لاسته راغلی حماسوي شعرهم په عربي ليک دود ليکل سوی دی .ليکن دنوموړي شعر له شعري پوخوالي څخه داسي معلوميږي چي نوموړی شعر لومړی شعرنه ؛ بلکي ددې نه مخکي هم غني پاخه دپښتوادبيات په نظم اونثرکي موجودوه چي اوس زموږپه لاس کي نه سته ، موږاوس بايدپرهغه تاړاکونو باندي هم څه ناڅه رڼا واچو چي دميلاد نه مخکي اوبيا وروسته زموږپرادبي بهير څه تيرسوي دي .

په دی کي شک نسته چي ژبه دي بيله تغيره اوتبديله ټول عمر ثابته پاته وي ، ژبه يوه ژوندی پديده ده چي په يوه معين وخت کي راڅرګنديږي اوبيا دځوانی مرحلې ته رسيږي اوبيا زړيږي اوپه پای کي مري ، خو دهغه ژبي څخه نوري ژبي هم زيږي اورشديا نمو کوي موږداسي ډيري ژبي اوس يادولای سو چي نومونه يي سته خوخپله هغه ژبه اوس نه سته او مړه سوې ده ، لکه اويستايي ژبه سانسکريت ژبي ، پهلوي ژبه ،ساکي ژبه،زړه پښتو اوداسي نوري ژبي چي اوس زموږپه منځ کي نسته اويوازي دځينو ژبو ډيرلږ متنونه اونومونه پاته دي ، جي موږيې دمږوژبو په نوم سره پيژنواوپه تاريخي ژبپوهنه کي ګټه ترې اخلو د بيلګي په توګه اوستا .

اوستا:- په دې ژبه دميلاد په لومړيو کلونو کي اريائيانو ليکني کولې اوداژبه دباختري اريائي اوبخدي يوه زړه ژبه ده چي زرتښت خپل کتاب په بلخ کي په وکيښ ،اويستا دوه ميلونه شعرونه درلودل .

نوموړی کتاب ددولسوسوو(۱۲۰۰)غوایانو پرڅرمنولیکل سوی دی ، نوموړی کتاب دخپل وخت ترټولونامتوکتاب ګڼل کیږي . خودبده مرغه دنوموړي کتاب ډیره برخه اوس نسته او څه وخت چي سکندر پردی خاوره واک ترلاسه کړ نودنورو فرهنګي تباه هیو په څنګ کي داویستادکتاب ډیره برخه یې وسوځل چي که نوموړی کتاب په پوره امانت ساتل سوی وای نوافغانانوته به اوس ډیرمسائیل روښانه وای ، سکندرمقدوني افغانستان ته تر میلاد نه مخکي راغلی دی . داچي ولي سکندر دغه غیري انساني عمل کړی دی ، دازما دبحث موضوع نه ده خودغوند ه رامعلومیږي چي اویستائي ژبه په افغانانوکي یوه مقدسه اودقدروړژبه ده ځکه افغانان دنوموړي تاریخي ژبي په درناوي پرخپلو اولادو اویستا نومونه ایږدي.

ویدا : - ویدا داریائي ټبرونو دسندرو اوشعرونوزوړاولرغونی کتاب دی.چي اریائیانوبه دغه غزلي اوشعرونه دسپین غره،اباسیند،ارغنداب ،کنړاوسوات په درواوغرونوکي زمزمه اوویلي .دویدا لغوي معنا پوهه اوعلم دی.پښتانه خپل دغه لیکلی لرغونی نوم پرخپلواولادوایږدي.

سوما یا هوما :

دیوه بوټي نوم دی چي په علمي ژبه یې افډاربولي . اریایانو به شیدې او شات ورسره ګډول او شراب به یې ځیني جوړول . دلرغونو اریا ئیانو څخه بیا ترنن ورځي پوري، پښتانه دغه نومونه پر لونړاو زامنو ایږدي.

زرتښت :- داکورنۍ دپښتیمان په نامه یادیدل چي دتبلغ ځای یې بلخ اوسیستان وودزرتښت دپلارنوم پوروشاسپه ( دزاړه آس لرونکی ) دمورنوم یې دوغد واودنیکه نوم یې پتیرکتراسپه وو. زرتښت یوعالم اوپوه انسانوو. دی ده (٦٦٠)قبل میلادي کال نه مخکي زیږیدلی دی  په دیرش کلنۍ کي لارښونه پیل کړیده ، اوپه دواویا۷۲ کلني کي دراجاسب  توراني په یرغلیو اوتیریو کي دبراترکرش توراني په لاس دبلخ په اتشکده یااورتون کي وژل سوی دی . زرتښت دخپل وخت یو پوه ، لیکوال اوپانګیزه یا اقتصاد پوه لارښود وو، چي په خپل وخت کي ډیرښه اقتصادي سیستم را منځته او جوړکړ. ده په خپلو اصولوکي دژوووژنه منعه کړه اوسړمایاشراب یې هم بندکړه داوخت دزرتښت په مذهب کي دښې مننې – ښې کړني – اوښې ویني ( ګفتارنیک – کردار نیک - دیدارنیک) پیریا زمانه وه . دزرتښت پایتخت بلخ وو، چي دنړۍ دډیرومهمواو لرغونو پایتختو څخه ګڼل کیږي .دزرتښت تبلیغ په اویستا یا زړه پښتو سره وو. داوستا لیکلی کتاب چي پردولسوسو غوایانولیکل سوی دی. ټول ویونه یې (۳٤٥۷۰۰۰)کلیموته رسیده ، چي نن ورځ یې یوازي (۸۳۰۰۰) ویونه یاکلمات پاته دي نوموړی کتاب په تعصب سره سکندر وسوځی.

یما:- یما یواریائي شهزاده پښتون ووچي دمانوورواودسوات زوی وو.یمادبلخ لومړی پاچاووچي دهورادردایسه ودانۍ یې جوړه کړه، نوموړې ودانۍ دبلخ لومړنۍ ودانۍ وه . یما ولسونه وګډژوند ته راوبلل اوډیولنیزژوند دبنسټ خښته یې کیښوده، اوکوچي ولسونه یې وښاري ژوندته وهڅول. دده په وخت کي دکالیواودنه ، کښت وکرونده ، دارو،درمل ، ختګري یا بنائي ، دوسپني ویلي کیدنه ، دفلزاتوڅخه داسلحوجوړونه ،کارونه اولښکري تنظیم دیماپه وخت کي رواج پیداکړه . دمیلوتم ځایونه اوډول ،ډول سرودونه ،دسوما دبوټي څخه دشرابوایستل اوداسي نورانکشافات دده په وخت کي رامنځته سوه ،یما یوپوه اوعلم پالونکی پاچاوو. چي دافغانستان په لرغوني تاریخ کي یې دقدروړخدمتونه کړي دي.اوتراوسه یې افغانان په ډیرښه نوم یادوي او ځیني وختونه افغانان اواریائي قومونه دیما داحترام په خاطرپرخپلواولاد
- ونوباندي یما نوم ایږدي.

هوښیارخان:-هوښیارخان دباخترد‌پښتنومشروو،چي په(۳۲۷ق - م) یا زیږ کي ژوندکاوه کله چي سپن تمان دسکندرپه وخت کي دخپلوملګرولپه خوا ووژل سواویولړولسي مشران مخ پرغرووختل څولښکرراغوندکړي اودسکندروجګړې ته ځانونه چمتوکړي ؛ خو دسکندر لښکري ساه لنډي په پسې وه اویولړولسي مشران یې په لاس ورغله چي ددې جملې څخه یوهم هوښیارخان اودهغه لور روښانه وه ، چي سکندرته په لاس ورغله اوسکندر په همدغه کال کي دروښاني سره واده وکی .

چي په دې عمل سره ډيرعسكر دسكندرڅخه خوابدي سوه چي ددې جملې څخه يوهم سپاه سالاركيتوس ووچي په ۳۲۷ق م كې سكندر په يوه پسرلني غونډه كي مړكړ.هوښيارخان يوعالم اوولسي مشروو، چي په خپل وخت كې دپښتنوپه منځ كي محبوبيت درلود.
كنيشكا :- كنيشكا دواسيشكاپلاروو، چي د۱۲۵ څخه تر۱٤٤زيځ يا ميلادي كلونوپوري يې دنړۍ څلورمه لويه پاچهي جوړه كړې وه. ددې پښتون پاچاددوبي پايتخت كاپيسااودژمي مركزپيښوروو.
ويما :- دكوشاني كهول دوهم پښتون پاچا ووچي په خپل وخت كي ډيرفتوحات كړي دي اوخپل دپاچهۍ لمن يې دګنګا ترلمنو پوري ورسول.

كيس

كيس نيكه په ٤۱ هـ ق كي مړدی له څوتنوعـزيزانو اوملګروسره دمكي معظمې ترسوبې په ۸هـ ق(٦۲۹م) كال دمخه تراسلام دالله دنازولي استازي حضرت محمد (ص) حضورته ورغلی اودمدنې منورې په پاكه سيمه كي دخپلوملګروسره مسلمان سو. څه موده ورسته حضرت محمد (ص) رخصت وركړ چي بيرته خپل هيوادته دخپلوملګروسره ستون سي اوپه خپل هيواد كي داسلام دپاره تبلغ وكړي اوكيس هم په هيواد كي داسلام دپاره پوره تبلغ وكړ.
ميركولا:- ميركولا دتورمن خان زوی وو .دی ډيرزړه وراوميړنی پښتون وو پرتوله افغانستان اوشمالي هند باندي يې پاچهي كوله اوپه ٥٤۲ميلادي كال مړدی.
شنسب :ــ شنسب په ۳٦پينځځ او٦٥٦زيځ يا ميلادي كلونوپه غوركښې دسوري كورنۍ لومړی واكمن دی . چي دحضرت علي سره يې ټنګه انډوالي وه او دحضرت علي په وخت كي دحضرت علي پرلاس يې ايمان راوړ او مسلمان سو.
پولاد:ــ پولاد خان دملک شنب كړوسی وو. اودغوريونوميالی اميروو. دی دعباسيانوملاتړي وو. اوڅه وخت چي دعباسيانو اوامويان ترمنځ ستونزي اوجنګونه كيده نوابومسلم خراسانی دعباسيانو په پره كي ولاړ وو،نوپولادخان هم خپلي لښكري دابومسلم خراساني اوعباسيانو په ملاتړكي ودرولي.دپولادخان دامارت مركزغوروو.
كروړخان:ــ كروړخان دپولادخان سوري زوی وو. په ۱۳۹ هجري كال دغورپه منديش كي اميرسو . ډيرغښتلی اوپهلوان سړی وو، چي دنړۍ پهلوان يې باله . ځكه چي په يوازي سربه له ډيرو سره جنګيده ، نوله دې كبله يې كروړ هم باله ، كروړ شاعروو. او هروخت به يې شعرونه ويل كروړ عادل اودښې وينا خاوندوو. كروړ دسور دسواته (زواته) دی چي دسهاک له پښته دی .
او په غوركي ديوې لويی كورنۍ څخه وو، او په ١٥٤يونيځ (هجري) يا ۸۰۰زيځ يا ميلادي كال كي دهرات دپوشنج (دهرات لوديځه خوا) په جګړه كي ووژل سو.لكه مخكي چي مو ايشاره ورته وكړه كروړ دافغانستا دپښتو ژبې يو وتلی شاعر تيرسوی دی چي په غالب ګمان سره يې شعري مجموعه هم درلوده او موږته يې اوس يوحماسي شعر دپټې خزانې په مرسته را پاته سوی دی.
چي موږ به يې دلرغونو ادبيات په لړ كي دلومړي په لا سته را غلي شعرپه اسنادوكي يادكړواو دنوموړي شعرله پوخ والي څخه معلوميږي چي امير كروړ يو نامي او پوخ شاعر او جنګيالی مخور مشر تير سوی دی .او زموږ لرغوني ادبيات چي برسيره پرلرغونو پښتنومشرانواوپوهانوباندي څه ناڅه ليكو،دډيرو لرغونوادبيا تو په نوم سره مو نوموړی كتا ب خپر ولوته اماده كړی دی ، دامير كروړ دشعر څخه به يې شعري برخه راپيل كړو.
سيس :
دلرغونو پښتنو په كهول كي يوهم نامتو پهلوان جنګيالی اوزړه وركروړسيس نوميده چي په ۱٥۰يا ۷٦۷م كال كي ئې ژوند كاوه او ډير ملګري يې دعربوسره په جنګوكي شهيدان سوه اوعربوخپله دی يې دهراته څخه وبغداد ته وليږه اوهلته يې مړ كړ، خودده يوه ښكلې لور چي مرجيله نوميده هارون رشيد ځانته وغوښته ، چي ورسته دمرجيلې څخه وهارون رشيد يو نامتو زوی مامون رشيد پيدا سو.
پښتون :

پښتون چي او س هم په دې باب ډېر بحثونه پر کيږي ، چي پښتون څوک دی ، پښتانه څوک دي او زموږ دکتاب موضوعو هم دپښتنو ډېرلرغونی تاريخ دی. نو بده به نوي چي دپښتون خان په باب هم څه وړاندي کړو که څه هم زموږ دکتاب موضوعو شجره څېړل خونه دي خوبياهم دموضوعو په اړوند به يوازي تماس ورسره ونيسو.

پښتون خان چي په عبدالرشيد کيس باندي نومول سوی وو۲۵۰ ـ ۳۰۰هجري کلوپوري يې په غور کي واک او نفوس درلود.څنګه چي دکيس ژبه پښتوه وه اونوم يې هم پښتني نوم يعني کيس ونوعربي ملګرويې نوم دکيس عبدالرشيد په نوم وباله،ويل کيږي چي کيس د حضرت محمد سره په جنګوکي پوره په ميړانه همکاراود کفاروسر ه   په جنګوکي ډيري فتحي ترلاسه کړي دي نودخپل وخت يو لوی صحابي تيرسوی دی.اوخپله هم يوروحاني مشرو،چي په غورکي تر ډيره وخته حکمراني درلوده،پښتون خان يا کيس عبدالرشيددرې زامن

درلوده:چي عبارت وه له غرغښت،بيټني اوسړبن څخه  وه .

خرښبون :

دسړبن زوی اودپښتون خان بابا لمسی وو. خرښبون دپښتنو عارف ، شاعر، روحاني مشراوپوه سړی وو، په (٤١١) هـ ش او۱۰۲۰م يا زيځ کال دکسي په غره کي اوسيدی ، درې زامن يې درلودل چي ( کندو، زمند اوکاسي)نوميده .

اودال :

اودل يا اودال يا ابدال دترين زوی اوداودالي پښتنونيکه وو. چي په ٤٣٩هـ ش او۱۰٤۸م کال کې دکسي دغره په شاوخوا کې ژوند کاوه. په خپل وخت کي دپښتنو مشرتابه دده په غاړه وه .

بارک :

بارک نيکه دپښتنو دمشهورو اونامدارو مشرانو له جملې څخه حسابل کيږي دی دخپل وخت عالم او پوه شخصيت وو، او دده زوی هم دده په قدم ياګام اخيستی او دخپل وخت يو نامتو ليکوال وو، دده زوی سليمان ماکو نوميده چي تذکرت الاوليا مشهور کتاب يې ليکلی دی او بارک نيکه دکندهار په ارغستان کي ژوند اواستوګنه کول .

بختيار :  په ۱۱۷۳م کال کي کله چي دغور زمري سلطان شهاب الدين غوري پرهندوستان لښکروروبهول نوبختياريې سپاسالاروو. چي ډېر لودي پښتانه هم ورسرملګري وه چي پراسام او تبت يې بريدونه وکړه .

ښکارندوی :

دغوراوسيدونکی ووچي کله ، کله به يې په غزني او بست کښي ژوند کاوه. دپلار نوم يې احمد ؤ. ښکارندوی دخپل وخت يو شاعر او عارف ؤ ، چي په (٥٧٦ هــ  ش يا۱۱۸۰م) کال په شاوخوا کښي يې ژوند کاوه اوخپله بوللـه يې دسلطان معزالدين غوري دهند دفتوحاتو په ستا ينه کي ويلې ده .

متي خان :

متي خان په ٦۲۳هــ ش کال زيږيدلی دی د٦٥ کال و چي دترنک په غا ړه مړ سواو دکلا ت په لوړه غونډۍ ښخ سوی دی .

شيخ متي خان لوی زاهد ، عابد ، مهربانه ، لايق اوپرخدای مين سړی ؤ، دده دکورنۍ غړي (زوزات ) يي ولاړه او په پيښورکي ميشته سوه شيخ متي خان لوی عالم ليکوال او ريښتنی سړی وو . يو کتاب يې په نامه دخدای مينه ليکلی ؤ ، چي تل به دده پر قبر يا هديره باندي پروت ؤ. او وګړو به تل دهغه پاڼکي ړغول او ويل به يې . هرچاه چي به ويل ورسره ژړل به يې هم . نوموړی کتاب دمغلو په تاړاکونو کي مغلو واخيست اوترنن ورځي پوري ورک دی ، او په نوموړي کتاب کي دطبعت ښکلا هم ډيره ښه ستايل سوې وه .

هوتک خان :

هوتک خان له ٦٦۱ ـ ۷٤۰هـ ش او ۱۲٦۳ـ ۱۳۹۳م پوري .

هوتک خان دباروخان زوی اودتولر خان لمسی اودغرزي خان کړوسی دی . په ٦٦١هـ ش کال زیږیدلی اودپښتنو توریالی بنسټیزمشرووقومونه اوټبرونه یې را ټول کړل دمغلو سره یې داسي شخړي او جګړې وکړې چي غرونه یې د مغلو په وینو ورنګول ، چي تا به ویل چي دسرو وینو باران پرې سوی دی . هوتک خان د٧٩ کالو په عمر په ٧٤٠هـ ش کال کي مړسو ی دی .
کټـــــه خــــــــان : کټه خان دیوسف خان زوی او دمتي خان لمسی دی چي ٧٥٠هـ ش کال ١٣٤٩م کال په شاوخوا کښي دلرغوني پښتانه په نوم خپل کتاب وکښی یا ولیکی ، چي په هغه کښي دپخوانیو شاعرانو شعرونه را غونډکړي وه.
بـــــــا ر ک :
ملک بارک دځیرک زوی دی په ٨٦٠هـ یا ١٣٥٨ م کال کښي زیږید لی دی او دکندها ر دابدالیو دقبیلي مشروو .
پـــو پـل :
ملک پوپل دځیرک زوی ؤ چي په ٧٨٣هـ ش یا ١٣٨١م کال کي زیږیدلی ؤ او دکندهار دابدالیانو مشروو .
الــــــپ خان :
٨٠٨هـ ش ١٤١٠م کي ژوند درلودی ، الپ خان د دلا ورخان زوی چي دهند په مالوه کښي سلطنت کاوه .
شاه خان :
٨٢٠ـ ٨٧٢هـ ش یا ١٤٤٦م کي ژوند درلود. شاه خان دسکندر خان زوی د هندال خان لمسی اود شاه میر سواتي کړوسی او دکشمیرپاچاوو.
ملک بامي :
ملک بامي دحبیب پوپلزي زوی دکندهار دابدالیانو مشرؤ، او په لاندي کلونو کښي ژوند کاوه ـ ٨٥٠هـ ش ١٤٤٦م کال کي په کندهار کي اوسیده .
ملی خان :
ملي خان دیوسف خان زوی چي د خرښبون دزوزاته یا پښته څخه وو.خپل کتاب یي دشیخ ملي ددفتر په نوم وکیښ اودپیښور څخه یي تر سواته پوري دمځکودویش اودتولنیزګډ ژوند لاري اوچاري په کښي وښودلي . دهغه دژوندانه ګډ اصول د١٨٦٩ع یا زییځ کال تربندو بست پوري جاري وه، خوانګریزانو په شخصي مالکیت واړول .ملي خان دپښتنو مشرووااو یوتاریخي سړی وو، چي په اشنغر کي ښخ سوی دی.
زرغون خان :زرغون خان په اصل نورزی وو چي په ٨٩١یونیځ یا قمري کال کي هرات ته ولا ړی اوبیا دهغه ځایه خراسان او عراق ته ولا ړی دی دپښتنو باتوره او میرنی شاعر اوعالم سړی و، چي په ٩٢١قمري کال په دیراوت کي مړ سو.
بایزید روښان :
روښان دعبداله زوی اودمحمد لمسی ووچي په ٩٣٢یونییځ یا قمري کال په جالندر کي زیږیدلی دی . روښان غوښتل چي دپښتنو مرکزي حکومت جوړکړي. اوپښتون خوا دمغلو دزور زیاتې څخه وساتي اودیوه خپلواک هیواد په څیر دمغلو اونورو هیوادو په مقابل کي ودریږي. روښان دمغل څخه خپلواکي غوښتل او دهغو دچور اوچپاول په مقابل کي مبارزه کوله . چي په دې لاره کښي تر لمسیانو او کړوسیانو پورې مبارزه او سرښندنه هم کړیده او مغلو هم پردې کورنی هیڅ رحم نه دی کړی. دجګړې په میدان کي به یي تني ځیني پرې کړې اوسرونه به یې مغولي پاچهانواودهغوی دربار ته دسوغات په توګه دهغوی دخوشحاله کولو دپاره ور استوله.روښاني کورنی خوراډیري قربانۍ دمغولي پاچهانو او مغلي دولت په مقابل کي ورکړي دي.روښان یو متصوف عقیدت منده پښتون وو. چي دتوري تر څنګ به یې قلم هم چلاوه، روښان غوښتل چي دپښتنو تاریخ اوجلال بیا په غورځنګونو سي او دا تیت اوپرک پښتانه بیا سره را غونډ کړي .

خو دروښان په مقابل کې يو بل دمغلو نماينده چي اخوند درويزه نوميده دپير روښان په مقابل کي سرسخته ودريده او وپيري روښان ته يې پيري تاريک ووايه او يولړپښتانه هم داخوند درويزه وشاته ودريده او اخوند درويزه يي په پيری منلی وو. اخوند درويزه په خپله هم مغل او د ګوډ تيمور خوريي يا دخور دخوا اولاددی دپيرروښان سخت دښمن وو. خو پردغه ټولو خبرو برسيره پيرروښان خپله ملي مبارزه په ډيره ميړانه داخوند درويزه او مغلوپه مقابل کي جاري وساتل او مغلي دولت هم دمياروښان په وجه ارامه ورځ پيدانه کړای سوای. روښان دځوانی څخه دګښت او يون (سفر) سره مينه درلودله او تر کندهاره ، هنده اوتر سمرقنداوبخارا ګرځيدلی دی . دډيرو عالمانو او پوهانو سره يې خبري اتري کړيدي، دخپل وخت مروجه علوم ، عربي ژبه ، ادب اوفلسفه يې زده کړه . خو په تصوفي فلسفه کې ځانګړې پوهه درلودله چي په همدغه دليل روښان ته دوخت يو ستر فيلسوف هم ويلای سو. او دپيرروښان دفلسفي اصلي اصل دوحدت الوجد په نوم يا ديړي چي خيرالبيان يې يو مهم فلسفي اثريا کتاب دی ، چي په مسجع نثر سره ليکل سوی دی.
بايزيد روښان په څلورومهمو ژبو ليکل او لوستل کولای سوای لکه (( پښتو ـ فارسي ـ عربي ـ هندي )) چي نوموړي ژبي دخپل وخت تر ټولو مهمي او مروجه ژبي وې ، روښان خپل کتاب په دغو څلورو ژبو ليکلی دی.روښان پر خيرالبيان برسيره نور کتابونه هم ليکلي دي لکه : صراتوالتوحيد ـ حق نامه ـ حال نامه ـ او مقصودالمومينين دي. روښان دپښتني نړۍ دجوړولو په ارمان په ۹۸۸قمري کال دمغلوسره په جګړه کښي ووژل سو ، چي ترنن ورځي پوري يې قبر او زيارت هم نا معلومه دی.
عجبه اوداندېښني خبره خوداده چي زموږپه هيوادکي پر پر دير ملنګانواودغه رنګه جاسوسانواودرويشانوباندي هم زيارتونه او منا ر ونه جوړيږي، دشيطانته ډک او لغوړن کچکولونه يې پروځړول سوه اوهغوته يې په مرګ او ژوند کي نوم او عزت وروبخښه ، په داسي حال کي چي دغومداريا نو زموږ پر پاکه خاوره دپرديو تجاوزته لاره حواره کړې ده .او زموږدوطن اصيل بچيان يې په الحاداو کفرسره متهم کړي دي او دافغانانو پرخاوره يې بيګانګانوته لاره هواره کړې وه؛ مګر زموږ ناپوهه ولس دهغوی زيارتونه جوړوي.او دقبرونو دسر خاوره يې دخوردې په توګه اخلي او تسلي په کوي .
نن ميا بايزيد(پيروښان) يو دهغودرويشانو ، پوهانو، فيلسفانو له جملې څخه دی چي نه يې علمي کتابونه پاته سوه اونه يې هم زيارت معلوم سو اونه يې هم دلاس نخښي مغلو او دمغلولاس پوڅوپښتنوته ورپريښودلې. داځکه چي پښتانه په خپله هم په غيري اګاه هانه توګه په داسي يو مصيبت کي را ښکيل دي چي هغوی هم خپل دوست اودښمن نه پيژني نو په همدغه دليل زموږ دپښتو ادبياتو يو ډيره غټه برخه ددښمنانو دلاسه يا سوځول سوې ده او يا ددښمنانو سره دجنګونو په وجه دمنځه تللي ده ، چي ډير لړاثارلرو چي پرهغه باندي دتاريخ په مختليفو پړاونو کي څه ناڅه کارسوی دی .
خو دپيروښانه وروسته هم روښانيانودخپل غورځنګ ډيوه بله و سا ـ تل اودهغوپه برکت دبايزيدروښان نخښي نښاني په لړاوډيره توګه موږ ته راپاته سوي دي. او زموږدادب مينه په ماتيري چي ورسته به پروږ غيرو.
امته :
امته خان اکوزی دروښان کلک اوسرتيرملګری وو. چي دهند دمغولي يرغلګر حکومت په مقابل کې دپيرروښان ملګري کوله او دمغولي حکومت لښکروته يې په واړو،واړو سختي ماتي هم ورکړې دي.

کاجو

کاجوخان دپښتنو دتاريخ ليکوال دی . چي کتاب يې راورتي موندلی دی ، کاجوخان دشيرشاه سوري معاصروو، په خپل وخت کي دپښتنو يو نوميالی مشرهم وو. دی هم دملی خان غوندي دپوهي او علم څښتن وو.دليکلواو ليکوالۍ وخت يې ملي خان په خپلويادابښتونوکي ۱٤۹٤ع کال ښولی دی .

شیرشاه سوري

شیرساه سوري دپښتو ن لودي پاچا سلطان بهلول لودي پاچاه پروخت زیږیدلی دی. په هندوستان کې دپښتنو لویه پاچهي ئي جوړه کړه.دبابرزوی همایون ته یې ماته ورکړه اوپه خپله پرتخت کښیناسته چي همایون بیا په تاخته دهند دلاري ایران ته وتښتیده.

اوشیرشاه په ۹۵۲سپنګیځ یا قمري کال دکالنجرپه کلا کي دباروتوپه ګدام کي دبمونوپه چاودنه کي وسوځول سو.ارواح ښادشیرشاه سوري دځوانی په عمرله ژونده سره مخه ښه وویل اومړسو.

خوشحال خان خټک

خوشحال خان خټک دشاه بازخان زوی دی . چي په ۱۰۱۲هـ ش یا ۱۶۰۳ع کال کي دخټکوپه کهول کي زیږیدلی دی.

خوشحال خان خټک د ننګ ، توري ، غیرت او قلم خاوند پښتون بابا وو. دپښتنو اوپښتونخوا دمیراني تمثیل یې په توره او قلم سره کوه او په توره او قلم کې پوره مهارت درلود. دخوشحال خان شهرت په پښتني دنیا کي دتوري او قلم په ډګر کي دخپل وخت یو بې ساري ، وتلی نامي او دارادې څښتن پښتني مشروو. هغه دومره ښه شعرونه وویل چي ساری نه لري او هغه په هره برخه کي دژوند شعرونه ویلي او لیکي دي ، چي دشعرو شمیریې وځلوییښتو زرو بیتونوته رسیږي. چي په دې کي پښتني غرور ، نصیحتونه ، تاریخ طبنامې، دخپل وخت دمغولي دولت سره دمبارزوداستانونه اودژوند داسي نور اړخونه انځور سوي دي.هغه اوس هم پښتنو ته دبابا لقب لري او دننګ اوغیرت په داستانونویې پښتني حجرې تودې دي ، دخوشحال ویناوي وپښتنوته ده خپلواکی،انسانیت پالني،هیوادپالني ، او دیو وا لي درس دي. مغلوته خوشحال بابا نه داچي په توره کي یوازې ماته ورکړې وه بلکي هغه په قلم هم دمغلوحکومت کمزوری کړی وو. دخوشحال بابا پرخلا قیت او پوهي باند نن ورځ دنړۍ پوهنتونونه علمي او څیړنیز تحقق کوي. دخوشحال بابا اثار په ډیرو ژبو ژباړل سوي دي لکه : عربي ، فارسي ، اردو،هندي ، روسي ، انګلیسي، فرانسوي ، چینایي اوسکنډیناوي او نورو ژبوهم ژباړل سوي دي. دخوشحال بابا نامتو لیکني عبارت دي له : دستار نامه ، فضل نامه ، بازنامه سوات نامه بیاض ، هدایه، اینه فراقنامه او طبنامه دي. خوشحال با با خپل دژوند ډیره برخه دمغل سره په جګړوکي تیره کړېده او په ۱۱۰۰هـ ش کال کې ددې نړۍ څخه سترګي پټي کړې دي. ولي نوم به یې تول عمر ژوندی وي.

سدو خان :

سدوخان دماروپ (معروف) خان زوی وو.چي دسدوزوپلارديچي په ۱۰۱۰هـ ق یا ۱۶۰۰م کال دایران دپاچاه عباس صفوي لخوادکندهار په مشري وپیژندل سو ، اومرکزیې ارغستان وو. مشهوره زوی یې کامران خان نومیده چي لیکوال هم ؤ.او مشهوره کتاب یې کلید افغاني نومیده . او کامران خان بیا دشاجهان پاچا له خوا رسمآ دکندهار په حکمرانۍ پیژندل سوی وو.

پیراو خان :

پیراخان ددولت خان زوی چي په خان جهان لودي مشهوره وو. په هند کښې دپښتنو لوی امیر وو.چي دشاه جهان دلښکروسره په جګړه کښي په ۱۰٤۰هـ ق اویا ۱٦ ووژل سو.

ایمـــــــل خان :

ایمل خان مومند په خیبر کښي دایمل شاه په نامه سیکه ووهل دکابل صوبدارامین یې مات کړ، بل اندیوال یې دریا خان اپریدی وو. چي دخوشحال خان سره په ګډه وه اورنګزیب ته ولاړل . ایمل خان په پای کي دپښتنو دښمنانو په زهرو مړکړ، قبر یې دکنړ دمیار په هدیرکښي دی. خوشحال خان خټک دده په بابا داسي وایي:

ایمـل اودریـا دواړه پرننګ ولاړه

اوس خو پاته ومغلوته خوشحال دی

ښا الـــم خان : (۱۰۷۰هـ ـ ق یا ۱٦٥۹م )

ښاالم خان دکرم خان هوتک زوی اودمیرویس خان پلاروو. دکلات دخوادسیمو مشروو. دسلطان ملخي توخي لور یې واده کړه ، چي دملي قائد میرویس خان موروه .

سرمست خان : ۱۰۸۰ هـ ق یا ۱٦٦۹م کال ـ
سرمست خان دشیرخان سدوزي زوی او دکندهار مشروو.
بـــــــا ی ۱۱۱۵هـ ق یا ۱۷۰۳م : ـ
با ی خان دعادل خان توخي زوی او دزابل حکمران وو.

میـــــرویـــس خــــان

میرویس خان دښاالم خان زوی او دکرم خان لمسی وو. چي په پنځلسم پښت وغرزي خان ته رسیږي . دمورنوم یي نازوانا وو ، چي دسلطان ملخي لوروه او مشهوره شاعره ، پوهه اوعالمه ښځه وه. سلطان ملخی دغزني خپلواک حکمران وو، چي دمغلوحکومت سلطان اورنګزیب او دایران صفوي حکومت په رسمیت پیژندلی ؤ . میرویس خان دخپل پلار ترسیوري لاندي په سوداګریزو چارو بوخت ؤ. او دهندوستان اوایران پرلاروتلی اوراتلی او وروسته یې په سیاسي چارو ځان بوخت کړ اوپښتنو خپل مشروټاکه. میرویس خان نرم اوملایم سړی ؤ، دمتین فکر اورسا ذهن لوړو اخلا قو خاوند اووینا یې ډیره فصیحه ،خوږه ،روانه اوجذابه وه، دسدوزوسره یې خپلوي وکړه چي دغلجواودرانودواړو قومونو مشرومنل سو.
ځه وخت چي ګورګین په کندهار کي ډیر خلک ووژل اوپه تیربیا دراني قومونه نوپه دې وخت کي میرویس خان دوولس په مخ کي را پیداسو او په ډیر میرانه یي دګورګین وظلمونو ته دپای ټکی کښیښود او ګورګین یي مرکړاوپښتانه یي دایرانیانواو ګورګین له شره خلا ص کړه اوخپله دیوه ملي مشرپه حیث په کندهار کي دخلکو له خوا په ملي مشرټوب سره په ۱۱۱۹هـ ق کال وټاکل سو. اودایراني دولت نماینده ګان یي په دړي وړي کړه. اوهیواد یي دپردو دتیري ځخه خلاص کړ.پښتنخوایي دصفوي دولت ترپلو آزاده کړه او په نوروبرخوکې هم پښتانه آزاد کړه اوپښتنویو پرا خ ملي دولت یې تاسیس کړ.څو په پای کي تر اتو کلونو وروسته ملي مشرتوب ځه په ۱۷۱۵م کال یا ۱۲۲۷هـ ق کال کي په کندهار کي مړسو او په کوکران کي وخاوروته وسپارل سو.

سیدال ( ۱۱۵۰ هـ ق یا ۱۸۱۵م )

سیدال دابدال خان ناصر زوی ؤ ، کله چي میرویس خان نیکه ګورګین وواژه ، سیدال دپښتنو سرلښکراو سپاسالار ؤ.
دمیرویس خان نیکه تر مړیني وروسته سیدال خان دشامحمود سره په ټولوجنګونوکي مشراوسپاسالاروو.اودایران په فتوحاتوکي په بر یا لیتوب سره مخ په وړاندي ولاړاود پښتنو پولي یې ترا صفهانه پوري وغزولي .
سیدال دروسي قواوسره په مازندران کي سختي نښتي وکړې ، اوروسانو ته یې په مازندران کي ماته ورکړه . سیدال یو قومي سرلښکری ، سپاسالاراو فاتح ؤ.سیدال دپښتنو سترګي په ټوله پښتنخواکي ور ړوني اوخلاصي کړې ، خو هغه دپښتنو اوپښتنوالی په سرخپلي سترګي دلاسه ورکړې.... هغه دنادرافشارسره ډیر جنګونه وکړه څو دنادرافشار په لاس ورغلی او نادر افشار دسیدال روڼې سترګي ور ړندې کړې او هغه په ړندو سترګو دکابل شکردرې ته ولاړ او هلته یې خپل ړوند ژوند ته دوام ورکړ او هلته یې او س هم سرتیراوي قوم ستـه .
دزمریانو سوې خالي دهیواد درګي
نادروکښې دسیدال میړنی سترګي
د ا ژ ړا د پښتنو پر مخ سر یږ ي
دسیدال سترګي نادر ایرانی کاږي

بابو جان

بابو جان بابی دکرم خان بابي زوی ؤ.چي داتغر اوسیدونکی ؤ.
بابو جان بابی دکرم جان بابي زوی اوداتغراوسیدونکی وو.

دشاه او گدا کیسه یې په پښتو نظم کړه او بابو جان بابی دحاجي میرویس خان نیکه دډیرو نژدې ملگرو له جملې څخه ؤ، چې ډیر غښتلي خلک یې کندهار ته راوستل او بیا یې کلا ته ورننه ایستل اودکندهار ښاریې ډیرژر ونیوه .
بابو جان بابی په ۱۱۳٤قمري کال چې شاه محمود هوتک پر اصفهان یرغل کاوه، نو بابو جان داصفهان په جگړه کې داسي میرنی توري ووهلې چې دوخت روستم هم نه سوای وهلای.
بابو جان بابی دوخت بهترین لیکوال ؤ اویولړکتابونه یې هم لیکلي دي ، چې دلیکوالی ستاینې یې تر ډیروخته کیدې .

بهادر

پښتون پاچاه شاه حسین هوتک وبهادرخان ته تل ورور ویلې ، او دپاچاه راسته لاس هم ؤ، علم پروره سړی ؤ، همیشه به یې په دربار کې عالمان او ریشان (شاعران ) راټولول او علمي ـ ادبي غونډې به یې جوړولې . او دوخت په نارنج قصرکي به یې علمي غونډې کولې ، په کندهار کې ئې ډیر نوم اونښان درلود او پر خلکو گران ؤ ، په سخاوت ، توره ، میلمه پالنه ، پښتو پالنه اوریشه یا شاعری کښې لوی نوم او نښان درلود.

ریدی خان

ریدی خان دغیاث خان زوی او دمعصوم خان مهمند لمسی وو.دپښتنو پاچا شاحسین هوتک په دربار کښې دیو ستر عالم او منل سوي شاعر په توگه یې ځای درلود. او درباریانو په ځانگړې توگه شاه حسین هوتک یې احترام درلود، ریدی خان په ۱۱۳٦قمري کال دشامحمود دلیدو دپاره اصفهان ته ولاړاوڅه وخت چې بیرته کندهار ته راغلی نو یې خپل کتاب په څلوروژبو نظم کی او محمود نامه یې نوم پر کښیښود ( چې محمود نامه نومیږي) نوموړی کتاب دمیرویس خان نیکه او شامحمود دجنگواوکارنامو په باره کې لیکل سوی دی.کله چې پښتون شاه شاحسین هوتک نوموړی کتاب ولید نو ډیرخوشحاله سواوزر طلاوي یې وریدي خان ته ورکړې،ریدی خان مهمند چې دشاه محمود له خوا ستایل سودی ، په پښتو کې یې ښه شعر هم ویلی او دپښتوشعر یو ښه دیوان هم لري .

موشکـــــــــــی خان

موشکی خان په قوم ساکزی ؤ ، دمرغې او سیدونکی ؤ.دا ځلمی پښتون دټولواک شاه حسین هوتک دسرلښکروڅخه وو. چې پر نادر افشاریې سخت گذارونه وکړه او ټپي یې کړ خو په تیښته ځني ولاړ او دمرگه څخه بچ سو.

بلـــــــــو خان

بلوخان احمدزی وو، چې پښتون پاچا شاه حسین دکندهار دمحاصري پروخت راغوښتی وودکورنی دښمنی په وجه کندهارته په یولړڅه ځنډ سره راورسید . دده په باب داسي څه ویل سوي دي.

دټغرو بیا دغیرت اور دی مړ سوی
بلو خان خو توریالی وو
بلو خان ته دی په کورکي اور بل سوی

نوښان خان :

نوښان خان چې دشاه محمود په عسکروکي په دوبرخوکي قومندان ټاکل سوی وو. دگلناابا د په جگړو کښې یې گرجي اوایراني لښکروته سخته ماته او ژوبله ورکړه او گرجیان یې دنامه څخه بیریدل او په ایراني لښکروکې هم ډیرنوم اونوښان پیداکړی وو. اودنامه څخه یې ویریدل او هغه یې په ډیره فاصیله ځغلولې وه . اودده په باب لا ل گرونسي واي : ( نوښان خان همه گرجیان را بی نشان ساخت) .

مدت خان :

مدت خان په قوم سهاک او دشیبان دجگړې ده اتلانو څخه دی.او ددپه باب دوولس دغه ناره دده دپیژندل گلوی دپاره وړاو مناسبه ده .

پرمدت سهاک دتوروپلوشي دي
ډال يې هم اوتاک کښي پاته ـ خوپه لاس يې دسکلي دي
بنگـــو خـــــان :
بنگوخان ترکی يو زړه ور اوميرنی سرلښکروو، دشيبان دجگړوله اتلا نو څخه وو، کله چي نادرافشار کندهارمحاصره کړ، پښتون ټولواک شاه حسين هوتک وبنگوخان ترکي ته په اميد اوانتظار ناست وو ،چي پسله لږځنډه اوکورنيو ستونزو دجگړې وډگرته راورسيد .
خوشاه حسين دهغه انتظار په دې حساس وخت کي کاوه ، چي ددی بيت څخه معلوميږي .
شاه حسين هوتک ويرکاوه بې شکه
سليمان خيل اندړ رانغلوـ پربنگو ترکي پريوته څه ټکه
گل خان
گل خان سهاک دکندهار دلويو لارو تکړه سرلښکر ؤ . کله چي دکندهار په ښارکي جگړه لاس په لستوني پيل سوه ، اوايرانيانو کندهار دهري خوا محاصره کړی ؤ، نوگل خان دلويشت ، لويشت کندهاره څخه دفاع وکړه، او پرگل خان ډيره سخته راغله او بې شميرايرانيان راتاو سوه ، شاه حسين هم دده مرستي ته ورغلی ، ولي وس يې ونه رسيدی ، چي گل خان خلاص کړي ، ځکه چي دښمنان ډيرزيات وه. اوولس دده په باب داسي اخ ترخوله باسي :
که زوره دبډي پربرج ډيرزوره ـ شاه حسين هم پسي سپورسو
خوگل خان يې نه کړخلا ص له دغه او ر ه
امکو خان ۱۷۱۳م کي :امکوخان يو سياسي ډيپلوماټ ؤ. دی دميرويس نيکه ورور وو، چي ددولت په غوښتنه وهندوستان ته وليږل سو او دتيموري دولت پاته واکداران په ډهلي کي دهغه سره په خبرو اترو کي په سياسي جوړجاړی کي يوې موافقې ته ورسيدل او دکندهار ولسي واکمني يې دميرويس خان په مشرتابه ومنل .
ميسری خـــان ۱۷۳۷م کي :
دپښتوژبې تکړه شاعر چي خپل دشعرونو مجموعه اويا ديوان هم لري .
اودل خان : ـ اودل خان هم دپښتو ژبې دپخوانيو ريشانويا شاعرانو څخه وو، چي په ۱۷۰۰م کي ژوند درلود. چي په کليد افغاني کې دوې بدلي هم راغلي دي او دعبدال قادرخان خټک په وخت کي ژوند کاوه اودهمدغه دورې دشاعرانو له جملې څخه شميرل کيږي.
نواب دوندي خان :
نواب دوندي خان دحسين خان روهيله زوی اودحفظ رحمت خان دتره زوی وو، دمغلو اومرهټانو سره يې کلکي جگړې وکړې ، پر هند باندې داحمدشاه بابا سره په يرغلونو کي هم پوره ونډه اخيستې وه ، دپاني پت په ډگر کښي داحمدشاه بابا سره يې توره په لاس کي او لکه زمری ولاړ وو اوجنگيده .
په ټولو جنگونو کي بريالی له ميدانه راوتلی.
کامگار خان :
کامگار خان خټک دنامدار خان خټک زوی داشرف خان خټک لمسی اودخوشحال خان خټک کړوسی دی ،دخپل وخت يونامتو ريشي( شاعر) وو.چي په ۱۷۷۵م کال کي مړسوی دی( روح دې ښادوي) .
گــــد و خان : ۱۷۹۸م کال
کله چي داحمدشاه بابا زوی تيمورشاه تر دولس ۱۲ کاله پاچهي وروسته مړسو ، دده زوی شاه زمان دکابل پر تخت کښيناست په ۱۷۹۲يا ۱۸۰۰ م کلونو په شاه وخوا کي شاه زمان ته دلوي احمدشاه بابا تخت ورورسيدی، چي شاوخوا دافغانستا ن په دې وخت کي ترلاهوره تر کشميره ، سينده او نيشاپورپوري رسيدل او جنوبي برخوته يې بهيره عرب وه. په دې وخت کي گدوخان دشاه زمان هوښيار سفير ؤ. شاه زمان گدوخان وتهران ته واستاوه ، چي قاجاري پاچاه دسدوزي شهزاده گانو په مقابل کي لمسون ونه کي او دافغانستان سره په سوله اووروگلوی کي ژوند وکي .

اینځرګل خان :اینځرګل خان پېښوری دپېښور دښو شاعرانو له جملې څخه وو او خپل یو مثنوی کتاب يې داردواو فارسي څخه په پښتو سره اړولی دی چې نوموړی کتاب دیوې خوږې کیسې مثنوي ده .

بهلول خان :

بهلول خان دښادي خان زوی اوپه ۱۸٦۸م کال کې ژوند درلود ، بهلول دښو دسیمې اوسیدونکی ؤ ، چې جنګ نامه يې په پښتو نظم کړېده .

روښانه : ـ دباختر دپښتون مشر هوښیارخان لوروه ، چې په کال ۳۲۷ق م کې یوناني سکندر واده کړه ، چې په دې کارسره دیوناني سکندر په لښکروکې جلا والی اوشخړې رامنځته سوې .

زرغونه ۱٤۹۷م کال :

دملا دین محمد لور وه او په پنجوائي کې اوسیدل ، دسعیدال خان سره يې واده وکړ ، دخپل وخت ډېره وتلې او نوموړې ریشي (شاعره) وه .

چې دشیخ مصلح الدین سعدي بوستان يې په پښتو نظم کړ ، اونوم يې دپښتو بوستان پر کښېښود ، په خپله ډېره ښه لیک ګیره ( خطاطه ) وه .

بي ، بي نیکبخته :

نیک بخته دپښتونخوا یوه نومیالۍ شاعره پښتنه وه ، دادخپل وخت دفاضل پوه اوولسي مشر اله دادخان لوروه. پلار او هم نیکه يې په اشنغرکې دمموزیو مرشدان وه . بي بي نیکبخته یو لیکلې مجموعه هم لري چې ، دارشادالفقراپه نامه یادیږي. په دې لیکلې مجموعې کې ډیري نغوږې (نصیحتونه ) په شعري ژبه ویلې دي، دکتاب مجموعه يې په ۹٦۹قمري کال تمام سوی دی.

نازوانا :

میرمن نازو چې په ورسته کې دنازوانا لقب ترلاسه کړ ، دسلطان ملخي لور وه ، په ۱۰٦۱قمري یا ۱٦٤۳م کال دکلات په توخو کښې زیږېدلې ده نازوډېره میړه مخې ښځه وه ، چې دخپل کور او کهول ساتنه به يې دمیړنیو نارینو په ډول کوله، نازوانا دمیرویس خان نیکه مور او دښاالم خان توخي میرمن وه ، چې میرویس خان ته يې تل دمیړاني درسونه ورکول اودمیرویس خان په پښتني روزنه کې شپې روڼې کړي دي . اودهغه په روزنه کې ډېري بې خوبۍ اوکړاونه تیرکړي دي اومیرویس خان ته يې په پښتني میني اولوړهمت درسونه اودهیواد پالني په ډېر ښه توګه ورښوولي دي چې دپښتنو دلوړو مسؤلیتونو دندي يې ورپه ګوته کړي دي. اوهمدغسي دپښتنو دلوړو شخصیتونو او پاچهانو کیسي يې دمیرویس خان ترغوږه وررسولي دي ،هغه ته يې دحماسو اوازدئ درسونه ورکول ، نازوانا دافغانستان په خاوره کې یوه نوموړې مور، نومیالۍ او ښه شاعره تیره سوې ده.

زینبو ( ۱۷۲٥م کال ) :

زینبو دمیرویس خان نیکه لور اود ښاالم خا ن لمسۍ وه.دوخت زده کړي يې دنورمحمد غلجي څخه وکړې ، هغه ډېره هوښیاره او دوخت په علومو پوه ښځه وه ، زینبو په حکومتي اودواکمنۍ په دندو او کړنلارو ښه پوهیده ، چې زیاتره وختونه به يې په دولتي چاروکي وشاه حسین هوتک ته په رسمي او دولتي چاروکي سلاوي اومشورې ورکولې . همدغسي دخپل وخت ډېره نوموړې اووتلې شاعره وه ، چې دشاه محمود هوتک ویرنه يې هم ویلې ده.چې په ورسته کي به يې په بشپړه توګه په لرغوني ادبیاتو کي ولیکو .

پیروژه هوتکه اورښا نا صره اووړانګه هوتکه :

پیروژه هوتکه ـ رښاه ناصره ـ اووړانګه هوتکه داهغه توریالۍ ښځمني او ننګیالۍ سپاهیاني وې چې همیشه به يې دهیواد ساتنه په میړانه سره کول ، څه وخت چې نادرافشار زموږپرهیواد یرغل وکړ او دکندهار محاصره يې ولګول ، دې میړه مخو ښځو او پیغلو چې لښکري او جنګي زده کړي يې کړي وې ، دمړونو اونارینو په څیر په عسکري لیکو کې توره په لاس ولاړې اودښځینه لښکروګروپونه يې جوړکړي وه دکلا ساتنه او پیرې به يې کولې ، دوي وپښتنو جګړنانو ته دجګړې دتودیدو سند ري هم ویلې . لکه چې وایي :

مه خوری مړوند ونه پرمخ درواخلۍ غټ ګامونه

مه خوری مړوندونه

چي برى نـــــه وي ځلميان تل په جـــګړومړينه
مه خورئ مړوندونه

زرغونه انا ۱۷۲۲م ـ ۱۱۳۵هـ ش :

زرغونه انا دزمان خان سدوزي ميرمن ، اود لوى احمدشاه بابا مور وه ، زرغونه انا په قوم الکوزئ وه ، دمړيني پوره نيټه يې نه ده معلومه خو په تقريبي ډول په ۱۱۸۰هـ ش کال داحمدشاه بابا په ژوند کي داوياوکالوپه عمروفات شوې ده .اودارغنداب درود پرغاړه دکوهک په کلي کي خاوروته وسپارل سوه (روح دې ښادوي ) .

زرغوني انا واحمدشاه بابا ته په رسمي او دولتي کارونو کي ډيرې مشورې ورکولې او هغه يې وډيرو مهمو پيروزيو ته ورساوه ، نولکه چي احمدشاه بابا دبابا لقب ګټلى دى همدغسي زرغوني هم دانا لقب ګټلى دى ، څه وخت چي په ۱۱۷٤هـ ش کال کي دپښتنو مشران سره راټول سوه اودامنيت دساتلو په خاطريې دکندهار پرشاه وخوا ديوه لوى خندک او غټ ديوا ل دجوړيدو نخشه وترل نوپه دې وخت کي زرغونې انا ته خبر ورکړل سو.هغې سمدلاسه خپل زوى احمدشاه وکورته راوغوښت اوورته وې ويل:(( زويه !داخبره ټينګه په غوږکي ونيسه.... چي پښتون هيڅکله دخاورو ديوالوته پناه نه وروړي .اونه په خندقونوځان له غليمه خوندي کوي . پښتون دخداى په مرسته اوپه خپلومټو ځان له غليمه خوندي کوي ، که ته پښتون وې ، نوبايد دپښتنو هيواد وساتې ؛ نه يوازي خپل ځان ، خپله کورنۍ يا يوازي ښار ؛ دښار دباندي پښتانه اونور مسلمانان هم پرتا حق لري )) .

پسله هغه احمدشاه بابا دهند په سفرووت او ډيري فتحي ترلا سه کړې .

بل هغه وخت چي احمدشاه بابا دهند په سفر ولاړى دښمن اوازه واچول چي احمدشاه سخته ماته کړې او ډيرلښکر يې تباه سوي دي او په دې خبر سره دښاردخلکو روحيات کمزوره سوي وه او په ښارکي دماتي اوازې يو ځانګړې ناارامي رامنځته کړې وه چي زرغونه انا بيا ميدان ته راووتل او دښار خلکوته يې داسي اتمنان ورکړاووې ويل : (( پيروزي او ناکامي اول ټوله دخداى له طرفه وي . خو زه دومره پوهيږم چي زما زوى ناکامه او بيله فتحي څخه وتاسوته نه راستونيږي ، زه داحمدشاه پربرياليتوب باورلرم .)) نوداسي معلوميږي چي داحمدشاه دپيروزئ شاته دنوروعواملو برسيره دهغه مور دزرغوني انا لاس په ځانګړې توګه ارزښت لري ، زرغونه انايوه پوه ښځه وه .

سپينه ۱۸۳۹م کال :

سپينه ددورمحمد الکوزي لور اوپه پښتني نرئ کي يوه ښه اونامداره شاعره هم وه . چي په ۱۸٤٥م کال کي په هرات کي ژوند کاوه . او دهرات دکلا بندئ حال اواحوال يې په يوه حماسي منظومه کي بيان کړى

دى . دسپيني نوموړي حماسوي ديوان دادبي ارزښت اوښيګنو پر څنګ تاريخي او ملي ارزښت هم لري .

((دپټي خزاني ارزښت په لرغونو پښتو ادبياتو کي))

مخکي له دې چي دوهم فصل پيل کړو، لازمه ده چي پرضرورت يې لږڅه رڼا واچوو.دپټي خزاني په مرسته مو ږپه دې وتوانيدو چي دپښتو لرغونى تاريخ داسلامي پير پوري روښانه کړواو داجوته سوه چي دپښتو لاسته راغلى لومړى شعر داسلام دلومړئ پيرئ په پيراودوران کي تثبت دى . اوهمدغسي داڅرګنده سوه چي داسلام نه مخکي هم پښتو ژبه يوه علمي او ادبي ژبه وه .او پاخه شاعران ،اديبان يې درلوده . که څه هم موږيې دبده مرغه کومي ادبي ټوټې او يا کتابونه نه لرواو يوازي دبعضونومونه راته ذکر سوي دي . خو دپټي خزاني اهميت په دې کي دى ، چي دپښتو ادبي ليکنې ئې څوسوه کاله مخکي کړې. تر پټي خزاني مخکي موږ يوازي دروښانيانو اوخوشحال خټک دپيرعلمي ـ ادبي کتابونه اوتاريخي لاسته راوړني درلودې.مګردپټي خزاني په ليکلو او کشف سره نن ورځ ادبي بهير پياوړي سو.دپټي خزاني افتخار په پرله پسې توګه ددغوکسانوسره تړلى دى.لومړى ترهرڅا محمد هوتک چي پټه خزانه يې ليکلې ده او بيا خپله دوخت علم پالونکى پاچا شاه حسين هوتک ، چي علمي ـ ادبي ټولنه يې ودې ته هڅولې وه چي پخواني کتابونه او پښتو خزاني په ښه ليک وليکل سي.بيا عبدالعلي اخوندزاده تر معاصروخته هغه ساتلې اوخوندي کړې وه.اوپر ډيرښه وخت يې استاز

پوهاند عبدالحي حبيبي صاحب ته ور وسپارل او هغه پسله ډير زيار او زحمته پټه خزانه دګټي وړوګرزول .چي دسردار محمدنعيم خان په امر سره چاپ اوخپره سوه . دپښتو لرغونی ادب ددغوکسانو څخه په مننه چي نوموړی بې ساري خدمت يي پښتو ژبي ته کړيدی.زموږ ددې کتاب غوره برخي دغه درې څپرکي دي .چي لومړۍ برخه يې دپټي خزاني نه مخکي برخه وه.چي دمهمو کسانو بښول وه. دوهم څپرکی:هغه کسان چي دکلام نمونې زياتره دپټي خزانې په وسيله ترموږپوري رارسيدلي دي.
دريم څپرکی: ورسته تر پټي خزاني دحمدشاه بابا تر پيره پوري به ورسيږي.

دوهم څپرکی

که څه هم دپښتو ادبياتو لمن ډيره پراخه ده. خو ما په ځانګړې توګه يوازي دلرغونو ادبياتو هغه برخه رااخيستي ده کوم چي دتاريخ په اوږدوکي دپښتواوپښتنو دادبي تاريخ ځلانده ستوري وه. اوپه خپل وخت کې پوره نوم اونښان درلود.اوهرستوري په خپل نوبت دخپل پير يوه ځلانده روښنايي خپروله.نوموړ.اوس دهغوی نومونه په ډيروياړسره ياد کړي دي. ددغو ستوروپه باب که څه هم ډيري يادوني سوي دي خو هر ليکوال بيا په بيلو ،بيلو حالتونو کي دلرغونو ستورو يادونه کړې ده ، اود لرغونو ستورويادي ځلانده اوتازه ساتلی دی. په همدغه دوهم څپرکي کي دهغه شاعرانو نومونه او د شعرنمونې يا ديږي کوم چي زموږ ادبي
تاريخ په وياړلی دي ، که چيري موږ دپښتو ادبي تاريخ ته ځير شو يولږ پښتنو ليکوالو په خپلو تاريخي شرايطوکي دخپل وخت او دهغه څخه مخکي شاعرانو ، ليکوالانو او دقلم دخاوندانو نومونه ليکلي دي چي داکارئې واقيعاً مهم اوارزښت ناکه وه او دی ؛ که دبيلګي په توګه موږ دسليمان ماکو تذکرت ال اوليا نن ورځ په لاس کي لرو نودا تصادفي نه ده بلکي دسلمان ماکو دزحمت نتيجه ده چي اوس يي موږ دهغه دثمر څخه ګټه اخلواو لږتر لږه يي موږ ته دا جوته کړيده چي دپښتو ادبياتو تاريخ په ډير قوت سره داسلام نه مخکي او داسلام په لومړيووختونو کي په سيمه کي پوره ارزښت اومينه وال درلوده.او داچي پرسيمه ډول ، ډول تاړاکونه تيرسوي دي.او حتا دااوس هم تيريږي،لکه څنګه چي دپښتو ادب تاريخ غني دی په هغه اندازه يي موږ بشپړه مواد او کتابونه په لاس کي نه لرو . خو دځينو پښتنو په زيار اوزحمت سره موږ ته په اسلامي پير کي دامير کروړ حماسه په ميراث ديوه نسل څخه وبل نسل ته راپاته ده او بيا دمحمد بن داودبن قادرخان هوتک په زيارد‌پښتنو دستر ټولواک شاه حسين هوتک په پيرکي دهغه وخت دعلمي ـ ادبي انجمن په پاملرنه پټه خزانه اودپښتو ځيني کتيبي او دتيرو وختونو قلمي نخبي اونخسي سره راټولي سوې ، چي دهغه څخه هم ځيني يې زموږ تر پير او وخته را رسيدلي دي . خوځيني بيادتاريخي حواديثو اوپيښو په وجه يا په شعوري توګه له منځه ولاړې اويا هم دتاړاکونو په وجه له منځه تللي دي.اواوس زموږ په لاس کي نه سته،خو ديادولو وړبولم چي وليکم دشاه حسين هوتک دعلم پروره پاچا په پا ملرنه سره پښتو وخپل غني اوج ته رسيدلي وه. اوپه سيمه کي دسيالو ژبو په څير دپاملرني او ضرورت وړ ژبه بلل کيده . دپښتو ليکلي کتابونه اواثار دمغولي دولتونو په وختونو اوتاړاکونو کي خورا لويه برخه په اګاهانه توګه وسوځل سوه. چي په همدغه سبب پسله هوتکيانو څخه چي نوموړی هيوادپه جنګونو کي را شکيل يو هيواددی ، موږډير پخواني غني موادله لاسه ورکړي دي او نولرغوني مواد په ډيرکم کميت موږته راپاته دي.هغه څه چي موږ لرو بيا هم ډيره برخه يي دمحمد هوتک په زيار دجوړي سوي پټي خزانې احسان دی ، چي زموږ ليکلي ادبيات په عزتمند دي . خوپټه خزانه هم په جنګو اوتاړاکوکي تاواني سويده او داچي نوموړي دپښتواوپښتنو ادبي خزانه په کال (١١٤١ ـ ١١٤٢هجري قمري) کي دلوړي ځل دپاره په يو لږقلمي نخسوکي دخطاطانو(ليک ګرو)په وسيله وليکل سوه ، دهغه وخت ملي ادبيات په پوره توګه په غني کړل سوه ، خوپسله هغه چي نادرافشار پرسيمه خپله قبضه ټينګه کړه اوشاه حسين هوتک يې بندي وايران ته واستاوه نو دپښتوادب هم په دې وخت کي خاموشه سو . خو دعليحضرت احمدشاه بابا په پير کي بيا پښتو ادب وخپل نوي پړاوته ولويد اوخپله احمدشاه بابا هم يو علم پالونکی او شاعر

پاچاوو. خو دپښتو هغه ادبي انجمن چي دهوتکو په وخت کي فعاله وو، بيا هغسي روښانه لاره يې ونه موندل .
پټه خزانه چي د١٠٠٠ـ ١١٠٠هـ پوري دوخت دشاعرانواوادیبانو حالات بيانوي د٥٠تنو شاعرانو په باب معلومات لري . نوموړی کتاب په ١٣٢٢ هـ ش کال کي واستاد علامه عبدالحي حبيبي صاحب ته داعلامه عبدالعلي اخوندزاده په لاس په امانت داری سره ورکړل سو چي عبدالعلي اخوند زاده دغه استعداد په عبدالحي حبيبي صاحب کي ليده چي پټه خزانه به يوځل بيا دپښتنو په ادبي تاريخ کي لاري روښانه کړي . خو حبيبي صاحب هم نوموړی کتاب په پوره امانت داریَ سر نوموړی کتاب دپښتنو وادبي غونډوته وړاندي کړ او هغه دوخت دمقاماتو دپوره پاملرني وړوگرځيده او په ځانگړې توگه سردار محمد نعيم خان چي په دې وخت کي دخارجه چاووزيراود صدارت مرستيال وه هغه ددې کتاب ارزښت په پوره توگه درک کړ، اوپه همدغه توگه دوخت علم پالونکی دښوني اوروزني وزير ښاغلی داکتر علي احمد پوپل دنوموړي کتاب په چاپ کي په پوره دلچسپۍ سره نوموړی کتاب خپور کړ . اوڅه وخت چي ټولني ته وړاندي سو ټولني هغه په ډيره دلچسپي سره ومانه .اوپه ځوانه طبقه کې يو ځانگړی ړوگ اومينه راپيداکړه .او په پښتني بهيرکې يو لوی حرکت راوهڅاوه ، په دې نوي کشف سره دپښتو ادبياتو په بهيرکي دتحقق نور ي هڅوني راپيل سوې ، او پسله هغه دپښتو پرادبي بهير داسي تحقق راپيل سو، ليکوالانو بيا په خپل وار سره نوره هم دپښتو ادبياتو لمن پراخه کړه .
داځکه چي دځينو هغه لرغونو ليکوالانو نومونه چي په ځينو تاريخي سندونو کي يادسوي وه او دکلام نمونې يې دپښتنو په ليکلواثاروکي نه وه هغه دپټي خزانې په وسيله را پيداسوه اودليکوالانوځيرني يې نوري هم ورغني کړې .او همدغسي دلرغوني ادب پرليک دود بحثونه راپيل سوه او هغه سوچه لغاتونه چي په لرغونو ادبياتو کي وموندل سوه دبيا لپاره بازارته راووتل او خريداران يې پيداکړه اودنو لغاتونو او اصطلاحاتو ريښې او بنيادونه په تقويه سوه .او هغه وخت چي پټه خزانه خپره سو او بازارته راووتل په ډيرلږوخت کي هغه دخلکودغوښتنوپه اساس دخلکو لاس ته ورغله او ډيرژر خلکورانيول او بيا يې ددوهم پلادخپريدو ضرورت پيداسو. او همدغسي په وارو، وارو خپره سو چي اوس يې بياهم دخپريد اړتيا سته .
خو په هر صورت پټه خزانه يو مهم کتاب دی چي په دغه دروبرخوکي خپره سوې ده .
١ ـ هغه شاعران چي دهوتکوله پير څخه پخوا تيرسوي دي .
٢ ـ هغه شاعران اوليکوال چي دهوتکو په پيرکې ليکني کو لې .
٣ ـ هغه ښځينه شاعراني پيغلي اودميره خاونداني چي شاعري يې کول اوادبي ذوق يې په ځان کي پاله .
دهوتکوپه پير اودهغه نه مخکي دوران کي . دپښتوپه لرغوني ادب کي پټه خزانه يومهم کتاب دی نو ځکه موږ اوس په خپل دغه کتاب (( ډيرلرغوني پښتوادبيات)) ډيربرخه ممکن له همدغه پټي خزاني څخه ترلاسه کړو نوپه دې لرغونو ادبي ستوروکي موږ بيا هم خپل لومړنی کار دامير کروړ ده لاس راغلي شعر څخه راپيل کوو. ځکه چي نوموړی شعر په ليکلو متونوکي په تاريخي لحاظ لومړی لاسته راغلی شعر بلل کيږي. چي دپټي خزانې په برکت اوس موږ ته دپښتو ادب په باب يوه روښنايي راپه گوته سوه ، خو مخکې له پټي خزانې موږ دروښاني کورنۍاو خوشحال بابا دکورنۍ پرادبي بهير يوازي خبري او بحثونه کول. داداسي دور اودوران وچي په دې وخت کي مغلو پرسيمه پوره واک ترلاسه کړی وو.او پښتو ژبه يې په ادبي لحاظ تر خپلو اغيزو لاندي را وستلې وه او په دربار کي رسمي ژبه دري يا پارسي ژبه وه ، او ودربارته لاره بيله پارسي ژبې دزده کړي څخه ناممکنه کارۀ ، نوپه دې سبب پارسي ژبه رسمي ـ اقتصادي اوعلمي ژبه وه. نو په سيمه کي دتوجه وړهم وه او خوشحال بابا په دې وخت کي په پارسي ژبه هم پوهيده اودخپلي ژبې دخدمت په باب داسي وايي : پارسي شعرمي هم زده سليقه لرم ددواړو

پښتوشعرمي خوښ شوهرڅوک خپل گني ښاغلی

په وزن په مضمون په نزاکت هم په تشبه کي

پښتوويل مي عين ترپارسي دي رسولي

په دې وخت کې پرخوشحال خان برسيره مخکي دوره دروښانيانو دوره وه چي تر بحث لاندي وه.اوليکني پرکيدې. ولي زموږ دپاره دپټي خزاني مواد اودپښتو متون نظم ساحه نوره هم ارته سوه . په پټي خزانې کي داميرکروړحماسه،دشيخ اسعدسوري ويرنه اودښکارندوی دپسرلي مدحه قصيده وه چي په واقيعت کي ډيرپه زړه پوري ادبي اثاردي ، خوبيا هم په يوه ګل نه پسرلی کيږي . خو په هر صورت نن چي ديوشتم قرن پيل ګڼل کيږي په پښتو ادبياتوکي هم په هره برخه کي بې شميره نوښتونه راغلي دي او لمن يې په پوره وضاحت سره پراخه سوې ده . اوبې شميره متنونه په ډول ، ډول فورمونو کي خپاره سوي دي . اودادبياتو ساحه په نظم او نثرکي پوره غني موادلري . چي موږ به يې په ترتيب سر وڅيړو،خوترټولو مخکي او مهم کار به موپه دوهم څپرکي کي داوي چي دادبياتود تيوری په با ب هم دادبياتوپرمهمواصطلا حاتوڅه ناڅه وږغيږو تر څو مو دپښتو ادب علمي برخي سره را جلاکړي اوردښانه کړي وي ، پښتو ژبه نن هم نثر لري اوهم نظم چي موږ به يې دواړه برخي تر خپل وسه وڅيړو او همدغسي دنظم مهمي برخي او دنثر مهمي برخي .

متــــــــــون

متن څه ته وايي ؟ : ـ متن په لغات کي ديوه شي څنډ يا شاه ته وايي.

اوديوه شي ضد ته هم ويل کيږي، خوپه اصطلاح کي دنظم اونثر ومجموعي يا ټوټوته وائي .چي دليکوال او شاعرتحليل او تفسير ولوستونکوته وربښوي ، چي ليکوال يا شاعر په کوم طرزاو طريقه خپل احساس ټولني ته وړاندي کوي ، او په کومو ژانرونو خپل انعکاس ښي .

په ليکنه کي هر اليکوال يو ځانګړی سبک لري، چي موږ هغه دليکنو له مخي پيژندلای سو او يوليکوال له بله دهغه دسبک په وسيله بيلولای سو،چي نوموړي ليکني به يا په نظم سره وي اويا هم په نثر.چي د هرليکوال اثرپرلوستونکي باندي په خپل وارسره اغيزي لري، لو ستو نکی خوند ځيني اخلي او دهغه پرذهن تاثيرخپروي دانوکه په نثر وي يا هم په نظم ونوموړي ليکني ته دليکوال متن ويل کيږي. دمتن مجموعه متون بولي اودليکني هره يوه برخه په جلا ، جلا توګه متن ګڼل کيږي .

داهغه اصطلا حات دي چي مخکي له دې چي موږ دلرغونو ادبياتو په پيژندلو پيل وکړو لازمه ده چي دغه اصطلاحات په پام کي ولر و.داځکه چي هره ليکنه يا متن دځان دپاره غايه او هدف لري او يومتن له بله سره په بلاغت ، املا ، انشاه ،بديع او بيان عروض او کافي له مخي فرق کوي ځيني يې پاخه ليکل سوي او ځيني بيا يواندازه خام وي ، خو په هرصورت متن بايد له عايې له مخي پيغام ، ابتکاردکليمو اوترکيبونو صحيح جوړښتونه ولري . متن په دوه ډوله دی لکه مخکي چي مو وويل نظم اونثر خوبيا هم نظم يو عربي لغات دي چي دمرغلرو پيلو ته وائي ، ولي په اصطلاح کي هغه کلا م ته وايي چي موزون او مقفې وي.

په پښتو ژبه کي درې ډوله نظمونه تر سترګو کيږي .

لومړی : آزاد نظم يا شعرهغه ته وائي چي وزن ولري ليکن دکافي ډيره پابندي په کښي نه وي.چي په اوسني وخت کي ودې ډول شعرنواو نظمونو ته سپين شعرهم وائي .لکه لنډی ، نيمکی،څلوريځي، بکتۍ نارې او ږغونه.چي په فلکولوريکو پښتو ادبياتو کي ځانګړی ځای لري.

دوهم کافيه داره نظمونه يا شعرونه:داهغه ډول شعرونه دي چي دعربي او فارسي نظمونوپه قاعده ويل کيږي،دعربي وزنونوتابع دي اودې ډول نظمونوته عروضي نظمونه هم ويل کيږي.چي ډولونه يې دادي : قصيده ـ غزل ـ ربا عي ـ قطعه ـ مستزاد ـ مخمس ـ مسد س ـ معشراونور....

دريم مسجع نظم : ـ مسجع شعرونه هغه خواږه او په فصيحه اوروانه ژبه ليکل سوي متنونه دي چي په يوه اندازه سره شعري قافيه هم په کښي ځای سوې وي اودوزن څخه هم خالي نه وي نوموړي شعرونه چي دمسجع کافي لرونکي شعرونه دي پراوريدونکي باندي اغيزه کوي او په ډيره چټکي سره په ذهن کي ځای نيسي ، اوپه دې ډول شعرونوسره په بشپړه توګه کتابونه ليکل کيدای سي. او کيدای سي چي يوه موضوع يا څوموضوعګاني ديوه ځانګړي کتاب په همدغه مسجع شعرسره وليکل سي.اوزموږ يولړمقدس کتابونه هم په همدغه ډول شعرونوسره ليکل سوي دي .لکه : قران عظيم الشان ـ بايبل ـ خيرالبيان ـ مخذن اسلام اوداسي نور مقدس کتابونه ددغه ډول متن لرونکي اثاردي.

پیرروښان په خپل نهضت کې لومړی سړی ؤچې دوحدت اوجود فلسفي مکتب خښته یې کېښوده.اوخپل علمي کتاب یې په پښتوژبه ولیکی.په دې کتاب کې چې دپښتوژبې لومړی مسجع بشپړه علمي اثردی. پرعلمي محتوا برسېره ادبي لوړ خیالونه هم په کښې نغښتي دي. چې شاعرانه الفاظ ، ادبي کلمات ، اصطلاحات بدیعي صفتونه یادولای سو.

دفارسي او عربي ژبو څخه یې ځینې ادبي الفاظ واخیستله او په پښتو ژبه کې داخل کړه ، ډیرعربي ایاتونه اوفارسي جملې یې پښتو ژبې ته راواړولې .دتصوف او عقید ت مقامونه یې په خپله مورنۍ پښتو ژبه توضیح کړه ، دپښتو ادبي ژبه یې محاورې ته نژدې کړه ، چې په دې ترتیب دخیرالبیان دلیکلوڅخه اصلي مقصد دپښتو متن دی ، چې دخپل وخت دپښتو ستره ادبي نمونه ګڼل کیږی. کوم چې دافغان ولس او پښتو ادبیاتو په تاریخ پوري اړه لري . داچې خیرالبیان په مذهبي ایډیا لوژی ولاړ یو کتاب دی په خپل وخت کې دمیرزاخان انصاري دپلویانوله خوا به لوستل کیده.او نراوښځي پلویا ن یې درلودله ؛ خو په همدغه اندازه یې مخالیفین هم درلودله،لیکن زموږموضوع دهغه وخت دسیاسي جنبشونو دتشریح څخه نه ده، نو ځکه پر موضوع باندي ډیر بحث اوس نه کوم .او دموضوع په اړونده به بیا په مفصل ډول ولیکو اودروښاني پیر خصوصیات به هم دهغوی دادبي بهیره څخه ترلاسه کړو.

پښتو ژبه چې دتاریخ په اوږدوکي دبهرانونو او ستونزو سره په وارو وارو مخامخ سویده، خونن ورځ بیاهم دپوره تاریخي اسنادو په وجه یوه علمي او دپاملرني وړژبه ده. او دخپلو نورو همسایه ژبو په تناسب لیکلي اثار لري.او که ترفارسي ژبې یې ارزښت ډیرنه وي خو کم هم نه دی . په داسي حال کي چې په وارووارویې لیکل سوي کتابونه ورک او په اګاهانه توګه ددښمن په لاس سوځول سوي هم دي اوخپله پښتانه ددو داسي هیوادونوپه منځ کي پراته دي لکه تاجکیستان اوایران چې پوخ ادبي بهیراودفارسي ژبې لرغونی تاریخ لري، برسیره پردې هروخت چې مغلو اونورو بیګانه وو، پردې هیواد برلاسي ترلاسه کړیده نو یې دپښتو دتمدن دله منځه وړلودپاره هم دهیڅ ډول ظلم څخه ډه ډه نه ده کړې . لکه څنګه چې موږاوس د۱۹۹۲م کال څخه ورسته په خپلو سترګوپه اوسني وخت کي وینوچې دعلومو اکاډمی ډیره پخه شتمني ، قلمي نخسي،دموزیم تاریخي څیزونه او پښتو لیکلي کتابونه دکتابخانو څخه چوراوتالاسول.اوډیرودښمنانودپښتوپرتاریخي کتابوباندي د جهیلي اثاروا وکتابو ټاپه هم ووهل ؛ خو دپښتنو په همت او تلا ښ سره هغوی بیا هم وکولا سوه چې پښتو یوه علمي ژبه ، دضرورت وړژبه او دیوې ادبي اوتاریخي ژبې په څیر نړی ته وښوي.

نن ورځ په پښتو لیکل سوي اثاروکي هرډول علمي ـ ادبي ، تاریخي اونور دضرورت وړکتابونه لیکل سودي او دمینه والو ادبي او علمي تند پرې ماتیدای سي. خودلته موږدلرغونوادبیاتو په دې لړکي دهغه لیکل سوي کتابونو،شعرونواوادبي اوعلمي خپاره سوه اثاروپه باب خبري کوو کوم چې زموږ په لاس کي سته او چې بیا هم په دې باب دپټي خزاني غني مواد زموږسره په هراړخیزه توګه مرسته کولای سي خو پرپټي خزاني برسیره هغه کتابونه چې پسله پټي خزاني یا وروسته تر پټي خزاني زموږ دمحققانو په لاس ورغلي دي، دهغوپه مرسته به زموږ نوموړی کار بشپړه سي او اوس موږ خپل کار دپښتو دلومړي لاسته راغلي شعر امیر کروړ دحماسي څخه راپیل کوو.

امیرکروړ یا جهان پهـلــوان

۱۳۹ هـ شاوخوا

زه یم زمری پردې نړۍ له مااتل نسته
په هندوسیندو پرتخاراوپرکابل نسته
بل په زابل نسته          له مااتل نسته
غشی دمن مي ځي بریښناپرمیرڅمنوباندي
په ژوبله یونم یرغالم پرتښتیدونوباندي
په ماتیدونوباندي          له مااتل نسته
زمادبریوپرخول تاویږي هسک په نمنځ وپه ویاړ
دآس له سومي مځکه ریږدي غرونه کاندي لتاړ

کړم ایوادونه اوجاړ      له مااتل نسته
زما دتوري تر شپول لاندې دی هرات او جرم
غرج وباميان وتخار بولي نوم زماپه اودوم
زه پيژندويم په روم      له مااتل نسته
پرمروزماغشی لوني ډاري دښن راڅخه
دهريولرودپرڅنډوځم تښتي پلن راڅخه
رپي زړن راڅخه      له مااتل نسته
دزرنج سوبه مي دتورې په مخ سوروکړه
په باداری مي لوړاوی دکهول دسوروکړه
سترمي تربوروکړه      له مااتل نسته
خپلووګړولره لور پيرزوينه کوم
دوی په ډاډينه ښنه بامم ښه يې روزنه کوم
تل يې ودنه کوم      له مااتل نسته
پرلويوغرومي وينادرومي نه په څنډوپه تال
نړۍ زماده نوم مي بولي پردريځ ستايوال
په ورځوشپومياشتوکال له مااتل نسته

اخځليک :

دمحمد بن هوتک بن داودپټه خزانه

دپښتو ژبي وتاريخي سيرته که ځيرسو نو موږته دپښتو ژبي درې پړاونه راته څرګنديږي ، چي نوموړي پړاونه په مقايسوي ډول ، تاريخي ډول او دړغ پيژندني يا فونولوژۍ له مخي هرپړاويي له بله پړاوه سره توپير لري.

داميرکروړ داميرفولادزوی دغور دمنديش اوسيدونکی دپښتوژبي پوخ شاعردخپل وخت دقلم اوتوري دميدان ميړنی چي پورته شعر يې ديوې بيلګي په توګه موږته دپټي خزاني په مرسته راپاته سوی دی ، دشعرپه ډول کې دعربي ژبي او فارسي ژبي اغيزې په ځان کي نه لري.او په سوچه توګه دپښتو ژبي دلرغوني دورې لغاتونه او ځانګړني لري.

پښتوژبه لکه څنګه چي مووويل په تاريخي لحاظ ددروپړاونو څخه راتيره سوې ده لکه : زړه يالرغوني پښتو- منځنۍ پښتو اومعاصره يا اوسنۍ پښتو.چي نوموړي درې پړاونه يودبله توپيرسره لري ، اوس زموږ دبحث موضوع زړه پښتوده .

زړه پښتو : ـ دا په تاريخي لحاظ داسلام څخه مخکي پښتو ژ به وه ، ا و د اهغه ژبه ده چي د سا کي ژ بي تر مړه کيد و وروسته رامنځته سوه اوپه دې وخت کي دعربواواسلام اغيزي پرسيمه اونړۍ باندي نه وې.پښتو ژبه تراسلام مخکي اويا هم داسلام ددين سره همزولې ادبي ژبه وه. نو ځکه يې داوخت سوچه پښتو بولو. اولکه څنګه چي دپورته حماسوي شعرڅخه څرګنديږي چي خورالرغوني پښتولغاتونه په نو موړي شعرکي استعمال سوي دي ، او ترډيره حده نوموړي لغاتونه اوس په بشپړه توګه په پښتو ژبه کي نه استعماليږي ، خو په ځينو هندي ژبوکي تراوسه لا هم دهغه اريائي ځانګړني له مخي داستعمال وړدي دبيلګي په توګه داميرکروړپه شعر کي د(من) کلمه راغلې ده او من دارادي په معنا ده خواوس په اردوژبه کي هم نوموړی لغات دارادې په معنا سره استعماليږي يا هم دپلن توری چي اوس په ځينو ژبوکي دميدان په معنا استعماليږي .خوڅرنګه چي اميرکروړداسلام په لومړيووختونوکي يعني۱۳۹هـ کي قدرت ته رسيدلی دی نو داهغه وخت وچي پرعربوداميرمعاويه

حکومت چلیدی .او په دې وخت کې په افغانستان کې ابومسلم خراسانی دخراسان واکمن ؤ. داهغه وخت دی چې زموږ پرخاوره دپردیوعربوآسان اونیلان په څغاسته راڅغاسته وه. او پردې مظلموخلکویې بې حده ظلمونه کول ، ترڅوچې د خراساني ابومسلم په نامه یوځلمی دسیاست ډګرته راووت او مورخین دهغه یادونه داسې کوي:(( عبدالرحمان ابومسلم په ۷۲۰م ـ ۱۰۳هـ ق کال دافغانستان دشمالي سیمود(( سپیدژ)) اوسنی سرپل کې زیږیدلی دی)) هغه زده کړه کړې وه او په عربې ژبه په فصیح ډول پوهیده ، په ۱۹ کلنی کې دسیاست وډګرته راووت اوپه لږوخت کې دخلکوملاترترلاسه کړ. او داموي دولت دظلم په مقابل کې دعباسیانو سره یوځای سو ،کوفې ته ولاړی اودعباسیانود لویانوسره یې وکتل اوبیرته خراسان ته راستون سواوپه ۷٤٦م ـ ۱۲۹هـ ق کې په خراسان کې داموبانودمشردسیارزوی دنصر په مقابل کې دمبارزې تور بیرغ راپورته کړ.اوخپله یې هم تورکالي واغوستل او په لنډوخت کې دخلکوپه مرسته هرات ،مروه ، بلخ ، بامیان تخارستان اوداسې نور په خراسان پوري تړلي ځایونه له نصره څخه ونیول اوداموبانو ړنګول یې اعلان کړه اوعباسیانو ته یې وګي وروسپارلې اوځان یې دخراسان شهنشاه اعلان کړ.

که څه هم ابومسلم خراسانی دامیرکروړدپلارامیرپو لاد په ملاتړډیر قوي سواومرکزیې په دې وخت کې دغور په مندیش کې ؤ، اوابومسلم خراساني ته دشام دولایت اومشرتابه دنده هم ورسپارل سوې وه، خو هغه دطبعي سرمستی او آزاد خیالی په وجه عباسي خلیفه ګانوهم تحمل نه کړای سو. اودهغه دمحبوبیت څخه په ډار اوبیره کي سوه او دعباسیانو خیلفه منصور وابومسلم خراساني ته دمیلمستیا په نوم یو پیغام راواستاوه او ابومسلم هم هغه ومانه خو ددغه چل په اساس یې دشپې له خوا دیولږنوروميلمنوافغانانوسره یوځای په بیر حمئ سره دخپلوجلادانو په وسیله یې مړه او ټوټې ټوټې کړه. او دخراسانیانو وچوني ته یې دهغه دککرئ ټوټې ورواستولې ، چې نوموړې پیښه په ۷٥٤م ـ ۱۳۷ هـ کال پیښه سوه او پسله هغه دافغانانو او عربو تر منځ هم سخت جنګونه وسوه ، چې په دغه وخت کې امیرکروړدامیرپولاد زوی چې د ابو مسلم خراساني ملګری ؤ،خپله سیمه خپلواکه اعلان کړ ه.او په پورته شعرکې په پورته ډول سره خپل جغرافیاوي حد و د داسې وټاکل.اونوریې نوپردې سیمې دپردیو لاسونه لنډکړه ؛ که څه هم دامیر کروړ په باب ډیروکتابونو څه نه دي ویلي ، خو علت به یې داوي چې تر ډیره حده په افغانستاکي ډیرعلمي اثار دجنګوپه وجه له منځه تللي دي چې له دې جملې څخه تاریخي سوري کتاب چې دخپل وخت ډیري مهمي پیښي یې خوندي کړي وې اواوس زموږپه لاس کې نه شته اویوازې منهاج السراج دومره یادونه کوي یا کړې ده، چې دامیرپولاد دوه زامن واکمنان وه؛خو تاریخي سوري دمحمد بن علي البستي کتاب بیا دامیرپولاد دیوه زوی نوم دامیرکروړنوم اواشعارلیکلي دي.اودهغه دقلم اوعلمي ـ اد بي اشعاروستاینه ئې کړیده.اودپټي خزاني په حواله امیر کروړپه ۱۳۹ هـ ق کال ده غورپه مندیش کې امیرسو.

شیخ رضی او نصر لودي
د۲۰۰هـ شاوخوا

دالحاد په لوردي ترپلل
ګروه دې زموږ وکوراوه
موږ.رونلي په زیارنه
تاپه تورو توراوه
لرغون ولي ګروهیدلی
چې دې ګوښي اړاوه

هغه ګروه دې اوس اړه کړه
چې پـلرودې رڼاوه
لودي ستا په نامه سپک سو
کــه هرڅــومــو درنا و ه
نصره!نه مويې له کاله
لودي نه يې په کاوه
زموږرغاده ستا له ګروهه
دورځلوي په رغاوه

شيخ رضی اونصرلودي دواړه دشيخ حميدله کورنۍ څخه دي .چې رضی دحميدبابا وراره اونصريې زوی ؤ.د مؤريخانوپه قول ترشيخ حميد بابا ورسته د ده زوی نصر پاچاسو،خوشيخ رضی وسلطنت ته ونه رسيدی. محمد هوتک بن داودپه پټه خزانه کښي وايي : (... شيخ حميدبابا په ملتان کي پاچاسو، نويې خپل وراره وپښتونخواته ولیږی ، چې دهغوغـروخلک داسلام دين ته راوبولي ، شيخ رضی راغلی دوه کاله دکسي په غـروکښي ګرځيده اوهلته يې ډيرمخلوق مسلمانان کړه)) .
وروسته دشيخ حميدبابا له مرګه دده زوی نصردهغه په ځای کيناست، خوڅرنګه چې نصر ملحـدسوی يا اوښتی ؤ اودالحاد لاره يې غوره کړي وه .نو شيخ رضی چې سوچه مسلمان ؤنصرته يې ديوه پاړکي په ترځ کي هغه پورته شعر يا پاړکی وليکه ، خودی هم بې ځوابه پاته نه سو او دهغه په ځواب کي نصر لودي داسي وويل :اوپاړکی يې ورولږه .

دالحاد په تور تورن سوم ـ زه لرغون خوملحد نه يم
زما دښنه هسي توراکړي ـ که ملحـــديم ،د د ښنه يم
لـــــه اسلا مه نه ترپلمه ـ تـــورانوڅخه په ترپله يم
ګروه مي هغه لرغوني دی ـ اوس هم کروړپه لرغونه يم
داسلام پرهسک به ځلم ـ وتــــــــورانوته تيا ره يم
دلودي زوی سنتي يم ـ د حميد له لـــــــوړکها له يم
توراني دښن چي وائي ـ زه لــــه ګروهه په اړه يم
دايې تورتاسي دروهوي ـ زه مؤمن ستاسي په تله يم
ددښنو ويناوي مــــغږه ـ زه لـــودي يمه څوزه يم

نصرلودي چي دشيخ حميدبابا زوی وو ، دهغه نه ورسته پاچاسو خو دهغه وراره شيخ رضي سلطنت ته ونه رسيدی اودکسي په غره کي چي داوسني پښين علاقه ده په دغه شاوخواکي داسلام ددين دخپريدودپاره پوره تبلغ کاوه اواسلام يې هلته خپورکړ، اوخپله هم پوره مسلمان وو ، او په عيني وخت کي شيخ رضي اونصرډير ټيک ملګري او دوستان وه خو ويل کيږي چي په منځ کې يو ناحقه سوی تفاهم يا بې خبري راغلي وه.اويودبله يې خپلي دزړه غوټي په پورته پاړکيانوکي سره خلاصي کړې .اويواوبل ته يې دګيلي په توګه سوال اوځواب ورکړ. ليکن پير ز و ينه يې يوپربل خورا ډيره وه او هغه متل دی چي وايي : (( ګيله له دو ستـه کيږي )) همدغسي نصر او شيخ رضي دماشوم توبه سره ګران وه . خو ويل کيږي چي برسيره پردې ،چي ددوی دوترمنځ ډيري ښې اړيکي وې ، خودوخت دسياسي حالاتو په وجه او ددواړو دليري والي په سبب په مذهبي لاروکي څه اختلافات هم سره راغلي وه او په دې باب داسي هم ويل کيږي : نصردشيخ حميدزوی او دهغه دتخت مورث يا استازی چي په ملتان کې دملاحد له استازوسره کيناسته اوله دوی څخه يې دالحـاد اواسماعيلي فرقي عقايدزده کړي وه او په اصطلاح ګروهيدلی ؤ ، نوددوی په اعتقاد ملحد سو. او قرامطه ( اسماعيليه فرقه چي دحمدان بن اشعث پيروي کوي.) يې غوښتل رواج کړي او قرمطه ته يې خدمت هم وکړ. نو شيخ رضی چي سني او سوچه مسلمان ؤ، نويې په دغه ډول خپله اند يښنه ورته څرګنده کړه .
اونوموړی پاړکی يې ورواستاوه .

په دې باب : کامران خان دسدوخان زوی ، په سنه ۱۰۳۸ هجري کي يوکتاب د ( کليدي کامراني) په نوم وليکه ؛ چي په دې کتاب کي دشيخ احمد دسعيدالودي دزوی داکتاب چي په ٦٨٦هجري سنه کي ليکلی سوی ؤ،د شيخ لودي په باب يي په يوتفصيل کي د شيخ رضي اونصرلودي په با ب اودحميد په باب اودهغوی داړيکوپه باب دغه پورته يادوني کړدي .
او نوموړي کسان چي دپښتونخوا په شاوخواکي فعاله اودخپل وخت نامتومشران وه ، دخپل وخت ښه شاعران او دقلم خاوندان هم وه او په دې کي شک نسته چي دهغو دشعرو ډيري غوره نمونې به يې په خپل وخت کي موجودي وې خواوس زموږ دولس په لاس کي نه سته او اوس دستي دلرغونوادبياتوپه لړکي موږته دخپل لرغوني وخت دشاعرانو ډيري ليکني نه دي پاته ؛ اميددی چي په راتلونکووختونوکي به وموندل سي .اودادی دهغه دپاته سوليکنو يوه بله غوره نمونه په دې ډول ده .

ناري

که يون دی يون دی مخکي بيلتون دی
له کسي غره څه ځي خربنبودی
که وروره ،وروره خربنبون وروره
ته چي بيلتون کړې زما ويرته ګوره
چي ځي مرغي له توري کرغي له
همزولي پاته ځي څه برغــي لــه
دخدای ده پاره خربنبون ياره !
چي هيرمونه کړې زموږکهول واړه
زړه مي رپيږي يارمي بيليږي
بيلتون يې اوردی ځان په سوځيږي

کيسه خوداسي ده چي خربنبون او اسماعيل بابا په خپل منځ کي ډيرکلک اوپه يونظرملګري وه او دژوند يوه برخه يې په ډيره ښه انډيوالۍ کي سره تيرکړی ؤ ، يو دبله يې مينه اوپيرزوينه سره لرل نو ځکه اسماعيل بابا دخربنبون دغه جدائي ونه منلای سوه. او پورته ناره يې دوير په عنوان پسي وکړه ؛خو خربنبون هم مجبوره ؤ .اوپه داسي حال کي چي زړه يې نه غوښت چي بيلتون وکړي او دبيلتون په لار روان سي، نوئې داسماعيل بابا دځواب اوناري په مقابل کي داسي اح ! ترخوله ووت :
بيلتانه ناره مي وسوه په کور باندي
نه پوهيږم چي به څه وي پيښ په وړاندي
له خپلوانوبه بيليږم په سروسترګو
دواړه سترګي مي په وينودي ژړاندي
اسماعيله!ستانارومي زړګی سری کی
بيلتانه خربنبون بيا له تا پردی کی
نه هيريږي که مي بيا نه ستايادي کی
په چړودويربه پرې سي دزړه مراندي
ځمه ،ځمه چي اوږديون مي دی ومخ ته
ديانه ځوری به اچوم وترخ ته
ستاسي يادبه مي وي بس دزړه وسخ ته
که دامځکه غـرونه ټول سي لاندې باندې

کيسه خوداسي وه چي : کامران خان ابن سدوخان په ښهري صفاکي په سنه ۱۰۳۸ هجري کي يوکتاب وکيښ چي ((کليدي کامراني )) يې نوم وو ، په دې کتاب کي کامران له کتاب دشيخ احمد ابن سعيد الودي چي په سنه ٦٨٦هـ کې کښلی وواونوم يې (( اعلام الودي في اخبارالودي)) دغسي يې کښلي وه.اودهغه په روايت سره دموضوع اصلي کيسه هم په دې ډول سره ده : شيخ رضي لودي دشيخ حميدي لودي وراره وو ، په دې وخت کي شيخ حميدبابا په ملتان کي پاچاسو.اودسيمي اختيار اوواک يې درلود ، نويې خپل وراره وملتان ته واستاوه ، دا هغه وخت دی چي لا تراوسه په بشپړه

توګه اسلام ته پښتانه په ډېرو سیموکي نه دي مسلمانان سوي.او داسلام ددین بشپړه تبلیغ دهغه ځای وغرنیوسیموته لانه دی په بشپړه توګه رسیدلی ؛ نوشیخ رضي چي یوپوه اودخپل وخت یوعالم سړی وو.نودهغه ځاي دغرونوغرني خلک یې داسلام ومقدس دین ته راوبلل. او اسلامي تبلیغ یې په خلکوکي خپورکړ.اودشیخ رضي تبلیغ هم په خلکوکي پوره اغیزه وښندل او دوه کاله یې په بشپړه توګه دکسي دغرونو په شاوخواکي تیرکړه .اودکسي دغروشاوخوا ترپښینه اوددغه ځای پرشاوخواوګرزیده اوراوګرځیده.اوهلته یې ډیرخلک مسلما نان کړه .او ډیروخلکوته یې علمي او مذهبي ښیګڼي ورپه ګوته کړې .

اوپردې بله خوا بیا بیا شیخ احمدي لودي دنصر لودي په باب داسي بیان لیکي : نصرلودي دشیخ حمید زوی چي پسله پلاره په ملتان کي دچارو واګي ورسپارل سوي وې ، دملا حده له استازوسره یې ناسته ولاړه وه او له هغه ځای څخه یې دالحاد اواسماعیلي فرقي عقاید زده کړه.او دهغه تر اغیزي لاندي راغلی وو.اود دوی په عقیده ګروهیدلی وو، اواسماعیلي فرقه یې په پښتنو کي رواج کړه چي دهغوپه اصطلاح دالحاد ترویج یې غوره کی . اوقرامط یې (اسماعیلیه) اوشیعه راوستل .

نو شیخ رضی علیه الرحمه، چي سوچه مسلمان وودغه دخښم او قهرپاړکی یې ورته وکیښ اووروایې ستاوه .په دې کارسره یولړپښتانه هم دنصرلودي په دې تفکرسره خواشیني سوه اودشیخ حمیدبابا په کورنۍ کي داختلاف دیوالونه راپورته سوه اوهغه ګرانښت هم له منځه لاړی .که څه هم نصرلودي خپل ځان ګرم نه ګاڼه اودایي دځان دپاره یوه غوره لاره ګڼل خونوروبیا دهغه سره داعقیده نه منل .

ابومحمد هاشم سرواني

۲۲۳ـ ۱۹۷هـ

شیخ کټه رحمت الله علیه په خپل مشهوره کتاب کي (لرغوني پښتانه) په یوه برخه کي داسي راوړي دي : ابومحمدهاشم دهلمند په سروان کې په (۱۲۳)هجري کي زیږیدلی اوپه بست کې دعلماؤ اوپوهانوڅخه ئې زده کړه وکړه.اوورسته له هغه عراق ته ولاړاوپه عراق کي د علما ؤ سره ئې ناسته اوولاړه وه.اوپه کلونو،کلونو یې هلته زده کړه وکړه.او په عراق کي دنامتو پوه اوعالم ابن خلاد چي په ابي العینا سره یې شهرت درلود دهغه څخه یې علوم زده کړه او ډیروخت دابن خلا د سره په عراق کي پاته سو.اودعربي بلاغت اوشعرونه یې ولوستل. دهغه څخه یې پر عربي علوموبرسیره دشعرعروضي سیستم اوډول،دیني او مذهبي زده کړي اودخپل وخت مروجه علوم یې دهغه څخه زده کړه. چي موږیې دلته دهغه دیوه شعربیلګه چي ابن خلاد په یوه شعرکي درهم ستایلی دی اوابوهاشم سارواني نوموړی شعرپه پښتو ژبه داسي رااړولی دی:

شعـــر

ژبه هم ښه وینا کاندي چي یې وینه  
دخاوندپه لاس کي زراودرهمونه  
ژبوروله ورځي ویناېي اوري  
ددرهم خاوندان وي تل په ویاړونه  
که درهم یې ځیني ورک سوسي نتلی  
پرنړۍ وي په خړو پیژندونه  
که بډای سونې وبولي خلق وایي  
داوینا ده ربښتیانیه له ربښتونه  
که بې وزلي ووایي ربښتیا خبره  
نورووایي داخو سونې دي تیرونه  
هو!درهم ښندي هرچاله لویه برخه  
ددرهم دخاوندهرځای پرتمونه  
درهم ژبه ده که څوک ژبورکیږي  
ده وسله که څوک پرې کاندي قتالونه

همدغه ډول ابومحمدهاشم سرواني يو كتاب كښلى وو،چي په دې كتاب كښي دعربي ژبي اوعربي شعرونوقوت اوروان عرو ضي فصاحت اوبلاغت ئې تشريح كړى وو . څرنګه چي نوموړي په بغداد اوعربي نړۍ كي دژوند يوه لويه برخه تيره كړې ده نوځكه په عربي ژبه اوعربي ادب كې پوره لاس درلود.

اوپه كال ۲۹٤هجري كي بيرت خپل هيواد ته راغلى اودرې كاله ورسته په خپل هيواد بست كي وفات سو.

مؤرخين وائي : ابومحمدسرواني په عربي،فارسي اوپښتوژبه پوره پوهيده اوپه دغو ژبويې شعرونه هم ليكل ، هغه وخت چي دمحمد هاشم سرواني استاذابن خلاد په ستركوړوند سو،نودبه يې خدمت كاوه،اودهغه څخه به يې عربي خواږه ادبي شعرونه اوريدل ابومحمد دعربي څخه په پښتودخپل استاذډېرشعرونه هم راوړي دي ، ابن خلا د چي يوادبب او ظريف سړى ؤ ، په يوشعركي ئې درهم ستايلى دى او ابومحمدهغه په پورته ډول په پښتو را اړولى دى . اوپه همدغه ډول دابومحمد سرواني ليكلي كتابونه او راپاته شوي اثار زموږ په لرغونو ادبياتو كي يوازي دلرغوني پښتانه په يوه كتاب كي دغه يوه ژباړه شعر موږته دشيخ كټه په وسيله راپاته سوى دى . او د يوه مكمل كتاب نوم يې په تذكرت اوليا كي ذكرسوى دى او سليمان ماكود هغه څخه يادونه كړيده .

دلرغوني پښتانه په استناد دابيان دابو محمد هاشم سرواني علمي اواد بي ژوند راښكا ره كوي.اوداسي څرګند يږي چي د(۳۰۰)هـ ترحدودوپوري دعربو مدنيت اودعربي ژبي واک او د عربي ادابو اوعلومواغيزي دپښتون خوا په ډيروبرخوكښي خپرې سوي وې خو ددې مځكي غربي خوا ډيره دعربو دادبياتو تر اغيزي لاندي وه ، كه څه هم په دغه عصر كښي دغربي پښتونخوا خلكودآل طاهر(۲۰۵ ـ ۲۵۹هـ ) تر بيرغ لاندي استقلال وموند. اوځه ناځه دفارسي ژبي ادب هم په دغه وخت كي را ژوندى سو. خو عربي رسمي،درباري علمي ـ ادبي ژبه وه. پوهانو خپل كتابونه په دغه ژبه ليكل په خراسان كښي ډير دعربي ژبي ليكوال او پوهان وه چي دعربو ومدنيت ته يې خدمتونه وكړه دبيلګې په توګه صالح محمد بن عبدالرحمان ـ ابوخالد وردان قابلي موسوم په ( كنكر ) چي دعلي بن حسين ( ٤٦ ـ ٤٧ هـ ) له ملګروڅخه وو، احمد بن ابو طاهر طيفورخراساني چي پنځوس كتابونه يې كښلي دي په ۲۸۰ هـ كي مړدى ـ اويولړنور نامتوكسان سته چي په عربي ادب كي پوره مهارت درلود اوددغو له جملې څخه بل هم ابو هاشم سرواني دى ، چي داسړى دعربي ادب پوهانددى.لكه پټه خزانه چي وايي : په كلو ، كلو دعلم اوادب دزده كړي دپاره په بغداد كښي ميشت ؤ اوزده كړه يې دخپل استاذ ابن خلاد څخه وكړه . سروان دهلمند دغاړي مشهور ښارؤ ، چي اوس يې ساروان كلا بولي او دهلمند پرشرقي څنډه ديوه كلي په توګه شته ، ابن هوقل وايي: چي دسيستان يووړښاردى ـ ميوي لكه خرما اوانګور لري ، له بسته دوه مزله ليري دى ، چي په همدغه ښار كي ابو هاشم سرواني زيږيدلى اوهم دلته ستر سوى دى.

نوموړي په پښتو يو كتاب كښلى دى اوهغه لومړى پښتو كتاب دى خواوس زموږ په لاس كي نه سته . يوازي لاتراوسه دنومړي كتاب نوم اويادونه په پټه خزانه كي سويده. چي نوموړى كتاب دسالووړمه نوميږي اودهاشم ساروانى پوخ اودخپل وخت نامتو اثردى ممكن نور كتابونه هم ولري خو دسيمي درزمي اوجنګي حالاتوقرباني سوي دي په همدغه ډول په دې وخت كي نه يوازي هاشمي سرواني،بلكي نورپوهان ، شاعران او دقلم خاوندان وه،چي دوخت په مروجه علومو پوهيده اوپه پښتو ، فارسي اوعربي ژبو يې ليک لوست كولاى سو خوداچي دهغوى په باب ولي موږ هيڅ څرک اوپته نه لرو ؛ بيا هم دليل روښانه دى او يوازي دهيواد پرله پسې جنګونه او بهرني يرغلونه اودهغوى لوټمار فرهنګي ذهنيتونه ددې سبب سو چي پر مادي شتمنى برسيره يې معنو شتمني هم لوټ كړه .

كه زموږ فرهنګي شتمنۍ ته ځير سو نو ګورو چي نه يوازي په پښتوبلكي په دري كي هم موږ ډير څه درلودله دبيلګې په توګه دهاشمي سرواني دفارسي شعرچي اوس زموږپه لاس

کي نه شته دپوهاند حبیب په وینا که هغه فارسي شعر زموږ په لاس کي وای اوس به نوموړشعر دفارسي په ژبه کي هغه لومړی لاس ته راغلی شعروای کوم چي هاشم سرواني په خپل وخت کي ویلی وو.

بـیـټ نیکـــــه

۳۵۰ هـ شاوخوا

بیټ نیکه چي یو نیک او عقیده منده انسان وپه خپل وخت کي یو عالم او شاعر او په مروجه علومو پوه انسان ؤ، بیټ نیکه دکسي دغروپه شاوخوا کي اوسیده.اوهلته به یې مناجات ویل، پښتانه دتاریخ په رڼا کي داسي لیکي:((چي سړبن ـ غرغښت او بیټنی یا بیټ نیکه دکیس عبدالرشید زامن وه)).دروایتنوله مخي متو زي قبایل دبیټنو سره اړه لري اوبیټني ځانګي دپښتنودځلور سوه ځانګو له جملې څخه ده چي بیا دغه ځانګه ۲۵پنځه ویشت نوري ځانګي لري .دبیټ نیکه یوورور چي سړبن نومیده هغه خپل زوی یا اولاد نه درلود نو بیټ نیکه چي زړه سوانده او پرلوی خدای عقیده مند انسان ؤ ، خپل زوی یې اسماعیل وسړبن ته په زوی توب ورکړ.اوپسله هغه دسړبن په کورهم اولاد وسواوهمدغسي داسماعیل هم اولاد وسو،چي هغه هم په سړبنو کي ورګډدي ، اوپسله هغه دسړبن اولاد په ډیره اندازه وسوه او په پښتنو کي دهغه اولادونه نوم لري .

دسړبن دوه زامن وه : چي دیوه نوم شرخبون ( شراف الدین)اودبل نوم خرښبون( خیرالدین) وو، اسماعیل چي دبیټ نیکه اصلي زوی او دسړبن قبول سوی زوی ووپه عبادت کي خپل پلار بیټني ته سوی ؤ، اوهمدغسي خرښبون هم دخپل اکا یاتره په څیر عبادت کاره انسان وو اوپه دې لاره کې نوم درلود. خرښبون دژوندانه په زمانه کښي دخپل پلار اوتره سره یوځای ژوند کاوه اوورسته په اجازه دسړبن او بیټني دکسي دغرو څخه دخپل اولادسره یوځاي دغوري مرغې په لور ولاړ اوپه کال کي به یوځل دخپل تره شیخ بیټني وخدمت ته هم ځان وررساوه ، اودبیټ نیکه دمرګه وروسته به هم دهغه وهدیرې ته حاضریده ،بیټ نیکه پرخپلي کورنۍ باندي ډیرمهربانه ؤ.اوهمیشه به یې دوګړو دډیریدوخواست کاوه.هغه دغه لاندي ځوبیتونه دوګړودډیرربښت په باب ویلي دي .

دبیټ نیکه مناجات

۳۵۰ هـ شاوخوا

لویه خدایه لو یه خدایه　　　　ستا په مینه په هرځایه
غرولاړدی درناوي کي　　　　ټوله ژوي په زاري کي
دلـــته دي دغـرولمنـي　　　　زموږکیږدۍ وي پکي پلني
داوګړي ډیرکړې خدایه!
لویه خدا یـه لویه خدایه!
دلته لږزموږ اوربل دی　　　　ووړکورکي دي ووړبوجل دی
مینه ستا کي موږمیشته یو　　　　بل دچا په مله تله نه یو
هسک اومځکه نغښته ستاده　　　　دمړو وده له تا ده
داپالنه ستا ده خدایه !
لویه خدایه لویه خدایه!

شیخ اسماعیل

شیخ اسماعیل هم شاعروو.شیخ اسماعیل دخرښبون سره ډیره مینه درلودله ، اوسلیمان ماکو دهغه په باب داسي لیکي : اسماعیل دبیټ نیکه په کورکي لوی سوی وو، دسلیمان په غـرکي مېشته اوهم هلته وفات سو. اودهغه قبریا مرقددکسي په غرکي ؤ، سلیمان ماکوهغه لیدلی وو.خونوموړې موضوع یا روایت نعمت اله هروي هم په مخزن کي کټ مټ بیانوي .

اوهغه ليکي : شيخ اسماعيل په مذهب اودين ټينک ،پرهيزګاره ، نيک خصلته او پوه شخصيت ؤ .

مخزن افغاني او تذکرت اوليا دواړه په دې سره هم غاړي دي چي هغه دسلمان دغره په لمنو کي اوسيده خو نعمت اله هروي زياتوي چي داسماعيل مزار دسلمان دغره په لمنو کي (وازه خوا) کي واقع دی.او د ٤٠٠ هـ شاوخوا کې ژوند ؤ. دمخزن اسلامي درروايته هغه دخپلي کورنۍ څخه ليري په سيا حت هم تللی دی. او دغټو مشرانو سره يې هم اړيکي ساتلي دي . دهغه په باب موږته دغه درې نامتو کتابونو يادونه کړيده لکه : دسلمان ماکو تذکره ـ پټه خزانه ـ قلمي مخزن افغاني،اوداسماعيل اشعارموږته په دوطر يقو را رسيدلي دي.١ ـ لومړی شعريې سليمان ماکو په دې ډول را نقلوي : نقل کاوه شي چي شيخ ملکيار ستانه به تل ترتله دشيخ اسماعيل سترستانه پاړکی ويل اوړغ به يې کاوه داشيخ دسړبن زوی ؤ.

شيخ اسما عيل

د ٤٠٠ هـ شاوخوا

تښته وکړه له ابليسه      چي ابليس لعين ښکاره سي
هلته ورکه پلوشه سي     ټول نړۍ توره تياره سي
سړی وران شي له ابليسه  غوڅ دپس په کټاره شي
که هرچاابليس خرڅ کړنويې هله ننداره شي
که سړی ابليس ته پړ شو      نوپرکوردويرناره شي

داسماعيل يو بل شعر چي دده پرخنداني احساس دلالت کوي دپټي خزانې ليکوال په دې شرحه ليکي: (هسي وايي: چي يوخت خرښبون بابا او اسماعيل دسړبن او بيټني نيکه په مخ کښي ناست وه ـ ددوی کور ؤ دکسي په غره نوخرښبون دپلار او تره له خوا په تګ اورخصت ماذون شوه ـ اسماعيل نيکه داسي نارې وکړلې :

که يون دی يون دی      مخ کښي بيلتون دي
له کسي غره څخه      ځي خرښبون دی
که وروره وروره!      خرښبون وروره!
ته چي بيلتون کړې      زما ويرته ګوره!
چي ځې مرغې له      توري کرغې له
همزولي پاته      ځې څه برغې له
دخدای دپاره      خـــرښبون ياره!
چي هيرمونه کړې      زموږ کهول واړه
زړه مي رپيږي      يارمي بيليږي
بيلتون يي اور دی      ځان په سوځيږي

محترم نعمت اله هروي ليکي:چي اسماعيل يو روحاني او مذهبي شخصيت تير سوی دی .او دلومړي شعر څخه يې هم څرګنديږي چي يولږ عربي لغاتونه يې هم په شعرکي ستهٔ چي دابه هغه عقيدوي اغيزي وي، خو په دغه بل شعر کې بيا نوموړي اغيزي نه څرګنديږي او دپښتود لرغوني شعر ځانګړني په کښي څرګندي دي نو ځکه ويلای سو چي دشيخ اسماعيل پورته دوهم شعر دپښتو دلرغونو ادبيا تو يوه غوره نمونه ده .اودپښتو ژبې دځانګړي عروضواو اهنګ نماينده ګي کوي . پردي لغات هم نه لري.

شيخ اسعد سوري عليه الرحمه

شيخ کټه په خپل کتاب کي د (( لرغوني پښتانه)) له تاريخ سوري دقوله داسي نقل کوي: اسعد سوري په غور کي او سيدی اوهلته يې دسوري په شاهي خاندان کي قدراوعزت وو،شيخ اسعد دمحمدزوی وواو په ٤٢٥هـ په بغنين کي وفات سو، شيخ اسعد الرحمه شاعر اوعالم سړی وو. څه وخت چي سلطان محمود غازي پرغورباندي داميرمحمدسوري سره جګړه وکړه اوپه اهنګرانو کې هغه محاصره کی ، په دې وخت کي شيخ اسعد هم په اهنګر کوټ کي ؤ.اوهغه وخت کي سلطان محمود

امیر محمد سوري علیه الرحمه ونیوی ،اوغزني ته یي بندي بوتلی ، نوامیرمحمد سوري چي خورا زړه ور اونامتو اوعادل امیروو، دغیرته په هم هغه بندي خانه کي مړسو. خوسلطان محمود ته تسلیم نه سو.نو شیخ اسعد سوري چي نژدې دوست او پاللی ئي ؤ،دامیرمحمد علیه الرحمه پرمرګ یې دغه لاندي ساندي او ویرنه وویل :

دفالک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر ګل چه خاندي په بهار
هر غاټول چي په بیدیا غوړیده وکا
ریژوي یې پاڼي کاندي تارپه تار
ډیرمخونه دفلک څپیړه شنه کا
ډیرسرونه کاتر خاورولاندي زار
دواکمن له سره خول پریباسي مړسي
دبې وزلوویني توی کاندي خونخوار
چه له برمه یې زمري رپي زنګلوکي
له اوکوبه یې ډاري تیرو جبار
هم یې غشي سکني ډال دژوبلورو
رستمان ځیني ځغلاکاندي په ډار
چي یې ملاوي نه کړیږي په غښتلو
دافلک پروکا څه کاري ګذار ؟
په یوه ګردښت یې پرېباسي له برمه
نه یې غشی ، نه لیندۍ وي نه یې سپار
څه تیری څه ظلم کاندې ای فلکه !
ستا له لاسه نه دی هیڅ ګل بیله خار
په ویرژلولور نه کړې په زړه کراړیې
پرنتلیواوروې دغم ناتار
هیڅ روغي مي په زړه نه سته ستا له ځوره
بیلوې په ژړا ، ژړ مین له یاره
له تیریودې اوښي څاڅي له اوریځو
چینې ژاړي په ورت،ورت ستا له شنار
نه به لاس واخلې له ځوره نه به لورې
نه به ملا کړې له بې وزلو له ترار
نه به زړه وسوځوې په هیچاباندي
نه به پریوزې له ګردښته له مدار
نه به وصل کړې مین له بل مینه
نه به درملې ټپونه دافګار
ستا له لاسه دي پراته ژوبل زګېروي کا
هرپلو ته ټپي زړونه په ځار ځار
کله غوڅې کاندې مراندې دزړګیو
کله تیرباسي وګړي هـو ښیار
کله ټکي واچوې پرنازولیو
کله څیرې کړې ګریوان دنمینځي چار
کله غوڅوې واکمن له پلا زونو
کله کښېنوې په خاوروکي بادار
زموړپرزړونو دي نن بیا یوغشی وویشت

ودې ژوبلل په دې غشي هزار
پرسوريو باندي ويرپريوت له پاسه
محمدواکمن چې ولاړی په بل دار
يوارسواسيرپه لاس دميرځمنو
انتقال يې وکړقبر له بل وار
په سماوويې ودان اهنګران وو
په ټيکنه ووپه درست جهان اوځار ـ دمحمود دژوبلوروپه لاس کښيوت
چه غزنه ته يې باتلی په تلوار
ننګياليولره قيدمړينه ده ځکه:
ساه يې والوتله هسک ته په دې لار
تر نړۍ يې غوره خاورې هديره کا
دزمريو په بيړيو کله وي ځوار
په دې وير دغور وګړي تور نمري سول
په دې ويررڼا تياره سوله دښار
ګوره څاځي رڼې اوښې له دې غرونو
داکړونګي ساندي لي په شورهار
نه هغه زرغا دغرونودبيديا ده
نه دزرکيوپه مسادي کټهار
نه غاټول بيا زرغونيږي په لا ښونو
نه بامي بيا مسېده کا په کهسار
نه له غرجه بيا راځي کاروان دمشکو
نه رادرومي غورته بيا جوپي دښار
دپسرلي اوره تودې اوښې تويوينه
مرغلري په نيسان نه کړي نثار
داپه څه چې (محمد) ولاړ له نړيه
په ويرنه يې سو غور تېول سو ګوار
نه ښکاريږي هغه سور دسور په لټو
نه ځليږي هغه لمر په دې ديار
چې به نجليوپه نڅا پـکې خندله
چې به پيغلو کا اتڼ قطار قطار
هغه غور په ويرناتار دواکمن کښينوست
هغه غورسودجاندم غوندې سوراړ
لاس دي مات سه ای فلکه چې دې وکا
محمد غوندي زمری دمړيني ښکار
شين زړګی فلکه ولي لاولاړيې ؟
ای دغورغرونو پرڅه نوی غبار ؟
مځکي ! ولي په ريږدلونه پريوزې ؟
لاندي باندي سه ! چې ورک سي داشعار:
چې زمري غوندي واکمن ځي له جهانه
چې څوک نه کړي په نړی باندي قرار
سخ په تا اې (محمده ) دغورلمروي!
په نړۍ به نه وي ستا دعد ل سار
ته پرننګه وې ولاړ پرننګ کي مړسوې

هم په ننگه دې په ننگه کاځان جار
که سوري دي په تګ ويرکاندي ويرمن سول
هم به وياړي ستا په نوم ستا په ټبار
په جنت کي دوه تون زموږ واکمــنه
هم په تا دي وي ډير لــور دغفار

******

***

*

شيخ تيمـن کـا کـړ
۵۵۰ هــ شاوخوا

شيخ تيمن کاکړدکاکړنيکه زوی،چي دپښتودپخوانيوشاعـرانوڅخه ګڼل کيږي. دی يو زاهداوعابد سړی وو. دپټي خزانې مؤلف وائي:(چي زما پلار داود خان دشيخ تيمن کاکړيوشعرپه بوستان اوليا کي لوستلی وو. چي ما له خپله پلاره اوريدلی ؤ.) د پټي خزانې ليکوال ښاغلي محمد هوتک نوموړی شعر په پوره امانت داری سره په لاندي ډول رانقل کړی اوليکلي دي.چي دهغه پلارداودخان نيکه به نوموړی شعرپه شعري خوند سره ويلی .

دشيخ تيمن کاکړشعر

ګهيځ رڼا دلمر خپره سوه ـ زما پرکور دويرناره سوه
د بيلتون ورځ توره تياره سوه
ږغ سو ناڅاپه چي بيلتون راغی
زړه مي له دې ويرنې شين دی ـ په ژړا ژاړم څه ناورين دی
زرغون له او ښکو مي سادين دی
په نول ،نوليږم چه تاخون راغی
نه به بيا يم نه به بيا راسي ـ نه به تياره شپه زما رڼا سي
نه به شهی راته پخلا سي
بيليږي پيريې اوس ديون راغی
دڅښتن پاردی هېرمي نه کړې آغليه مخ چه په يانه کړې
اوربل دي پرېښودی واته کړې
پرما دبل اورکړوون رغی

خو برسيره پر دې چي دتيمن شعرده داود بابا په يادکي وخو بستان اوليا چي دشيخ المشايخ بستان بړيچ په ۹۵٦هـ ق کي ليکلی دی هغه دتيمن په باب داسي نقل کوي : شيخ تيمن دشيخ کاکړ نيکه زوی وو، دی دغور برې خواته ولاړ، هلته ميشته سو. نوخلک يې اولاد اوس په کاکړو کي نه شميري، اوپه اصل دوی دکاکړ اولاد دي ، کاکړنيکه په ږوب کي اوسيده چي تيمن دهغه ليدوته هم ورتللی دی. اود ژوند ورستي وختونه يې په کجران کي تيرکړه چي په پای کي دعلاوالدين حسين سام په زمانه کښي وفات سو. اونوموړی شعر يې هم داودبابا دبوستان الاوليا څخه را نقل کړی دی . چي په ورسته کي محمد هوتک په پټه خزانه کي وساته اواوس زموږدلرغونوادبيا تويوه غوره شعراونمونه ده.دتيمن نورشعرو نه او دشعر نمونې زموږ په لاس کي نه سته خو ممکن په ورسته کي به لاسته راسي . او دشيخ تيمن ژوند په سرګردانۍ سره ديوې سيمي څخه وبلي سيمي ته په ۵۵۰هـ ق کال کي تير سوی دی.

ښکارندوی غوري
۵۸۰هـ شاوخوا

شیخ کته متي زي رحمت الله علیه په لرغوني پښتانه کي دتاریخي سوري له قوله کښلي دي؛چي ښکارندوی اصلي دغوراوسیدونکی دی، پلاريې احمد نومیده اودغور دفیروزکوه کوتوال(سلا ح ساتونکی قو مند ا ن) وو،دسلطان شهاب الدین محمد سام شنسباني په دربار کې بشپړه درناوی اوعزت درلود. کله ، کله به په غزنه اوبست کي هم اوسیدلی. اوهغه وخت چي سلطان پرهند یرغل کاوه ، نو ښکارندوی هم دهغه په لښکروکي وو، ښکارندوی یو عالم ، شاعر او پوهه سړی ؤ، ښکارندوی دسلطان محمد سام او سلطان غیاث الدین غوري په ستاینه یا مدحه کي شعرونه اوقصیدې ویلي دي.چي بوللي يې هم بولي،محمد ابن علي وايي: په بست کي ما دښکارندوی دبوللو یو غټ کتاب ولیدی اودهغه څخه مي دغه ستاینه وکښله چي دمحمد سام ستاینه ده.

دښکارندوی بوللـه

دپسرلي ښکلونکی بیا کړه سینګارونه
بیا يې ولونل په غرونو کې لالونه
مځکه شنه لاښونه شنه لمنې شنې سوې
طلیسان زمري واغوسته غرونه
دنیسان مشاطې لاس دمچیدودی
مرغلرو باند ې وښکلـل بڼونه
دغاټولو جنډې خاندي وریدي ته
زرغونو بڼوکي ناڅي زلمي نجونه
لکه ناوې چي سور ټیک په تندي وکا
هسي وګاڼل غټولو سره پسولونه
مرغـلرې چي اورووخونولـپـه
په ځلایي سوه رانه خپاره دښتونه
زرغونو مځکوکي ځل کا لکه ستوریه
چي پرهسک باندې ځلیږي سپن ګلونه
سپینې واورې ویلـېده کاندي بهیږي
لکه اوښي دمیـن پـه ګـریوانـونـه
هرپلـو رنې والې بهاندې خاندي
له خوښیه سروهي له سنګرونه
هرپلـودګلووږم دی لـونـلی
توا راغله له ختنه کا روانونـه
دمسیح په پو به مړوژوندون بیا موند
پسرلی مګر مسیح شو په پوکړونه
له مړو خاورويي آغلی ګل راویوست
وچ بیدیا اوغر يې کـړله جنتونه
سړی جاجي چه رامشت کړرا مشتګرو
ګهیځ چونې چه په بڼ وکا ږغونه
په بربڼ چه ږغ دچونیونغـوږیده سي
ته واچندی سره پېودي اشـلکـونه
د زلما ټا يې راغلی دی پـرچـنډ یـو
لکه پیغله غـوټۍ کاندي مکیزونه
دپـو پـلـو مخ سور کـړی پسرلی دی
یود بل په غـا ړه اچـوي لاسونه
دهنداروپه څیرغرونه سپین وړنګن دي
چه پرواورو باندې ځل وکا لمرونه

په غورځنګ غورځنګ له خولي ځګونه باسي
لکه شين هاتي شينا کاندي سيندونه
نه به چـــــونې په ستايه دجنډ يو مـــوړسي
نه به موړسم دسلطان په صفتونه
دشنسب دکـهـالــه خـتـلى لــمـر دى
دپسرلي په دود ودان له ده رغـونه
دښندو اورو يې درست ايواد زرغون کړ
له قصداره ترد ييله يې يـونـونـــه
په زابـل چې دبــري پرنيلي سپورسي
په لاهور يې د ميړا نې ګذارونه
نه يې ځوک مخ ته دري د مير ځمنو
نه يې توري ته ټنګيږي کلک ډالونه
داسلام ددين شهاب دنړۍ لـمــر دى
تورستهـان يې کړړنا په جهادونه
هره پلا چه دى پر سيند وهند يرغل کا
رڼوي توره نړى په شهـا بـونه
په پسرلي چه يې تيرون په اټک وکـــا
غاړه غاړه يې ترى سولـلـه زړونه
نه به ده غوندي روڼ ستورى په هسک ځلي
که څه پورته سي له غوره ډيرمېړونه
نه به راولي جګړن دسيند په لوري
نه به برى ځوک دهند خپاره ښهرونه
نه به ځوک زلمي دغروسره را غونډ کا
دداور تورى به چيرې کا ځلونه
يو خاوند شهاب الدين دى چې ئې وکا
په هرلوري هرايواد ته يرغلونه
په جوپو جوپو جګړن يې هندته يون کا
چه دغور بادار په مټ وکا،زغلونه
نن په سيند باندي تيريږي يرغل کاندي
په پرتم يې زمري ريږدي په زنګلونه
ځپانده سيند يې هم لــه ډاره ايلايي کا
پراوړووړي دغوريانوښه ايرونه
په هرکال اټک دده ښه راغلى کاندي
غوړوي په څنډو خپل پاسته سالونه
پښتونخواښکلي زلمي چه زغلي هندته
نوآغلـيــه پېغــلي کاندي اتنــونــه
زرغونى هتي اغوستي وي دې غرونو
بټ بيديا هـم پولــلــي وي ځانونه
هرګهيځ چي لمر ځرکيږي له خاتيځه
ځوچه يون کا دلوديځه په څنډونه
که برېځروي، که غرمه وي که برمل وي
که لرمل ،که لمر لويده ،که ترملونه
دشهاب جګړن به نه کښيني له زغــلو

نه به پرېږدي دازلمي خپل بهيرونه
زمري کله کاږي ځان له يرغلګريو
څو يې نه کا مات مټونه ورمېږونه
يا به جګ کادبريورپی په هند کې
يابه پرېږدي په دې چاره سرونه
يا به وران کابودتونونه دبمبنو
يا به سره کاندي په وينوايوادو نه
په رڼااوسي ته تل ددين شهابه!
نوم دې تل وه پردريځ پرنمزدکونه
څورانه سي ستا په توره دهند لوريه
څوچي نست کړې له نړيه بودتونونه
ستا په زيرمه دي خاونده لوی څښتن وي
موږخوستا په مرسته يونه څوچه يونه

دښکارندوی ستاينه يا قصيده دپښتو په لرغونو ادبياتو کې تر ټولو غوره او دادبي فورم له مخي دطبعت له ښکلا سره غاړه په غاړه اودپوره ارزښت وړده.دښکارندوی قصيده يا ستاينه دپښتو په ادبي تاريخ کې يو شهکار،نوښت ګڼل اودروان سبک علمي اوتاريخي نظم دی.په نوموړي قصيدوي شعر کې دطبعت ښکلااودهيواد هغه ځانګړتيا چې زموږ هيواديې په طبعي توګه لري په پوره مهارت سره ستايل سوې ده ، ته به وايې : چي همدااوس په هغه ما حول کي دطبعي ښکلاو ننداره کوم اوهرويونکي ته داسي الهام ورکوي ، لکه چي يو څوک دافغانستان په شنو باغونودانګوونواو روان رودونو ، دغرونوپه شنولمنوکي دتماشي په دود ګرځي اوراګرځي . اوس نو په داسي يوښکلي او دطبعي شتمنيو څخه ډک هيواد کي دهغه دقهرمانانوستاينه دواقيعت يوښه انځور ترسيم کولای سي. په رشتيا هم زموږ ښکلی او زيبا هيواد لکه څنګه چي يې مادي شتمني ډيره ده ، په همدغه پيمانه يې معنوي شتمني هم درلودله، چي دهغه له جملي څخه دتاريخ ستر قهرمانان ،سرتيري، واک داران او ملي لوړ شخصيتونه . چي يوه په زړه پوري بيلګه يې خپله ښکارندوی په خپله پورته ستاينه کي بيان کړيده . داستاد ښکارندوی ستاينه نه يوازې داچي دسلطان شهاب الدين ژوند اوقهرمانه څيره يې موږته را په ګوته کړيده . اوپه تاريخي لحاظ يې دخپل وخت سياسي حالت موږته راپه ګوته کړی دی؛ بلکي دايې دتاريخ سره پوره مرسته هم کړيده . داستاد دغه شعر چي دادبي فنونو له نظره ډير ارزښت وړدی معلوميږي چي هغه به ډيرنورهم په دغه ډول ښکلي اشعاردښکليوتشبهاتو، استعار و اونازک خياليواو دطبعت دبشپړه انځورسره درلودل. دښکارندوی په شعر کي تشبهات دسلطان شهاب الدين ميرانه کله هم دزمرو سره ، کله هم دڅپانده سيند سره او کله هم دبهر اودرياب دکښتی سره او دسلطان رحم او مهرباني دهغه پول سره پرتله کوي کوم چي دزرهاو مجبور کسانو دتګاو راتګ دپاره يې ځان وقف کړی دی او دخلکو مينه يې دسلطان او دسلطان مينه يې دخلکو سره په ادبي نازک خيا ليو کي ښودلي ده. موږ داسي نور ستاينې په فارسي او نورو ژبوکي لرو چي په ډير افراط سره واکمنان ستا يې اوهغوی ته دمعجزو کولو افتخارات ورکوي لکه فرخي چي دسلطان محمود غزنوي په مدحه کي دغه ستاينه کوي او وايي : (( ۱ ))
پيمبران راازان بيش معجزات نبود
که شاه دارد واين سخت روشنست وعيان
برآب جيحون پل کردن وګذاره شدن
بزرګ معجزه ای باشد وقـــوي برهـا ن
ملک بوقتي کزاب رود جيحون بود
چـــوآ سمان که مـــراوراپديد نيست کران
برآب جيحـــون درهفته ای يکي پل بست

چـنـانکي گفتي کـز ديـرباز بود چنـان

نوموړي ستاينه په ډېر افراط سره دستايني خوند لرووي اودواقيعي اوعملي تشبه پرځای يې په معجزوسره لوړوي ، په داسي حال کي چي معجزې ځانته خپل تعريف لري او انساني هنراو غښتل توب بيا ځانته عيني دلايل لري. لکه زموږ په نورو ادبياتو کي چي گورو،غښتل توب دزمري سره ، پراخه حوصله دبهر دڅپو سره او قوت دطوفان او سيلابو سره پرتله کيدای سي .او ډيروخت تشبه دطبعت سره په اړونده وختونو کي راځي . ليکن پل جوړول معجزه نه؛بلکي انساني کاردی.

شيخ تيمن د۵۵۰ هـ شاوخوا

شيخ تيمن دکاکړ نيکه زوی دپښتنو دلرغونو شاعرانو څخه دی. دده شعرونه دپټي خزانې ليکوال دشيخ بوستان بړيڅ له ( بستان اوليا) څخه رانقل کړي دي. ويل کيږي چي شيخ تيمن دکاکړو دسيمي (کاکړيستان) څخه دغور خواته ولاړ.او هلته تم اوميشت سو - - چي له همدغه سببه دده اولاده اوس هم په غورکي سته، چي په تيمني قبيلې اړه لري. ويل کيږي چي تيمن يو عابد ، زاهد اوپرهيزگاره سړی وو. او کله کله به ړوب ته تللی او دخپل پلار ليدنه به يې کوله ، اوخپله دغورپه شاوخوا کي دکجران په نوم سيمه کي استوگنه درلوله، چي دافغانستان مرکزي برخه او دغور جنوبي برخه ده ، دزميندآور سويل ختيځ ته کجران پروت دی. په تاريخي لحاظ لرغون پوهانو او تاريخ پوهانو دغه ځای په کجوران يا کجران سره ليکلی دی.

دبستان اوليا روايت اويادونه چي پټي خزانې را نقل کړی دی ، شيخ تيمن يې دعلاوالدين خان حسين سام دوخت گڼي، چي داوخت سنه (۵۵۰هـ ) شاوخوا ده. او هم ددغه پاچا په وخت په کجران کي وفات سوی دی. دمحمد هوتک په وينا چي و يلي ئي وه: مادغه شعر له خپل پلاره دادخان نه اوريدلی دی ، چي ډيروخت به يې زمزمه کوی او هغه هم دشيخ بوستان اوليا له کتابه زده کړی ؤ. دغه شعر په پښتو قديمو شعرونو کښي ښه عشقي شعري نمونه ده - چي دوزن او الفاظوکلماتو له پلوه ځانگړی پښتو شعر گڼو :

کهيځ رڼا دلمر خپره سوه
زما پرکور دويرناره سوه
دبيلتون ورځ توره تياره سوه
ږغ سو نا څاپه چه بيلتون راغی
زړه مي له دې وير نې شين راغی
په ژړا ژاړم څه ناورين دی
زرغون له اوښومي سادين دی
په نول نوليږم چي تا خون راغی
نه به بيا يم نه به بيا را سي
نه به تياره شپه زما رڼا سي
نه به شهی راته پخلا سي
بيليږم پير ئي اوس ديون راغی
دڅښتن پاردی هيرمي نکړې
اغليه مخ چي په يانه کړې
اوربل دي پريښووی واته کړې
پرما دبل اورکړوون راغی

دشيخ تيمن دالوړشعر چي په سوچه پښتو اووزن دی. له هغواشعارو له جملې څخه گڼل کيږي، چي دموسيقي خوندهم لري. او يو عشقي خوندور شعريې بللا سو، دنور وپښتو عشقي شعرونو خوند په کښي نغښتی دی. خو دتيمن نور حال معلوم نه دی ، خو دپورته شعره څخه يې داجوته کيدای سي ، چي تيمن نيکه يو نازک خياله او عاشقی ته ورته شاعر معلوميږي. داسي معلوميږي چي نورعاشقانه شعرونه به يې هم خامخا ليکلي وي. دده شعري ژبه پاکه او سپيڅلې ده، شعرونه يې ويونکي ، ساده روان او خواږه دي، او دده شعرونه دښوشاعرانو په قطار کي راځي. خو تيمن نيکه دخپل وخت يو

عالم او نامتو شاعر تيرسوی دی اولکه چي وويل سوه تيمن په قوم کاکړاودکاکړيستا ن په ږوب کي پلرو اونيکه ګانو ژوند تيرکړی دی ، او هغه دکاکړيستان څخه دغور خواته تللی دی.اودلته موږ ته دقومي جوړښتونواو سوسيالوژيکواړيکوله مخي څرګنده ده چي دقومونو سيمي اودژوندټاټوبي سره بيل دي چي دا اعنانه که څه هم دقبيلوي ژوند په معنا اومفهوم سره ده؛خو اوس هم په پښتني سيمو کي پښتني قومونه په پاشلي توګه ژوند کوي دبيګي په توګه دباجوړپه سيمه کي باجوړقومونه، دشنواروقومونه په کمکي خيبراو غني خيلوکي، دکسي دغره په لمنو کي کاسي قونونه، دعبداله خان او ګلستان خان په سيمه کي داڅکزوتوکمونه يا قومونه،همدغسي دنورزوکلي اوکورونه په دې ډول قومونه دخپلو وټيزو ګټودپاره په هره سيمه کي سرخوندي اوراټول ژوند کوي. چي په همدغه توګه تيمن هم په اصل کي کاکړاود کاکړيستان دسيمي څخه چي هر ځای تللی دی تللی به وي ؛خو زموږ موضوع يوازي دهغه پر ادبي برخه وه . نو ځکه دنوربيان څخه يې ډډه کوم. اودلته يوبل څوک هم دتايمني په نوم شاعر موږلروپه لاندي ډول موږبه هغه دخپل توان سره معارفي کړو.

تا يـمـنــي

٥٨٠ هـ شاوخوا

دتايمن قبيله په غورکي اوسي ، اودتيمن په نوم موږ يو پخوانی شاعر هم لرو چي په پورته بحث کي موږ په بشپړه توګه وښوی.اودهغه ژوند په ٥٥٠ هـ کال کي ښودل سوی دی . اوويل کيږي چي دپښين څخه به يې وغورته ځای تبديل کړی وي او س موږ دپښتوپه لرغوني ادبياتو کي ددوهم تيمن دنوم سره مخامخ کيږو اودا هم روښانه نه ده چي دنوموړي شاعر نوم تايمن دی اوکه دتايمن وتوکم يا قوم ته به منسوب وي. اودغوري شاهانو په دبدبه اوعصرکي لکه نورشاعران چي تيرسوي دي تايمن هم يو دنامتودرباري شاعرانو له جملې څخه ياد سوی دی. او په همدغه ډول دپښتنو ديوه لرغوني ټاټوبي زمينداورپه غرواورغوکي اوس هم ددې شاعر شعرونه دخلکو په يادي . ويل کيږي چي نوموړی شاعر دغوري سلطان غياث الدين دوخت اوزمان دی. اودده يو شعر هم په زميندارو اړه لري، چي په زميندارو کي ميندل سوی دی. اودا هم څرګنديږي چي تايمن په زميندارو کي اوسيده. اوځنګه چي دسلطان غياث الدين غوري ژوند په ٥٨٠ هـ کال کي ؤ، نو دده ژوند هم په همدغه وخت کي څرګند دی.

داچي زاړه اولرغوني ادبيات موندل يوه اندازه ګران کار دی ، خو که څوک څيړنه وکي همدغسي مواد زموږ په کلی اوباندوکي په پوره اندازه شته چي په همدغه وخت کي يودڅيړنوپه نتيجه کي دراپيداسوي لرغوني شعر چي دااوس موږ ليکني پرې کوو، دتايمن دغه ادبي شعردی . چي په دې باب دمرحوم عبدالحي حبيبي يادونه زموږ پام ځانته رااړوي اوهغه دنوموړي لرغوني شعر په باب داسي بيان کوي .

وايي : (( څه وخت چي زه په (١٣١٠ ش) کال چي زه دهلمندپه کليواولټوکښي ګرزيدم په يوه کلي کښي دشپې دزلموباندارؤ اودنشاط اومسرت بزم تودوهلته به ځينو په خواږه ږغ نارې کولې اوځينوبه نڅل اوبعضوبه بدلي اوسندري ويلې ددې باندارپه يوه خواکښي يو سپن ږيری ناست ؤ که څه هم زمانې دی نتلی اوويښتان يې تک سپين وه خوخوش ارواح سړی ؤ اوزړه يې ځوان ؤ .

دې سپن ږيري دزميندارو په غروکښي ښې شپې‌اوورځي تيري کړي وې .اودهلمند پرغاړويې دميني په دنيا کښي خپله ځواني خاوري کړې وه. دسترګوديدېي لړشوی ؤ ، خوزړه ئې بيناؤ ـ غوږونه يې درانه وه ـ خوسدئې پرځای ؤ. زلموده د ته په درنه سترګه کتل ـ اوده هم په خپلو خوږو سندرو، بزمونه تودول، دخپل زلمي توب کيسې به يې کولې اودهلمنددغاړو،لوړوودانيواومدنيت زړې کيسې اوافسانې چي د ه ته له تيرو نيکونو څخه رسيدلي وې بيانولې به ئې. دې سپن ږيري په خپلو سندروکښي ـ دتايمن په نامه داشعرپه ملي وزم او خوږه لهجه ولوست ـ چي دپښتو يوه زړه ادبي ټوټه ده)).

اودادی اوس يې موږ دلرغونو ادبياتو په لړ کي ديوې بيلګې په توګه يادونه کوو.

دتايمن دشعربيلګه

نن زه ږغيږم په صفت دسلطان

چي دی بادار غازي ملک دجهان
دفیروزکوه اوغوررڼاله ده ده
هم ده تیرو ، توروبریښناله ده ده
چه توره وکاږي چړتون کي خالي
غلیم یې کله کړي په توره سیالي
غیاث الدین دغور زمری علیشان
داسلام دین دده په تــوره روښان
ماده(( داور))په مځکه ولید ((ارم ))
دادجنت په ډیروښې ښه خــورم
دفیروزکوه په دود ودان دی نا
ښکلی هر ګل څه ښه خندان دی نا
دلته کړونګی دی ږغونه کوي
اوبه بهیږي سرودونه کوي
هرسړی ګوری چي ولاړوي اریان
کړي ننداري دخـــــداوند د بستان
غیاث الدین د جهان لمر دی نا
عالم له ده ډیربهره وردی نا
هند یې روښانه په اسلام کی نا
له ځاني خوښ خیرالانام کی نا
چي یې په غورکي نیلی زین کی نا
پرکافرانویې ناورین کی نا
تل دې بری وي دغازي پرمیدان
زه تایمني ستاینه کـــړم دسلطان

دتایمني داشعاروڅخه فقط دغوندي موږ ته پاته دي ـ او په دې شعر کي دی زمینداور ستائي ـ اوددې ځای تاریخي ودانی اومدنیت بیانوي ـ همدغسي دپښتوادبیاتوتاریخ دوهم ټوک په دې باب باندي بیا داسي لیکي : دی په زمینداور کښي دارم باغ ستاینه کوي اووائي : چي دفیروزکوه په ډول ودان دی ـ اودتاریخ له پلټني ښکاري چي دغور ارام په داورکښي یوباغ ودغوري عصر نو مؤررخ منهاج سراج جوزجاني هم ددې باغ ارم یاد داسي کوي :ثقافت چنین روایت کرده اند: که غیاث الدین دراولي جواني معاشرعظیم بودوشکاردوست ـ وازحضرت فیروزکوه که دارالملک او بود تا بشهرزمین داورکه دارالملک زمیستاني بود ه هیچ افریده را مجال نبودي که شکاري کردي ... درزمین داور باغي ساخته بودان را باغ آرام نام نهاد والحق درمیان دنیا مثل :زاهت وطراوت آن باغ هیچ پادشاهي را نبود وطول اوبقدردومیدان وارزیادت بود.... منهاج سراج دغوري عصر یو مشهوره سړی دی.چي دغوري شاهانو په دربار کي اوسیده. دبامیان ـ هرات ـ فیروزکوه ـ زمینداور مدنیتونه یې په خپلو سترګولیدلي دي. دتایمني پښتون شاعردغه بدله هم ددغه مؤرخ دبیان تائید کوي اوددغه دو عصروبیان دغوریانو دثقافت نماینده ګان دي ـ دتایمني دغه شعرروان اوساده دی . اوپه عیني حال کي حماسي اړخ هم لري . لکه دپښتونور څرګنداشعارپه وزم هم ویل کیږي که څه هم په ظاهره دعروضي اشعاروپه تقلیددقافي تراغیزولاندي دي دی.مګردپښتودپخوانیواواوسنیوآزادوسندرورنګ لري.اوداکثروبیتونوپه پا ي کښي دترم (نا) راغلی دی،داخاصیت دملي اشعارودی ، چي په ترنم ویل کیږي . داسي ښکاري چي تایمن په شعر کښي دپخوانو اوخاصو وطني اسلوبونو تابع ؤ ، مګربیاهم دماحول اغیزي پرسته ، ښائي دفارسي ادب اغیزي هم پرلویدلي وي چي دده ددغه شعره څخه هم ښکاري .

<u>دملکیاربابا سندره</u>

۷٤۹ هـجـري

ملكيارهم دتوري اوقلم غښتلى توريالى سړى ؤ، چي دسلطان شهاب الدين غوري سره په مبارزواوجګړوكي هم ملګرى ؤ. دزاهد او تصوف اوعرفان له پلوه يي هم ښه شهرت درلود. څنګه چي ملكياربه تل دسلطان شهاب الدين سره په جګړو كي مل وو ، نو سلطان شهاب الدين هم دده دزړه ورتوب په خاطرپه ډهلي كي ده ته يوځاى بخښلى وو. دى هم هلته اوسيده اوپه پاى كي هم هلته مړاو ښخ سو. كله چي دسلطان معزالدين لښكري په جنګ كي وماتي ته نژدې سوي وه، نودغه توريالي اديب اوعارف يودننګ اوجنګ سندره وويله چي لښكريي هم وجنګ اوميراني ته وهڅول اوپه پاى كي بريالي سوه.

ملكياربابا دبابا هوتک مشرزوى ؤ، اوهغه وخت چي بابا هوتک وفات سونوملكيار باباډېنځه ويشتو كالو واو پسله هوتک بابا څخه قوم دملكياربابا پرسرلونګى وروتړل او ملكياربابا دسيوري په لتوكي ډيرخپلوان راټول كړه، اوهلته يي كاريزونه وكښل او خپل ځوانان يي په كاروګمارل او هلته يي ډيري ښكلي ودانۍ اومانۍ جوړې كړې. خو مغدل چي په دغه تمدن خبرسول نوسمدلاسه يي بريدونه پرراپيل كړه ، نو دملپارسره يي سخت جنګونه وسوه چي په پايله كې دپښتنومېني او تمدن وران او يولړكورنۍ يي وفرارته مجبوركړه، چي په دې كورنيوكي ځيني ومرغي ،سيوري، ږوب ته ولاړه ولاړل خوځيني بيا وازي خواته ،خو ملكياربابا بيرته هغوى سره را غونډكړه اومغول يي وشړل.نقل كوي: چي يوځل ترنک په ۷٤۹هجري كي په پسرلي موسم كي ډک سو چي يوه مياشت وبهيده اوملكيار ديوه غټ لرګي په وسيله يو پول پرجوړ كړاو خپله هم پرنوموړي پول تيرسو. اوپسله هغه يي دغه سندره وويل :

سندره دملكياربابا

ترنک بهيږي     ترنک بهيږي     غاړي ترغاړي
زما زړګى خو     خپل لالى غواړي
كه روده روده     دترنک روده     خاوند دي وچ كه
چه زړګى مومي     زماخپله سوده
كه نيزدى نيزدى     نيزبيلتون دى     زړه نيزه وړى
په ويرژړلى     په غم زبون دى
كه اوردى اوردى     په زړه مي اوردى     دااورپه وچ كا
دويـــرنيزونـــه     بل ډيرپه زوردى
نمنځنه يوسه     سيني سپوږميه     ورته ووايه
چي ترنک ټال كړم     ستاله خولګيه
كه خړو خړو     اوبوسوان كړى     بيل ملكياردى
پاته له ياردى     سؤب يي جانان كړئ

نقل دى چي ملكياربابا يوه ورځ دخپل تره توخي كورته ولاړاودخپل تره زوى نوربابا يي وليد چي غشي تيره كوي، ملكيار ځيني پوښتنه وكړه، تربوره دا څه كوي؟ هغه وويل: دمغلوپه جګړوكي ستا مل يم ، ملكياربابا دعاوكړه : تربوره تل سوب منداوسې! وايي چي :هروخت به نوربابا په جګړوكي برى موندااوماته يي دهيڅچا پيادنه وه.

نقل كوي : چي يوه ورځ دمغلو تاړاک پرسيوري را غلى اوهغه وخت دملكياربابا په كلاكي بيله ښځمنيؤ بل څوک په كوركي نه وه ،نونوربابا چي خبرسو ژريي ځان هغه كوټ ته ورساوه اومغل وشړل اوډيريې مړه كړه ، چي دخلكوله نظره داټوله دملكياربابا ددعابركت ؤ .نوپه همدغه ډول ملكياربابا دخپل وخت مذهبي او ديني عالم سړى ؤ چي عام ولس ورته ديوه ښه پيرپه سترګه كتل او دهغه دعقايدو پيروي يي كول او دده په موجوديت كي پښتني قومونه او قبيلې په يوه اتحاد سره دميني داباداولو او ددښمن په مقابل كي ديوه پيستون په ليكوكي سره پيوست وه اوددښمن زور هم په دوي

باندي نه رسيده هغه مينه دلوده چي ځوانان دهيواد په سمسورتيا كي ونډه واخلي او په همدغه سبب يې ځوانان هڅول چي دكښت اوكروندې په اصول ځانونه وپوهوي .

قطب الدين بختيار
٦٠٠ هجري شاوخوا

قطب الدين بختياردا‌حمد زوى دموسى لمسى په قوم پښتون بختيار‌اودخپل وخت له نوميالیو پوهانو څخه شميرل كيږي ، چي تراوسه هم په هند كښي شهرت لري . دده يادونه ځينو مؤرخانو كړيده . خو ځينو مؤبهرنيو مؤرخانو بيا داسړى نه دى پيژندلى . دى دپښتو يو ښه شاعر هم وه. چي سلمان ماكويي په خپله تذكره كي دمناقبوترتشرح ورسته يوه عشقي سندره هم رانقل كړيده سلمان ماكووايي (( بختيارپه پښتو سندري كړينه اوښي تويوينه ـ خداى ته نارې كړې غلبلې كړې هغه نو شعرونه هم لري چي يويي دادى .

ويريې زړه سورى سورى كړ ـ راته وګوره ملوكى !
په بيلتون كـــــى دې وباســـم ـ له خوږمنه زړګى كوكې
راته وګوره ملوكې ! راته وګوره ملوكي !
دبيلتون اورونه بل دي ـ هرګړى مي زړګى سوځي
ليـــونى يمـــه د مـــيني ـ سوځم زه لكـــــه پيلوځي
راته وګوره ملوكي ! راته وګوره ملوكي!
غوړولى دي اور بل دى ـ اورزما په زړه كـــــــي بل دى
زه بختيار خاوري ايرې سوم ـ په اور سوى مي كوګل دى
راته وګوره ملوكي ! راته وګوره ملوكي

دځينوڅيړنوڅخه داسي جوتيږي چي خواجه قطب الدين بختيارپه ٥٧٥هـ په شاوخوا كي زيږيدلى دى او د سلمان ماكو دوخت دى ، او هغه يې دغه پورته شعر ديوه عشقي شعرپه توګه ليكلى دى خو هغه يا قطب الدين بختيا په فارسي شعر ويلى دى اوپه فارسي ژبه كي پوره يو ديوان لري ، خو دښاغلي مرحوم پوهاند حبيبي صاحب له نظره دهغه فارسي شعر دومره پوخ نه دي لكه پښتو شعر چي ئې پوخ دى. او محترم نعمت الله په مخزن كي دهغه دغه فارسي شعر را نقل كړى دى.

اى خاك درت بفرق سرتاج ـ محتاج توهم غني ومحتاج
هستي وجـــود عـــاشقان را ـ كردي به كرشمۀ تو تاراج
ازدولت عشق تو دل مـــن ـ چون بحرعميق ګشته مواج
ازمملكت وجود عشقت ـ هرچيزكه بود كرداخراج
خامي كه زندم ازاناالحق ـ بردارزنيش همچوحلاج
مهتاجتوقطب الدين نه تنهاست
باشد به تو كـــا ئنا ت محتا ج

په دې ډول نعمت الله قطب الدين دخپل كتاب په ډيروځايو كي ((اقطب افغان )) بولي ، او په دې توګه دده دنورو هم قومانو مشاهيرو نومونه هم راوړي لكه : خواجه يحيا ، بختيار، شيخ شهاب بختيار، شاه ابوبكر بختيار اونور... داخو ښكاره ده ـ چي بختيار دپښتنو يولرغونى اوستانه قوم دى . چي تراوسه هم دسليمان دغره په خواوكي شپوني ياپونده ګي اوسواداګري كوي.په پخواكي مؤرخان په دې قوم نه وه خبرنويي قطب الدين پښتون نه دى ليكلى . تش دده سره بختيار ليكي ـ فرشته وايي : قطب الدين په اوش كي زيږيدلى دى چي دماراولنهر له ښاره څخه وو. (دډيرمعلوماتو له پاره مخزن افغاني خطي نخسه وګورى ) ابوالفضل علامي هم دى دفرعاني داوش اوسيدونكى بولي . همدغسي اوش يا اوچ دوه ښارونه دي چي دجحون درودپرهغه غاړه پراته دي. چي ددې څخه داسي معلوميږي چي دقطب الدين پلار يا نيكه به وهغه خواته تللى وي ځكه په دغه سيمه كي دامير عبدالرحمان خان تر پيره دقومونو تګ اوراتګ كيده. اودده پښتون واله پښتنو مؤرخانو تصديق كړيده. او په همدغه ډول دى

ممکن په فرغانه کي زیږیدلی وي . او سلمان ماکو هم دده په باب داسي روایت راوړی دی : نقل کاوه شي چي ؛ بختیار ستر ستانه و ـ له ده شوی دی هغه کرامات چي موږ وکښل اوویل ، موسی چي ستر پلارؤ دقطب الدین اوتللي ؤ له بختیارانو څخه اومیشت ؤ ـ پرایواد چي سیند باله شي ( دنورمعلومات له پاره تذکرت اولیا سلمان ماکو)خو په ورسته کي ممکن ملتان ته هم تللی وي او هلته يې هم علمانه شهرت ګټلی دی . او په پای کي په ٦٣٣ هـ کي وفات سو او په ډهلي کي ښخ دی چي قبر يې هرچاته څرګنددی . چي دفرشتي په قول دعمرپه ٥٨ کنۍ کي مړسو. اود سلطان معزالدین سره یو ځای د هند په فتوحاتوکي تللی دی . خوپه هر صورت قطب الدین پښتون او دپښتو اودري ژبو ښه شاعر او دخپل وخت لیکوال ، پوه اوعالم شخصیت ؤ ، چي دخلکو په زړونو کي ځای درلود.

شیخ متي بابا

٦٢٣ ـ ٦٨٨ هـ

شیخ متي دعباس زوی دی ، چي عباس په پنځم پښت دپښتوژبي بل شاعر خرښبون ته رسیږي .دی هم دپښتنو دنورو شاعرانو په څیر عقیده من او متقي شاعر ؤ.دیروتاریخ پوهانو دده یادونه کړیده، چي ددې جملې څخه نعمت الله هروي په مخزن اواخوند ردرویزه په خپله تذکره او حیات افغاني هم دشیخ متي یادونه کړیده.

شیخ متي ددې وخت یو پوه اوعالم شخصیت او په مروجه علومو پوه او په دیني علومو دنورو شاعرانو په رسیدلی عالم سړی ؤ، نو ځکه يې دبابا لقب هم درلود .دپه خپله کورنۍ کي دعلم اوپوهي بنسټ ایښی اوپه ټولنه کي هم په پراخه پیمانه علم رواج کړی دی. دده په کورنۍ کي دده چه ورسته نور پوهان هم ټولني ته راووتل او په خپل وخت کي دپوره نوم اونښان خاوندان وه. چي ددې جملې څخه موږ د شیخ کته نوم یادولای سو چي یو پوخ لیکوال وو اوپه ورسته کي دلرغوني پښتانه په نوم یوکتاب وکښی. اوشیخ قاسم چي په ٩٥٦هـ کي زیږیدلی دی او په ورسته کي تذکره اولیاي افغان نامتو کتاب يې ولیکی. او همدغسي شیخ امامالدین نامتو لیکوال دده دکورنۍ څخه دی چي نامتو کتاب يې دتاریخ افغاني په نوم وکښلی. په خپله شیخ متي هم دخپل وخت لیکوال دي او ډیر نامتوکتاب يې دخدای دمیني په نوم وکښی . اوپه خپل وخت کي پوره شهرت درلود او هرچا به دنوموړي کتاب څخه ګټه اخیسته اودپټي خزانې لیکوال وایي :نوموړی کتاب ترډیروخته دشیخ متي بابا پرمزارپروت و خودپټي خزانې مؤلِّف دده یوه منظومه دخپل پلار څخه اوریدلي اورانقل کړیده.منظومه په دې ډول ده:

له لویو غروهم په دښتوکــي ـ په لوی سهرپه نیموشپوکي
په غاړه ړغ اوپه شپیلکوکي ـ یادویرژلو په شپیلو کـــــي
ټول ستادیادناري سوري دي
داستا د میني نندارې دي !
جندي زرغوني که په بیدیادي ـ دبربنډ خوا ته په خندا دي
ترنک چي خړدی په ژړا دی ـ داټول اغیزدمیني ستا دی

ټوله ښکلـل دي ستا له لاســه
ای دپا س وا لو پاسه پا ســه
که لمر روښانه مخ يې سپین دی ـ یا دسپوږمیه تندی ورین دی
که غردی ښکـلی پــرتیمن دی ـ لکه هــندارمخ دسیــنــد دی
ستا دښکلا داپــلوشه ده
دايي يو سپکه نندارہ ده
دلته لوی غرونه زرغونیږي ـ دژوند وړمې پکي ځلیږي
بوراوې شاوخـــواکــړیــږي ـ سترګي لـیـد وته هیښیږي
لویه خاونده ټوله ته يې!
تل دنړۍ په ښکلیده يې

خاونده ښکی ستا جمال دی ـ ښکاره يې لورپه لور کمال دی
که ورځ ،که شپه،که پيرئ کال دی ـ ستا دقدرت کمکی مثال دی
ستا د لـــورونو یورښاده!
دلته چي جوړه تماشا ده!
زړه مي داستا دميني کور دی ـ سوی دعشق په سوځند اوردی
رپي وتاته داستا په لوردی ـ بې له دې هيڅ دی ورک يې پلوردی
ستا د جما ل په ليدوښاد د ی
که نه وي دغه، نور برباددی
په غروکي ستا دعشق شپيلکی دی ـ ددې نرئ په عشق سمی دی
که غټ که وړ که پنډ نـــری دی ـ  ستا دجمال ځری هرشی دی
چه پردنيا مې سترگې پرې سوې
ستا د جمـــا ل په ننداري سوې
نه هسک نه ځمکه ووتورتم وو ـ تياره خپره وه ټول عدم وو
نه د ا بـلـيس نـــه يې ا د م وو ـ ستا د جما ل سوچه پرتم وو
چه سو ښکاره ښکلي دنيا سوه
دپنځ پـرلــوري يـــي رڼا سوه
ز ه چي څرگند پردې دنيا سوم ـ دښکـلي مخ په تماشاه سوم
ستـــا پرجما ل باندي شيداسوم ـ له خپلي ستي را جلا سوم
په ژړا ژاړم چه بيلتون دی
يمه پرديسي بل مي تون دی
وگړيو ولې متي ژاړي ؟ ـ سورې يې اوری غاړي غاړي
څه غواړي ، څه وايي؟ څه باړي ـ خپل توان اوکوروکلی غواړي
چونی چه بيل سي نيمه خواسي
تل يې دبڼ په لور ژړا سي  !

وا سي يادوني سوي دي چي نوموړی کتاب چي (دخدای مينه) نوميړي دشيخ متي عليه الرحمه پرهديره به پروت وو او خلکو هغه ويلی اودهغه ډير سوزناکه شعرونه وه چي دخلکو په زړنو کې پوره ځای درلود او دهغه شعرنو دخلکوپر احساساتو دومره اغيزه ښندل چي هر چا چي به نوموړي شعرونه لوستل نوورسره ژړل به يې . دا نخسه تر ډيره وخته په کلات کي دشيخ متي صاحب پرهدير موجوده وه ؛ خو څه وخت چي مغل پردې خاوره تيری وکړاودافغانستا ن يولړ برخي تر خپل اشغال لاندي راوستي نو هغه وخت چي کلات هم داشغالگروپه لاس کښيوت نونوموړی کتاب يې هم له ځانه سريووړاو ترنن ورځي پوري يې بيا درک هم نه دی معلوم سوی او ممکن په شعوري توگه يې دمنځه وړ وي. خو په هرصورت شيخ متي يو پوه اودقدروړ شخصيت وو او په خپله سيمه کې پوره مينه وال درلوده. اود کهول اوس دمتي خيلو په نوم په خورا ډير تعداد سره اوس هم سته چي ډيرمحترم پښتانه دي.اودکلا ت خلکو دده په درناوي دښوني اوروزني په چوکاټ کي يوه غټه او مشهوره ليسه جوړه کړيده چي هرکال په سلهاو زده کونکي دهمدغه ليسې څخه فارغيږياواوپوهنتونوته معرفي کيږي او بيا ټولني ته وړاندي کيږي .دشيخ متي زيارت دکلات پرلوړه غونډئ پروت دی اوولسونه يې زيارت ته ځانگړې عقيده لري او دده دکتاب په باب چي دخدای مينه نوميږي چي په اصل کي يوه دشعرومجموعه ده اونوموړی کتاب شيخ متي صاحب په غونډان کي ليکلی دی . اوکه د نوموړي کتاب دغه پورته شعر دپټي خزاني په وسيله نه وای ساتل سوی نو به په دې کي شک هم نه وايی چي اوس به دهغه په باب دشاعری کومه بلگه هم نه وای نوپه همدغه ډول دغسي شاعران په يوه پراخه پيمانه ورک هم دي . اومحمد هوتک هم دخدای دميني دشعردنوپه باب ډيرښه نظرلري اوهغه يادونه کوي چي دخدای دميني اشعار خواږه او دلوستونکو پراحساساتو باندي په ځانگړې توگه اغيزي ښندي .

بابا هوتک ٦١١ ـ ٧٤٠ هـ

بیا هم دپښتنو دیووتلي شاعر شیخ اونامتو دکرامات خاوند بابا هوتک په باب خپل قلم څرخوواودهغه حق اداکوو. شیخ هوتک بابا دباورعیله رحمه زوی او دتولرخان لمسی ؤ، چي تولرخان دغلجي له کورنی څخه وو. دمؤرخان په قول داکورنی دبیټ نیکه له توکمه اودهغه دنامتوکورنۍ څخه راوتلی دی، چي له همدغه کورنۍ څخه ډیرنامتو پوهان او ادیبان راوتلي دي.چي په خپله بابا هوتک هم تر ترنکه دپښتنو مشري درلودله . چي تر ٦٠٠ هـ په شاوخواکي دپښتنو مشري دهمدغه کورنی په لاس کي وه او بابا هوتک هم په ٦٦١ هـ کي زیږیدلی دی.دمغلو دیرغل له پیله بیا ترپایه بابا هوتک لومړی پښتون شاعردی چي له خپله وطنه او هیوادنه یې دفاع کړیده.بابا هوتک خپله په مستقیمه توګه دمغلو او نور و یرغلګروسره په جګړوکي برخه اخیستې ده . او دقلم اوتوري په زور یې دمغلو سره مبارزه کول چي یو شعر یې تر موږه رارسیدلی دی.

دبابا هوتک حماسه

پرسورغر بل راته نن اور دی ـ وګـړیه جوړراته پیغور دی
پرکلي کورباندي مغل راغی ـ هم په غزني هم په کابل راغی
***
غښتلو ننګ کړی داموواردی ـ مغل راغلی په تلوار دی
په پښتون خواکي ناتاردی ـ پرکلي کورباندي مغل راغی
***
آد مــرغــي غښـتلوراســي ـ پرننګ ولاړد پښتونخواسی
توري تیرې غشي ترملاسی ـ پرکلي کور باندي مغل راغی
***
زلموپه غشیوکړی وارونه ـ د تیرو تـورو ګــذارونــه
ورړواندي کړی خپل تېرونه ـ پرکلي کور باندي مغل راغی
***
زما دزلمو ویني بهیږي ـ مځکي اوغرونه په سره کیږي
میرڅي زغلي اوترهیږي ـ پرکلي کورباندي مغل راغی
***
پښتنو هلی پرغره جنګ دی ـ سورغرپه وینو ددوی رنګ دی
مها ل دتورې دی دننګ دی ـ پرکـلي کور باندي مغل راغی
***
زلموپرننګ ځانونه مړه کړی ـ دښــن په غشوموپیپه کړی
دپښتنخا مځکي ساته کړی ـ پرکلي کور باندي مغل راغی
***

با باهوتک دپښتونخوا سیمه په خپلو میرنیو پښتنو ساتل اوتل به یې دهیواد پالني په روحیه نوي ځوانان دهیواد دساتني ولوړي روحې ته اماده کول . او په دې توګه یې دمغلو سره خورا ډیر جنګونه وکړه ، اوهمیشه به مغل پسله یرغل څخه بیرته په تیښته کي وه اوداتغر او مرغې په غرونوکي به پټید ل خو دهغوی دپاره اتغر او مرغه یو دامن ځای نه وه او په همدغه ترتیب به یې دارغنداب دسیند پوري غاړي ته وشړل . بابا هوتک په همدغه جنګونوکي سپین ږیری سو.خو دده وخت په جنګو کي تیرسو اودا هغه وخت دی چي دپښتونخوپر سیمه دغوریانو عظمت کمزوری سوی دی اودمغلو تاړاکونو ، ظلمونوخپل استعماري زورزیاتی راپیل کړی دی او په دې وخت کي په ځینو برخوکي دسیستان او هرات ، خرسان ځیني برخي کي چي محلي زورواکان پرسرد قدرت وه هغه دمغلو سردسازش په روحیه څه ناڅه ارم وه خو پښتنو چي تل خپل هیواد په خپلو وینو ساتلی دی هغه په جنګوکي راشکیل او قرباني ورکوله. چي دجنکو ډیربرخه دارغنداب او ترنک په ورشوګانو کي دمغل په مقابل کي

مبارزه کوله اوهمیشه به وجنگنو په وخت کي غروته ختل او دغرو څخه به يې دوسيلې په توګه ګټه اخيسته چي په دې بدواوناارامه شرايطو کي بابا هوتک هم ژوند کاوه ، نو په همدغه اساس بابا هوتک په پښتنو کي لومړی شاعر دی چي دمغلد په مقابل کي حماسي شعر ویلی دی اودپټي خزاني په وسیله موږته راپاته دی نو موږی شعر موزون او قافیه داره شعردی ، خو پسله ډیرادبي خدمته چي هیوادته يې ډيري قرباني هم ورکړې خوپه پای کي داويا کاله په عمر يې ددې فاني دنيا څخه سترګي پټي کړې اوپه سنه (۷٤۰) هجري کال وفات سو . ( روح دې ښاد وي ) .

ملکـيــار غرشين
(۵۸۰ هـ شاوخوا )

ملکيارغرشين هم يو غښتلی اوتوريالی سړی ؤ. دی هم دتوري او قلم څښتن وو، چي دسلطان شهاب الدين غوري سره په جنګواومبارزوکي ملګری ؤ، دبزرګۍ او ديني تصوف ، پوهي له پلوه هم دپوره شهرت خاوند ؤ. اوپرسلطان باندي يې هم پوره قدرموجود ؤ. اوپه همدغه خاطريې په ډهلي کي يو ځای دده په نامه کړی وو. ملکيارهم هلته په ډهلي کي اوسيده او هم هلته مړاوښخ کړل سو، څه وخت چي دشهاب الدين لښکري په جنګ کي دماتي سره مخامخ کيده او مورال يې کښته راتله نو دغه مبارز اديب اوعارف يوه دننګ او جنګ رزمي سندره وويل : نوبيرته به يې لښکر همت بريا ليتوب اوپيروزۍ ته اماده کړه . او په همدغه ډول په پای کي به سوبه يا بريا دسلطان شهاب الدين په برخه سوه .

څښتن مومل دی اوس مويرغل دی هيواددبل دی
غازيانو ګوری ـ څښتن مو مل دی
توري تيرې کړی دښن موپرې کړی منګولي سرې کړی
څله به تښتو ـ څښتن مو مل دی
که ټينګ کړو زړونه پربري يونه چي زمري يونه
اسلام را څخه دی ـ څښتن مومل دی
غازيانو راشی ټول شاوخوا شی دشهاب په ملا شی
دښن مو غوڅ کړی ـ څښتن مو مل دی

دملکيار غرشين په باب با يدوويل سي چي ملکيار په قوم غرشين او غرشين دپښتنو يو لرغونی او ستانه قوم دی او ملکيار دهمدغه قوم يو لرغونی اوستانه پوه او مبارز سړی دی. دوی څنګه چي تاريخ ليکي يو زحمت کښه قوم دی او وچ غر يې شين او سمسور کړ نو ځکه يې غرشين بولي اوپه شمير نسبت لږدي . دملکيار غرشين په باب نعمت الله هروي ليکي : چي شيخ ملکيار دابوبکر طوسي دوخت او زمان دی ، او په ډهلي کي يو ځای ژوند سره کاوه چي سلطان دملتان دفتحي پروخت وده ته بخښلی ؤؤ. اودده مقبريا مرقد هم هورې دی .
دغه روايت چي نعمت الله کښلی دی څوسوه کاله مخکي سلمان ماکو هم همدغسي را وړي دي. اوددې څخه معلوميږي چي دملکيار غرشين ژرند هم دسلطان معزالدين غوري په وخت کي تير سوو دی اودا وخت ۵۷۱هـ کيږي . سلمان ماکو دده دحماسي ژرند په باب ليکي :چي هغه دتوري اوقلم څښتن اود وخت په مروجه علومو پوه انسان ؤ.اوهغه پښتنو اومسلمانانو ته ستره پيروزي ورپه برخه کړه. دسلمان ماکو له بيانه معلوميږي چي ملکيار غرشين توريالی دوخت په مروجه علومو پوه ، شاعر ، اوهيوادپاله انسان ؤ.او هغه به تل نه يوازي دخپل ځان شعرونه ويل ؛ بلکي هغه به دنورو شاعرانو شعرونه هم زمزمه کوله چي په همدغه ډول سلمان ماکو دملکيار له خولي دسرين شعرونه را نقل کړي دي . ځيني مؤرخان دملکيار له نامه سره پرن هم ليکي ـ چي سلطان فيروزشاه په (۷۲۵ ـ ۷۹۰ ) ډهلي ته نژدې فيروزآباد جوړکړاوپاچا دشيخ ملکيارپران په نامه يو سرا هم جوړکړ . او دهمدغه عصر مشهورتارخ پوه ضيالدين برنی ئې په (۷۵۸) کال کي يادونه کوي . او نور تاريخ پوهان يې هم په همدغه ډول تصريح او څرګنده وي . او اوس هم ملکيار په ډهلي کي دشيخ ابو بکرطوسي له مزاره سره يو ځای ښخ دی.ملکيار نه يوازي دپښتونخوا په غرو اورغو کي دپوره نوم

انښان خاوند دی ؛ بلکي هغه په سیمه کي په ځانګړې توګه په ډهلي کي هم خپل نوم اونښان په ډیر ښه توګه ساتلی دي او خلک هم پوره احترام او درناوي ورته کوي . په ځانګړې توګه دډهلي مسلمان ولس ، ولي دملکیار نور شعرونه زموږ په لاس کي نه شته او دا هم نه ده معلومه چي هغه به نور څومره شعرونه ویلي وي اوشعري دیوان به یې په توګه له منځه تللی وي . خودا چي ملکیار غرشین هرڅومره شعرونه ویلي دي خامخا به یې ویلي وي ، ځکه دهغه دپوخ شعر څخه داسي معلومیږي چي هغه دخپل وخت ډیر ښه شاعر او ادیب ترسودی ، خو دنورولرغونو شاعرانوپه څیر یې شعري دیوان زموږ سره نه سته او دږخت دتاړاکونو په سبب به له منځه تللي وي ، اودیادولو وړ بولم چي ولیکم موږداته دوه ملکیاره لرو . لومړی ملکیار غرشین ؛چي پورته موبیا پر وکړ . دوهم : شیخ ملکیار هوتک : چي په ۷٤۹ کې ژوند تخمین سوی دی. اوپه ۷۱۵ هـ کي زیږیدلی دی .

اکـبـر ز مـیـنـد ا و ر ی

د۷۸۰ هـ شاوخوا

اکبر زمینداوری هم دپښتنو دلرغونو او قوي شاعرانو له جملې څخه دی چي دده اثار هم ورک دي اویوازي یې یو څو پاڼې دپوهاند مرحوم حبیبي صاحب په تلاش میندل سوي دي . چي دهمدغه پاړکي په وسیله علامه حبیبي صاحب موږته یو نامتوشاعراودوخت دقلم خاوند یې موږته راوپیژندی او دپښتو ادبیاتو لمن یې په پراخه پیمانه ارته اوپراخه کړه.

اکبرزمینداوری پوخ شاعردمغلوپه پیراودوران په لومړیو وختونو کي ژوند کاوه. او دی هم دهغوشاعرانو دجملې څخه شمیرل کیږي چي دغه دوران یې په خپلواشعاروکي غندلی او شکایت یې کړی دی.اوددوران څخه شاکي شاعر دی، اودنموړي دلاندي شعر څخه داسي معلومیږي چي خامخا به شاعر یو پوخ شعري دیوان هم ولري.

شعر

مثنوي

زه عاشق یم یارهم نیز نورڅه نه لرو تمیز!

یو پربله عاشقان یو هم په خپل عشق کي صادقان یو

یو په بل پسي رنځوریو چه نژدې نه یو مهجوریو

عشق که ښه دی که بلا دی پیداکړی زموږ مولادی

که ږغ نه کاعاشقان څوک مړشي دوی پرداجهان څوک

خوبه دواړه شهیدان وي که رشتینی مسلمان وي

زه که مخ په اوښوسورکړم زړه کباب صورت تنور کړم

لایق داچي دازه وکړم څه تهمت به پریارنکړم

ولي هرځای زه بیلتون کړم بیا دسرواوښورژون کړم

هم اشنا خوار کړم هم ځان بیا تهمت کړم پردوران

که نژدې که پرهیواد یم زه دده په خیال ویادیم

چه دغه ښه دیدن یې یادکړم په تش خیال یې خاطر یا دکړم

زه چي ژاړم مرادمي دادی چي اشنا له ما جلادی

زه دیارسم یارمي خپل سي زه بلبل سم یارمي ګل سي

په سپین مخ باندي تپیږم چي دی خاندي ترې جاریږم

دلیدوشربت یې نوش کړم غم دهجر فراموش کړم

سره کینو په خنداسو

په داتیراحوال ګویاسو

چه تیرشوي په هجران دي خوشحال سوي غمزان دي

له دې پسه به صحبت کړو زده زړونه به راحت کړو

چي غمازپاڅي له میانه همنشین شم له جانانه

چه غمازله میانه دورسي نورکه شپه وي هم به نورسي

ولي يار زما خواهان دی    بیا په عشق کي پهلوان دی
ډیرنفرت کاله غمازه    رب دي دی کا سرفرازه
زه هرڅوچي باندي چور یم    خودده په پند ماموریم
که زلمی دی خو عقل دی    بیا دعشق په کار مـل دی
ترما زیات دعشق په کاردی    هم مـــعشوق هم مینه داردی
خو په خپله ترې جلا سو م
مدام سرپه واویلا سوم

داکبرزمینداوري نوموړی شعر چي دسوزاو عشق یوه غوره نمونه ده په خپل ځان کي هغه جذبه ښوي کوم چي په طبعت کي هم نوموړیه جذبه شته او پوهان یي دجاذبي قوه بولي . او نوموړې جاذبیه دعاشق او معشوق پاکه مینه ده. خوپه هرصورت نوموړی شعر دیوه انسان دعشق احساس ښوي .یوبله نمونه یې :

کسر

زه چي په مینه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم
زه دهجران د بیلتـا نه د تو ر و جنګ لـره ځم
زه اپوته یم په هجران سره قرار نلرم
هجرمي اوږد سو د وصا ل دامید کا رنلرم
بیلتون په خوله راکړې ځاپیرې زه لاعارنلرم
وام دمعشوق پرسینه پروت زه تورلونګ لره ځم

***

ځیني یې ولي څوک عاشق څرنک به توري کاندي
پرخوا ر مین د شها هومره ژوري کـــانـــــدي
بې نیازه نه کا چي پـلــو له مخــه لیري کــانـــدي
چي راوپاڅي په اخلا ص چي خپل چورنګ لره ځم

***

اول خوته نجلی په عشق باندې اقراره سولي
اوردي را پوري کی نورکښینستي قراره سولي
هیڅ ګفتګووي له عشقه نه کوې بیزاره سولي
یوارخو، و وا یه قرار چي د یا ر څنګ لره ځم

داکبر په پورته غزل کي دعشق څرګندونه په ډاګه سوې وه. اونوموړی احساس به خامخا دیوه عاشق احساس وي اومعلومیږي چي داکبرزړه دیوه احساس او عاشق زړه دی او اظهاریې دهغه دزړه اوازدی .

داکبر زمینداوري یوه بله په زړه پوري غزل :

---

دخپل ځان له حیرانی څه ویل کړم
دعشق ویربه تل په خپله پټول کړم
مامدام لکه بورا پرګلوکښت کـــړ
اوس به ځم په سرتورسرفراق دګل کړ م
دغماز لړمون به زه په لمبه کښیږدم
ځیني هیربه دیار بزم اومل ګل کړم
زما دیار دمیني اور په زړه کي بل دی
زه به سراو مال ښندم دیدبه حاصل کړم
دبیلتون له ویره ژاړم اوښکي ویني
زه اکبرپرخپل اشنا دسرښند ل کړم

---

چي مدام زه ستا ومخ وته نظروړم
دبيلتون له بيړي زړه زيروزبروړم
که په مادي حکم وشي چي خادم شه
دغه ستا دنغري سور انګار پرسروړم
چي جمال په مهراومينه راښکاره سي
شين توتي شم په هوا دميني پروړم
چي ګفتاردي په ښه مينه راته وسي
نو بډاى سم کوټي کوټي در ګوهر وړم
که مي وژني که مي پيري رضا ستا ده
ستا وعشق ته مدام موخه ځګروړم
چي جمال دي په هجران کي را پياد شي
هغه دم په تصور شمس وقمروړم
ستا دتورو څنوخيال هسي طويل کړم
تل په زړه کي دغه فکر زه ا کبروړم
***

داکبر زمينداوري شعرونه دسوزاوميني ډک شعرونه دي او هر څوک که دميني په جال کي بندسي نوبه دغسي احساس اودميني ډک شعرونه ديوه الحام په څير واي . او دهغه دشعرونو په ډولونو کي رنګارنګ ځانګړني سته؛هغه مثنوي شعرونه،غزل،څلوريځي اوډول ډول فورمو نه لري.هغه دعشق جاذبيه دمعشوق پرزړه ديواغيزناکه څرګند وا قيعت په څيرڅيرلى دى هغه ته مينه يوعيني واقيعت اوپرژوند دهغه اغيزي لوړي ښوي. خو ډير لږ شعرونه يې موږ ته راپاته او دتاريخ دانقلابونو څخه ساتل سوي دي.

اکبرزميناورى هم دپښتنو دورکوشاعرانو له جملي څخه دى چي ډير شعرونه يي ورک او دتاړاکونو قرباني سوي دي. خو دعلامه عبدالحي حبيبي صاحب په زيار او زحمت سره دنومړي شاعر پته پښتنو ته څرګنده سوه اونوموړى شاعر دمغلوپه لومړي تاړاکونو کي ژوند کاوه او ديوه بيت په وسيله يې دمغلو ظلمونه غندلي دي اوداسي شکايت کوي . او هسي وايي:

د مغلو تمر(١) هسي په اور وسو م
چي به هيرپه دې ماتم زميداورکړم

ددې بيت څخه داسي معلوميږي چي دى دګوډتيمور په وخت کي ژوند درلودځکه چي (تمر) دتيمور پخوانى املا ده اودې پاچا له (٧٧١ هـ ٧٠٧) هـجري پوري سلطنت درلود . نوداکبر دژوند شاوخوا هم دغه کلونه ټاکلاى سو.او امير تيمور په ٨٠٠ هـ کي دافغانستان نور ځايونه فتح کړه .بيا يې له کابله دهند پرلوري حرکت وکړ .

## سلطان بهـــلول
## ٨٥٥ هـ ٨٩٤ هـ مړينه

ملک بهلول دملک کالو زوى وو ، دى زړه ور مدبر اوپوه پښتون وو.
په( مخزن افغاني) کښي نعمت الله هروي رحمه الله عليه هسي کښلي دي چي : ملک بهلول دملک کالازوى وو، په هندوستان يې دسلطنت بيرغ هسک کړ، اودعه ملک دلودي طايفې څخه ووچي دډيري زمانې راهيسي لودي ټبراو کورنى په هند کي سلطنت کاوه .
ملک بهلول داسلم خان تر وفات ورسته په سرهند کي قدرت وموند اوپسله ډيرو جنګو څخه يې پرهند اوډهلي باندي دپښتنو دحکومت واګي ټنګي کړې اوپه ډهلي کي کي ورسته دده په نوم خطبه او سکه

وهل کیده. او په مسلسل ډول یې پاني پت ، لاهور ، هانسي ،حصاراو نا ګوار یې دملتان تر څنډو پوري ونیول . خو دهندوانو درا جاګانو سره یې سخت جنګونه وکړه اودسخت مقاومت سره مخامخ سو، خو پښتنو وهندوانوته دا وخت ورنه کړ چي دپښتنو واکمني دي ختمه کړي او په لره اوبره پښتونخوا کي پښتانه سره یو موتي او سلطان بهلول حکومت یې حمایه کاوه ، خو دبله پلوه دلودیانو حکومت هم یو ازاد حکومت ؤاو هندوانو په پوره ازادي سره خپل مذهبي مراسم ترسره کولای سوه. نو هندي راجاګانو هم د بهلول حکومت پیژنده اودهغه ملاتړیې کاوه.

سلطان بهلول یو عادل پاچاوواودمسلمانانو او نورو مذهبونو سره یې په تفاهم کي ژوندکول غوښتل اوپه همدغه ډول یې آته دیرش کاله پرهنوستان سلطنت وکړدده په باب ډیرتاریخونه اوویونکي وایي : چي سلطان بهلول په هند کي په عدل او پوهي باندي شهرت درلود .اوپه پای کي سلطان بهلول په کال ۸۹٤ هجري قدسي وفات سو لکه چي وایي :

به هشت صدونودوچهاررفت ازعـا لـم

خـدیوملک ستان وجها نـکشا بهـلو ل

محمد رسول کلاتوال په خپل بیاض کي داسي کښلي دي چي په هندوستان دبرسات په موسم کي خلیل خان نیازي هسي رباعي انشآ کړه اودسلطان بهلول ئادشاه په مخ کې وویله :

خړي وریځي ژاړي له پاسه ـ کویله ږغ کا بیلتون له لاسه

یه ؛ هغه لوني ګوهرپه خوله ستا ـ دامرحبا کا ستا زموږ مواسه

سلطان بهلول چي دا رباعي واوریده په جواب کي دالاندي رباعي سمدستي وویله :

رباعي دسلطان بهلول

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه ـ ګوره اوریځي ددادله پاسه

خول مې دعد ل په درورون دی ـ جهان به زیب مومي زما له لاسه

خلیل خان نیازي

د(۸۹۰ هـ ) شاوخواکي

خلیل خان نیازي دخپل وخت یو پوه او نامتو شاعر او لیکوال اودپوره شهر ت خاوند تیرسوی ادب پوهه دی اوددوی قبیله هم په هند کي دلودي قبیلوپه څیره شهردرلودی. او خلیل خان نیازي هم دنیازي قبیلې پوري تړلی دی او که څه هم نیازي قوم په افغانستان کي دنورو قومونو په پرتله لږدي اوپه هند کي نوموړی قوم سته او په همدغه ډول دافغانستان په کندهار ـ غزني ـ شیوه ـ لغمان اودهنداوپاکستان په بیلو ، بیلو ځایونوکي تیت سوي دي . اود لودي اوسوري قوم سره یې په هندکي دحکومت چاري سرته رسول. اوپه همدغه وخت کې ډیر مشاهیردرلودله .لکه : هیبت خان نیازي ـ چي دشیر شاه سوري په وخت کي د اعظم همایون په خطاب دلاهور حکمران وو. اونیازیان دسوریانو او لودیانو غښتلي ملګري وه. چي تر اوسه یې هم بقایاپه هند کي شته چي ددې جملې څخه یو هم ( خلیل خان ) دی اوپه همدغه ډول سره خپله خلیل خان نیازي په باب پټي خزانی هم فقط یوه څلوریځه چي ډیر ارزښت لري رانقل کړیده اود لرغوني ادبیاتو لمن یې په پراخه کړیده .

اودده په باب محمد رسول خان کلات وال په خپل بیاض کښي دده په باب دغه مطلب په ساده ژبه بیان کړی دی . اوهغه لیکي چي : په هندوستان کي دبرسات په موسم کي هغه وخت دی چي سلطان بهلول ناروغه واو په دغه وخت کي خلیل خان نیازي دغه څلوریځه ورته سوغات کړه. اودسلطان هم ډیر خوښه سوه . او په ځواب کي سلطان بهلول هم هم یوه غوره اوښه څلوریځه په ځواب کي ورته وړاندي کړه. چي نوموړې څلوریځه مخکي موږ وړاندي کړه .

زرغون خان نورزی

۸۹۰ هـ شاوخوا

زرغون خان په نورزیوکي یولوی غښتلی او ننګیالی او جنګیالی انسان ؤ.هغه دقلم خاوند اودادب په دنیا کي یو ناموتوشخصیت تیرسوی دی.زرغون خان نورزی دقوم مشروو.کله چي دماورالنهرشیباني

خان پرهرات او سیستان حمله وکړه نوزرخان دهغه په مقابل کي پا څیده اودوطن څخه یي دفاع وکړه اوخپله ازادي یي وساتله . هغ برسیره پردې چي دقوم مشري یي په ډیرښه توگه ترسره کول هغه دقلم په ؟به هم دخپلي مورنی ژبي حق ور ساته اوداسي اثاريي خلق کړه چي هیڅ وخت به زاړه نه سي او بکراثاريي په پښتوژبه کي ایجاد کړه . هغ په پښتو ؟به یو فوق العاده دیوان جوړ کړ. دده دیوان په ۹۱۲هـ کي دملا ایوب تمین څخه و ، چي درې سوه (۳۰۰) پاڼي یي درلودې. دوست محمد کاکړ په خپل نامتو اثر غرغښت نامه کي دهغه له دیوانه دا مثنو رانقل کړیده ، چي له ده څخه بیا دپټي خزانې مؤلف را اخیستي ده .

ساقي نامه

ساقي پاڅه پیاله راکړه *** مروریارمي پخلاکره
اوبه توئي په لمبوکړه *** اورمي مړپه دې اوبوکړه
پسرلی شوغنچه گل کا *** زلفي تاوې دسنبل کا
بلبلان شوروفغان کا *** کړیدن په گلستان کا
زاهد وزي صمي څخه *** شرب پیري میخانې څخه
هرسړی په میو مست دی *** دې بهارکې گل پرست دی
په راغوکښې سرې لمبې دي *** دغټولـونـنداري دي
جهان ټول سور او زرغون شو*** وچ راغه ښکلي گلگون شو
سړي ټول شور وشعب کا *** یاراني کاندي طلب کا
بهاروخت دیاراني دی *** ښه موسم دپیماني دی
نوساقي پاڅه بهاردی *** نن ژوندون سبارفتاردی
دنیا پاته موږ به ځونه *** توروخاوروکښې به یونه
پیمانه ډکه له میٔ کړه *** بزم تودپه پیاپی کړه
چي یودم سمه آزاد *** ناښادزړه مي سینه ښاد
ساقي پاڅه وخت دگل دی *** په جوشش کې خم دمل دی
وخت دمیودویشودی *** دپیالودډکېدودی
هغه څوک اوس دپیغوردی *** چي یې جام تش ونسکور دی
مستان گرځي په باغوکې *** مستي کاندي په راغوکې
لاس په لاس دي یارانې کا *** یوپربل نازو نخرې کا
مجنون وصل له لیلا دی *** دجمال په تماشادی
نه غمجن سته نه بیلتون سته *** نه مهجورنه ځیگرخون سته
ترتاوگرځمه راسه *** ساقي یوه کړیٔ پخولاسه
ماته جام دربل ولورا *** چي یو تش سي ډک یي نوررا
اورمي بل دزړه په کور کړه *** له هرچا هرڅه یي تورکړه
چي بل څه نوي الفت وي *** ټوله مهرو محبت وي
ټول اخلاص وي اوصفاوي *** تیاره ورکه سي رڼا وي
له زړه کم غش اودغل سي *** جهان ټول گل اومل شي
ساقي ستا مهر مطلوب دی *** نو بهار ځمکه مرغوب دی
که ستا لور پیرزونه وي *** نو بهاربه په څه ښه وي
خوند به نه کا رنگ دگلو *** بې مستیو بې له ملو
نه به بزم په شور تود سي *** نه نغمي نه به سرود سي
جام به تش دآرزوسي *** ورک به مهراوپیرزوسي
نوساقي پاڅه بهاردی *** بزم تاله امیدواردی
یاران ناست سترگې څلوردي *** ستا دجام په امید نور دي
ته هم راسه عنایت کړه *** بزم تود دمحبت کړه

له سروملو څخه ډک جام کړه *** دیارانویې انعام کړه
چي سوړ بزم په مې تود سي *** درندانو غوړوسرود سي
دژهان ویر وغم هیر کا *** یو دم ښه په عشرت تیرکړه
چي په مخ کي مو بیلتون دی
لــه جــهــانــه سبا یــون دی
***
**
*

زرغون خان نورزی چي دلوی کندهار اوسیدونکی اود نورزودتوکم یو ډیر پوه شخصیت تیرسوی .اودنورزوقوم دافغانستان په بیلو بیلو سیمو کي اوسیږي لکه فراه ، کندهار، هرات ، دهراوت چمن او دسپن بولدک په شاه وخوا کي ژوند کوي اوپه تعداد هم ښه غټ قوم دی . اودپټي خزانې په حواله خپله زرغون خان دنوزاد د(زمینداور ) اوسیدونکی وو.چي دقوم مشرتوب یې کاوه، هغدشیباني خان سخت دښمن اد هغه دډله ایزو حملوپه مقابل کي دیوه سپرپه څیرمدافع ؤ. ادشیباني خان یې دهرات او سیستان له یرغله وژوغوره اوهغه یو مدافع مبارزؤ. زرغون خان په ۸۹۱هـ کال دخراسان په سفرتللی اوعراق ، فارس ته یې یو علمي او څیرنیزسفروکړ، خو څه وخت چي دشیباني دحملو اویرعل نه خبرسو نوسمدلاسه یې هیواد ته تکل سو اود شیباني په مقابل کې لښکري او هیوادوال سره را غونډکړه او هغه یې ددې تیري څخه پرشاه وټمباوه.
زرغون خان نورزی لکه څنګه چي دتوري اومیراني په ډګرکي بریالی او ملي مبارزؤ همدغسي دقلم په ژبه هم دادب په تاریخ کي خپل ځانته پوره برخه لري او دخپل وخت پوه انسان ؤ، لکه څنګه چي پټه خزانه په دې باب ددوست محمد کاکړ له خولې داسي لیکي : زرغون خان خورا ډیرعمر ژوندی ؤ اودنهایت ضعف اوسپن ږیرتوب پروخت په ۹۲۱هـ کي دقندهار په دهراوت کښي وفات شوی دی . (روح دې ښادوي ).
دزرغون خان اشعارخواږه اوپه زړه پوري دي اوهغه یودیوان هم درلود چي په کجران کښي په ۹۱۲ هـ له ملا ایوب تیمن څخه ؤ، نوموړی دیوان دوست محمد هغه وخت لیدلی ؤ ، چي هغه هرات ته تللی. هغه دغه دیوان کتلی ؤ او ۳۰۰ پانې یې لرلې ، او همدغسي دوست محمد کاکړپه خپله غرغښت نامه کي دنوموړي کتاب یوه په زړه پوري مثنوي رانقل کړیده او هغه مثنوي پټي خزانې هم له همدغه غرغښت نامي څخه را نقل کړده. موږ هم دلرغونو ادبیاتو په تاریخ کي په پورته ډول سره ولیکله اودهمدغه ډیرولرغونوادبیاتو په په اسنادوکي مو دڅیړنو دپاره ځای پرځای کړه. په پورته مثنوي کي دپارسي او عربي ادب اغیزي سته اوداځکه چي په نهمه هجري پیړۍ کي نوموړي اغیزي پرپښتو ادبیاتو جوتي وې. په پښتوادبیاتوکي هم دفرسي دادب په څیرد۴۰۰هـ پیړی چخه رومانتیک شعرونه اوساقي نامي راپیل سوي دي .

زرغونه کاکړه
د۹۰۰ هــ شاوخوا

داسي معلومیږي چي دپښتوشعر په تاریخ کي به دالومړۍ ښځه وي چي موږیې دشاعرۍ په صفت سره پیژنوزرغونه کاکړه دکندهار دپنجوائي وه، دپلارنوم یې ملادین محمد کاکړؤ. دی دخپل وخت مروجه علوم زده کړي وه، دادسعدالله خان نورزي ښځه وه ، چي هغه هم په مروجه علوموپوه اودآزادفکر خاوند ؤ. هغه ډیرنومیالي او غښتلي زامن درلوده ، چي دعلم ،هنر اوتوري خاوندان وه، زرغوني په ۹۳۰ هـ کي دشیخ سعدي علیه الرحمه فارسي بوستان په پښتوژبه ترجمه کړ. دابرسیره پردې چي ښه شاعره اوادیبه وه دښه خط خاونده هم وه، چي دخط ډیر ډولونه یې کښلای سوه . دپټي خزانې لیکوال ددې په بابا وایي: ( هغې په پښتو ژبه دپارسي دیوان دومره ښکلی کښلی ؤ ، چي مرغلروهم ددې ښکلي لیک ته عاجزي کوله .) ویل کیږي چي دزرغونې له بوستانه موږیوازي ددې له بوستانه یوحکایت په لاس کي لروچي دپټي خزانې په وسیله موږته په لاس راغلی دی.

حکایت له پښتوبوستانه
اوریدلي مي کیسه ده
چي له شاتو هم خوږه ده
داخترپه ورځ سهار
بایزید چي ؤرویدار
له حمامه راوتلی
په کوڅه کي تیریدلی
ایري خاوري چاله بامه
راچپه کړلي ناپامه
مخ اوسریي سو ککړ
په ایروپه خاوروخړ
بایزیدپه شکرکښنوسو
دخپل مخ په پاکیدوسو
چي زه وړیم دبل اور
چي په اورکي سم نسکور
له ایروبه څه بدوړمه
یابه لړشکوه کومه
هوپوهانوځان ایري کړ
له لویني ئي ځان پريږ کړ
څوک چي ځان ته ګوري تل
خدای ته نه سي کړای کتل
لوئي تل په ګفتارنه ده
لوخبره په کارنه ده
تواضع به دي سرلوړکړي
تکـبربه دي تـل څـوړکــا

ویل کیږي چي زرغوني زده کړه له خپل پلارملادین محمد کاکړه نه کړې وه ،زرغوني په پښتو ژبه اوشاعرۍ کي پوره مهارت اوشهرت درلود اوډیروخلکوبه دهغه شعرونه لوستل اویوه منل سوې شاعره وه.

خو څه وخت چي په ۹۳۰ هـ کال کي دشیخ مصلح الدین سعدي پارسي بوستا په پښتوژبه په شاعرنه اندازواړوی نو شهرت یي خورا زیات سو اویوه نامتو شاعره سوه. اودخط ډولونه یي لیکلای سواوپه خطاطي کي پوره استازه وه اوډیرو خطاطانوله دې نه دخط اولیک ډولونه زده کول .

دېټي خزاني په حواله زرغوني پر غزلیاتو برسیره نور ډول اشعار هم درلودل، خودبده مرغه مودهغه دېدلدنوڅخه کوم ډول په لاس کي نه لرواویوازي یي هغه پورته شعر دېټي خزانې په مرسته موږته راپاته سوی دی. چي دزرغوني دشاعرۍ اوکلام قوت اوپوخ والی ځیني څرګندیږي. زرغوني په پوره امانت دارۍ سردشیخ سعدي بوستان ژباړلی دی او هغه یې بیله کوم تغیر او څخه په پښتوژبه اړولی دی چي موږیې نمونه په پورته ډول سره وکتل اودې ته دوخت اخلاقي او امانت داري هم واي چي دغسي امانت داري که په نورو لیکوالانوکي وي نو یوه نمونه به یې هم په اخلاقي لحاظ زرغونه کاکړه وي .

<u>رابعه د۹۲۰ هـ شاوخوا</u>

بله شاعره ميرمن رابعه ده چي داهم په همدغه عصر کي په کندهارکي اوسيدله، اوددې شاعري نور حال هم موږته نه دی ښکاره او لکه دنورو شاعرانو په څيرددې حال هم زموږ څخه دوخت دبدو شرايطوپه اساس ورک دی او دديوان يې هم څه پته نه لګيږي. خو دپټې خزانې ليکوال يې په لنډه توګه داسې معرفي کوي : ( حال ددې شاعري ماته نه دی معلوم سوی خولږ څه چي ښکارده ، هغه هسې معرفي کوي ، چي داشاعره دکندهار اوسيدونکې وه اوپه دوران دبابر پاچايې ژوند کاوه.)
پټه خزانه رابعه ډېرو اشعارو خاوند ګڼي ، او يوديوان يې هم درلود چي متاسفانه اوس زموږ په منځ کي هغه نه سته او يوازې يې دغه راپاته سوی شعر موږ لرو اودهمدغه ( مشت نمونه خروار ) يا له همدغه شعر څخه يې موږ پرتله کولای سو، چي رابعه په واقيعت کي خورا لوړه شاعره تيره سوې ده او پټې خزانې نوموړی شعر دخپل ملګري ښاغلي صديق او ملګري محمد طاهرجمرياني له خولې اوريدلی دی اودغه رباعي يې په دې ډول رانقل کړيده :
آدم يې مځکې وته راستون کا

په اوردغم يې سوی لړمون کا

دوزخ يې روغ کا پرمخ دمځکې

نوم يې دهغه دلته بيلتون کا

درا بعي دژوند اوکلام نه معلوميږي چي رابعې دپښتوادبي تاريخ په يوه ځانګړي پړاواومرحله کي ژوند کاوه اونوموړې دوره يا پړاو دپښتومنځنۍ دوره وه چي ډير لرغونې دوره هم نه وه او معاصره دوره هم نه وه. اودهمدغه دورې ډيره ښه شاعره وه. اوپه شعر کي پرله پسې والی ډيرښه څرګنديږي . او داسې څرګنديږي چي شعرونه به يې هم عشقي وه او نورانتباهي شعرونه به يې هم لرله . دپښتو په شاعرانوکي دښځوونده دپاملرنې وړده اوپه هغه وخت کي ښځودنارينو په څير زده کړه او علمي ادبي فعاليتونه درلودله . اوکورنې اوقومي مشرانوهغه دعلمي فعاليت څخه نه راګرزولې چي يوه پخه بيلګه يې هم دا رابعه ده اوپه دغه ډول نوري ليکوالاني هم وې.

میرمن بي بي نيک بخته

٩٦٠ هـ شاوخوا

داشاعره ميرمن دشيخ الله دادمموزي لوروه . پلار اونيکه يې روحاني خلک وه، شيخ امام الـدين په خپل کتاب (( اوليايي افغان)) کي ددې په هکله داسې ليکي: چي نيکبخته هم عالمه اوعارفه ښځه وه ديني علوم يې لوستلي او ټول عمريې په ريا ضت اوعبادت تيراوه. شيخ قدم چي دشيخ متي له کورنۍ څخه ؤ، له دې ميرمني سره واده وکړ. ددوی په کورکي په ٩٥٦ هـ کي ميان قاسم افغان وزيږدچي دپښتو له عرفاني اوعلمي پوهانو څخه دی. بي بي نيک بختي په ٩٦٩هـ کي يو کتاب وليکه چي ارشادالفقرانوميده چي په دې کتاب کي اخلاقي او تلقيني اشعاروه. چي دپټې خزانې مؤلف يې دغه نمونه ځيني رانقل کړي ده .

دوخت اخلا قي نصيحت

دخدای حق ته غاړه کښيږده ـ نوري نورې وينا پريږده
دنـيـا پـاتـه لـه هـرچا ده ـ په اخلاص کې ځيني ليږده
څـوقوت لرې په ځان کې ـ سرد يا ر په رضا کښيږ ده
ځان له بـده خـويه ژغوره ـ زړه په ز کر د يا ر بليږده
کـل د نيا به د د ښنه شـي ـ اوس له بيري ځيني ريږده
ټوله غـواړې حسابـونـه ـ که دي اوښه که دي ميږده

په سنه ٩٥١کي يې دشيخ قدم قدس الله سره شرعي نکاح اوواده وکړ.چي هغه هم دنامتو شخصيت خواجه محمد زاهد خليل متي زي زوی وو.اوعارف دخدای وو، چي دواده په نتيجه کي يو غښتلی او دنوم اونوښان خاوند زوی يې پيداسوچي شيخ قاسم افغان نوميده هغه هم په خپل وخت کي ډير شهرت پيدا کړ.اوهغه هم په الاهي علوموکي په هند او پښتونخواکي نوم درلود ی.همدغسي شيخ امامالدين مشهور عالم هم ددې له اولاده څخه دی اواوددې کورنۍ دخپل وخت يوه ښه عالمه کورنۍ وه او په

همدغه ډېرل يي ديوې بلي عالمي او نامتو كورنۍ سره خپيني وكړه چي دشيخ متي لمسی قدم ته په نكاح سوه اوبي بي نیک بختي خپل مشهور كتاب په ۹۶۹ هجري كي تكام كړ او ددې دكتاب ځانګړني له دوخت دنورو ليكوالانو دليكونو په څير كلاسيک ادب ته ورته اوددې وخت ډېر ليكوالان په كلاسيک سبک باندي ليكني كولې اوداهغه سبک دی چي په دې وخت كي پر مذهبي نصيحتونو باندي ټوله يا ډيرليكوالان تكيه كوي اوپه دې وخت كي علوم يوازي دمذهب په اوديني برخه كي ډيررواج لري ، چي نوموړي ځانګړني نه يوازي په پښتو ادب كي دغه معمول سته بلكي دنهمي او لسمي هجري پيړۍ په دې دوران كي دنړۍ ټوله ادبيا ت په خپل ځان كي دغه ګډه ځانګړنه لري او ادب محدوددې. چي داهم ځانته خپل ځانګړي علتونه لري . خواوس موږته په لاس راغلی يوديني اوتصوفي شعر دبيلګي په توګه دلته راوړو .

په زړه ښادشي ای مؤمينه
په ظاهر په باطن سپينه
ظاهر زهد په اخلاص كړه
په زړه ټينګ شه له يقينه

شـكر صبر پرهرحال كړه
خودنمای مه شه خودبينه
شپه اورځ به په ژړايي
كه خبرشي له سجينه
سجن ځای دخودنمای
دبې نمازه اوبـــې دينه
له هغه څه امان راكي
يا الله الــعــا لـمـيـنـه !

نوموړی كتاب دنصيحت په برخه كي هغه چاته ګټور دی كوم چي هغه هم په تصوف كي ځان غرقول غواړي اوددين ډيرښه لاره يې په كښي ښودلې ده اودنوموړي شعر څخه معلوميږي چي بي بي نيكبخته يوه متصوفه شاعره او دخپل وخت په مروجه علوموكي پوره پوهيدله .
اولاندي دغه بل شعريې هم په كلاسيک ډوله شعركي ديادوني وړ بولم اودمفهوم په لحاظ هم نوموړی شعر يو ډير انتباهي شعر دی چي برسيره پردې چي دمفهوم له مخي ډيرګټور شعردی خودشعري جوړښتونو له مخي هم بې مثاله ادبي فورم لري .

بل نصيحت

په طلب يي دريږه
په خدمت يې هوسيږه
له جمله بدو نفرت كړه
ونيكي ته ولاړيږه
په نيكي كښې يې اخلا ص كړه
بدي مه كړه وپوهيږه
پرګناه له دواړوسترګو
دباران په دود وريږه
چي يا رب العالمينه !
له ګناهه راتيريږه
خــدای به رحم په تا وكا
په زاريو ته ژړيږه
بې پرواوخـدا يه ته مه شه
لــه غضبه وويريــږه

هر هغه فعل چي يې حق دی
په طـلــب يــې وښوريږه

بې بې نيک بخته که ديوه پلوه ډيره لوړه زاهده اوديني مبلغه مهربانه ښځه وه خودبله پلوه دپلار او خسرخيلوله پلوه په دواړه کورنيو کي يې دعلم ښه تشويق کيده او خپله هم په دې لاره کي داستعداد خاونده وه اونوداچي ددې استعداد اومحيط ښه شرايط ددې سبب سوه چي ددې ښځه په واقيعت کي نيکبخته جوړه کړي اودهغه شهرت خاونده يې کړي ، چي دټولو پښتنو دپاره دپوره دخپل زمان يولوی وياړ او فتخار وګڼل سي او ددې ښځه په ډاګه نتيجه اخيستل کيږي چي پښتانه اوپښتني قومونه داستعدادونو په روزنه کي دپاملرني وړخدمتونه کړي دي او نوموړي خدمتونه هم دښځينه برخوپه چوکاټ کي اوهم دځوانانو په روزنه کي ديادولووړ ګڼل کيږي او دنن ښځه ۷۰۰ کاله مخکي هم ښځو کولای سوه چي دنارينو په څير په ادبي او علمي ساحوکي ډګرته راووزي . چي ددې جملې ښځه بې بې نيکبخته دبيلګې په توګه يادولای سو .

نازوتوخي
۱۰٦۱ هـ

نازودسلطان ملخي لوروه.اوپه ۱۰٦۱هـ کال دتازي په سيمه کي زيږيدلې اوسلطان ملخي دقوم مشراودغزني ترجلدکه پوري يې په دې سيمه کي واک درلود.اودنازوپه روزنه کې پوره پاملرنه وکړه اوهغه يې داسي وروزل چي په خپل وخت کي ساری نه درلود.نازوپه کوچني والي کي زده کړه دوخت دپوهانو اومشرانو سپين ږيروڅخه لوستل اوليکل زده کړي دي.اوارتينه يا ميړه مخې ، سخي اوباغيرته ښځه وه ، چي نارينه يې جرعت ته حيران وه .
بشپړه روايت دی چي سلطان ملخي وسورغره ته نژدې په جنګ کي شهيد سواوحاجي عادل چي دنازوورور وو د پلارپه انتقام جنګ ته ولاړ،کلا اوکوريې نازوته پريښود، چي په دې وخت کي نازوتوره تر ملا کړه .اودجنګياليوځوانانو سره يې کور او کلا ددښمنه وساتل .
دمحمد هوتک يادونه ده دخپل پلارڅخه چي هغه ورته داسي نقل کړی وو: نازوانا په ميلمه پالنه ، غريب پالنه اودکسافرانو په پالنه اوپرتولوبيچارګانويې دمهربانی په برخه کي نوم درلود. اوهروخت چي به په ژمي کي دمسافرانو قافلې راغلې نو دنازوپرکلابه يې اړول ، په سووسوومیلمانه به يې روزل اودوی ته به يې ډوډۍ ورکول ، چا چي به کالي نه درلودل لباس او کالي به يې ورکول اودسخاوت نوم يې دخيبره تر کوسانه خپور سو .
نازودکرم خان دزوی دښالم خان سره واده وکړ. اودخپل وخت بانفوذاودښالم خيلوکورنۍ دکندهارتر تراصفهانه پاچهان وه،نازو څلورزامن درلوده چي : حاجي ميرخان ـ نورعبدالعزيزخان ـ يحيی خان اوعبدالقادرخان نوميده ، چي په دوی کي حاجي ميرويس خان ترټولو مشر اودافغانستان ټولواک تيرسوی دی او په هيواد کي دډيروخلکوپه زړونو کي ځای درلود او ولسونوهم ودته دنيکه لقب ورکړی دی.
محمدهوتک دپټي خزانې ليکوال دخپل پلار له وينا داسي ليکي : نازوانا عابده اوصالحه ښځه وه چي خپلوزامنوته يې ټوله عمر په اوداسه شيدې ورکولې .اوهغه وخت چي ميرويسخان وزيږيد ؛نو خوب يې وليده کي چي شيخ بيټني رحمه الله عليه ورته وايي: ( دازوی ښه تربيه که چي لوی سي لوکارونه به وکي اوهغه به حاج ته هم ولاړسي اودنسل څخه به يې شاهان پيداسي چي دين به روښانه کي) . نوورسته چي حاجي ميرويس خان وزيږده نو موريې هم په ملي روحيه او مذهبي پوه سره دميرويسخان تربيه وکړه، چي داو (۷) کالو څخه ورسته يې ددين فريض يې ټوله وروښودل اوهرکله به يې دته نصيحت کاوه چي : ( زويه دشيخ بيټني نيکه قدس الله سره له قوله ستا په مخ کي دي لوی کارونه، نوچي لوی شې دخدای عبادت اودخلکوخدمت کړه، ته خدای پيداکړی يې ددې دپاره چي لوکارونه ترسره کړې اوخلق الله په خدمت ستا ارام وکا) .
همدغسي هم سوه هغه دمور دوصيت سره سم لوی کارونه وکړه اواو په همدې ترتيب يې دخلکو خدمت په ډير ښه توګه تر سره کړ.

محمد هوتک دپلار دخولي بیا هم زیاتوي چي دهغه پلا ر به نقل کاوه چي ناړوانا ډیره ارتینه یا میره مخي ښځه وه اودخدای تعالا په مناجات کي ډیرشعرونه ویلي دي. اویو پوخ دیوان یي درلود، چي دوزره بیتونه په کښي وه. اوپه هغه کي پوره نازک خیالي لیدل کیده اوپه عرضواوکافیه برا برشعرونه یي لیکي وه ، چي نارینه یي هم وه سوای ویلای . چي ددغه لاندي رباعي څخه په ډاګه معلومیږي چي دهغې شعري قوت څومره قوي اوډپا ملرني وړ دی. ددې رباعي په لاندي ډول سره ده:

رباعي
سحرګه وه دنرګس لېمه لانده
څاڅکي څاڅکي یې له سترګوڅڅېده
ماوېل څه دي ښکلی ګله ولې ژاړې؟
ده وېل ژوند مې دی یوه خوله خندېده

دغه عالمانه تفکردنازوانایه ژوند اوکورنۍ کي دېام وړتغیرراوست او دهغې له غیږه داسي نابغه زوی خدای دافغانانوپه نصیب کی چي هیوادیې دېردیو دستمه وژغوری اوټولوپښتنوته یې یوهمیشنی ویاړ ورپه برخه کړ نوولس هم دې ته دنازوانا لقب ورکړاوټول پښتانه یې احترام لري. اورسته ددې کورنۍ له برکته پښتوژبي په پراخه پیمانه پرمخ تګ وکړ( روح دې ښادوي) .

عصمت حلیمه حافظه

حلیمه دستر خوشحال خان خټک لوروه، چي دنامتو شاعر یوه عبد القار خان خټک سکه خوروکیده . دمحمد هوتک دپلار داودخان په قول چي هم عالم اوهم دعلم په تلاښ کي دپښتنو په سیمه کي ګرځیده اوڅیرنه یې کوله هغه وائي : چي زه بنوته تللی وم چي هغه وخت داپښتنه ژوندی وه.
اوپه سیمه کي دېور شهرت خاونده وه، هغې دخپل پلار خوشحال خان خټک په ژوند کي مروجه علوم ولوستل اوځان یې ولوړي علمي سویې ته ورساوه اوبیا دشیخ سعدي لاهوري رحمه الله مریده سوه، اودخپل پلار په لاس یې بیعت وکړ ـ چي هغه هم شیخ اودخپل دوران خلیفه وو.
هغې میره یاواده نوکړی اوپه عزت اوپرده کي دخپل پلار اوورورپه کورکي ناسته وه اودیني علوم یې لوستل او دقران حافظه هم وه یعني قران یې په یادؤ.او په دیني ، علمي اوادبي فنونو او علومو ډیره ښه پوهیده ـ هغه به په عبادت بوخت وه یا به یې هم نورو وړو ماشومانو او نورو ښځوته دیني علوم ورښودل . اوپه استاذۍ یې شهرت درلود.
دداودخان هوتک له قوله هغه په پښتو ډیرښه فعرونه درلودله اودتصوف اوطریقت کتاب یې ډیرلوی نوم درلود. دحلیمې شعرونه پروزن اوقافیه برابراوهغه څوک چي په عروضوپوهیده هغوی یې شعرونه خوښوي . دحلیمي شعرونه مجازي عشق نه ښکاري بلکي ټول شعرونه یې دحقیقت په لاره کي دي. اودمحبوب حقیقي صفت کوي . اودغه لاندي غله یې محمد هوتک دخپل پلار داودبابا له خولي اوریدلي او محمد هوتک په پټه خزانه کي خوندي کړې ده . چي موږته دتاریخ ثبت دی.

غزل
داشنای په فکرخوښه شوم
نه پوهیږم چي ممتازکه نورجهان شوم
چي یې کړمه ستا په مینه سرفرازه
ثنا خوانه په څورنګه درحمان شوم
چي مجاز مي دایازولاړی له زړه نه
سربلند ه ترمحمودغوندې سلطان شوم
هرچاوته چي ګورمه واړه دی دی
دجمال په نندارویې شادمان شوم
غیرفکرمې له زړه نه را بهر شو
پرخلیل و پر عدو باندې یکسان شوم

حليمي دغمازمکر زيات له حد شو
چي دې بيل له ياره نه کا بد گمان شوم

همدغسي سيد رسول رسا په خپل يوه راټول کړي تحقيقاتي کتاب کي چي دخوشحال خان خټک پر مختليفو برخو يې څيړنه کړې ده ، دهغه دکورنی په باب دهغه دزامنو نومونه په تفصيل سره يا دوي او په همدغه تو گه دبي بي حليمې په باب وايي : چي دخوشحال خان ختک په لونوکي ترټولو تلې عالمه اوپوه لوريې بي بي حليمه وه. چي هغه شاعره او فاضله ښځه وه .په دې کي شک نه سته چي بي بي حليمه هم دخو شحال خان دنورو اولادو غوندي په ميراثي تو گه شاعري زده کړې او شاعره سوې ده داچي دشعر نمونه يې زموږ په لاس کي نه سته خو ديوه شعر څخه دهغه دشاعرئ جاج اخيستلاى سواو هغه دپښتو شعر په تاريخ کي يوه وتلې ښځه گڼو .

دوست محمد کاکړ
۹۲۰ هـ شاوخوا

له نيکانو روايت دی ـ هســې توگه حکايت دی
نور محمد کاکړ را وي دی ـ چي يې فضل تل جاري دی
دنيکانو له خولې وايي ـ چي منښت يې راته ښايي
تل تر تل يې عبادت کا ـ پردې لار يې ريا ضت کا
شپې يې روڼي په لمانځوڼ ـ په ژړا وپه ناروويې
نه يې خوب نه يې خوراک وو ـ عبادت يې ژوندووزواک وو
چي به کښېنوست په لمانځه ـ يا به کښيووت په ستاينه
ورځ يې ټوله په قعده وه ـ شپه يې هم يوه سجده وه
تل يې سير دلا هوت کا ـ په يده گوله يې قوت کا
غرق به تل په ذکرالله وو ـ هر سبا اوهربيگاه وو
يوه شپه يې عبادت کا ـ پرگناه يې ندامت کا
سترگي پټي سوې له خوبه ـ په شپو شپو يې وويښتوبه
هسې خوب يې دليد گرانه ! ـ چي غرغښت شئي ښهانه
وايي: ای کاکړه زويه ـ له تا خوښ يمه نيک خويه !
ستا قدم زما پرلاردی ـ ما سوا کې دې قرار دی
شپه اوورځ دې ده لما نځنه ـ دڅښتن عبادت کړنه
ولې پاته له تا نور دي ـ شپې اورځي دي په کور دي
ځه جهاد کړه پر تا فرض دی ـ دا هم ستا دغاړي قرض دی
يوه ورځ جهاد افضل ـ تر کلو کلو لما نځل
څوک چي تل لمونځ وروژه کا ـ په جهاد به يې پوره کا
لومړی شرط ددين هم وا وی ـ بي خدمت دخلق اللـه دی
له تا پاته دواړه دينه ـ ځان خبر کړه ښه له دينه
توره واخله مجاهد شه ـ دلوی خدای ددين قاصد شه
دخدای نور پر جهان خپور کړه ـ دا خومت يې په ځان پورکړه
چي دي بشپړ عبادت شه ـ ځان دي خلاص له معصيت سي
چي له خوبه ويښ کاکړ سو ـ دغــزا په خوا نو مړسو
زغره خول يې ارا سته کړل ـ دغزا غشي تيره کړل
هرات خواته په تلو تلو سو ـ دسلطان غياث له ملو سو
وېکړه هورې جهادونه ـ دسلطان مل شو په ملونه
څو هورې تر دنيا تير سو ـ دغازيانو په ټول شمير سو
چي يې هلته هم وفات سو ـ ښخ په خاورو له هرات سو

مېږه هسې ژوندون کا ندې
مري دخداى په رضا باندې

دوست محمد کاکړ دکاکړستان په ږوب کې اوسيده . پلار يې بابړ خان نوميده ، چې هغه هم شاعر سړى وو . چې (دتذکره غر غښت ) په نامه يې يو کتاب نظم کړى ؤ. دوست محمد کا کړ په خپله غرغښت نامه کې دغر ښت نيکه په باب او احوال کې يې بيان کړى وو. اود نوموړي کتاب په باب دپټې خزانې مؤلف داسي وايي : چې تذکره غرغښت او غرغښت نامه دواړه يو کتاب دي . ويل کيږي چې کله دبا بړ خان تذکره غرغښت ورکه سوه نو بيا دوست محمد خان کاکړهغه بيا دشعر په ژبه هغه وليکل ، اونوى نوم يې ورته کيښود .

داسې ښکاري چې غرغښت نامه بر سيره دغرغښت نيکه پر حال او احوال نور ديني او مذهبي مضا ميو هم لري . ځکه چې دزرغون خان ساقي نامه دپټې خزانې مؤلف دغرغښت نامې څخه دغه کيسه رانقل کړې ده .خوداچي نوموړي مشهور پوه اوناظم دخپل وخت ادبي وياړ او خدمت ګذار تير سوى دى او علمي ادبي لاسته را وړني لري او نو اوس به بيا دده پر ژوند هم څه ناڅه وړغيږو چي هغه څوک ؟ او په کومو کورنيو پوري اړه لري .

دوست محمد کاکړ لکه دهغه د لقب څخه چي معلوميږي هغه په قوم کاکړ او دژوب اوسيدونکى وو ، پلار يې هم شاعر او دخپل وخت يواديب سړى ؤ، او دپلار نوم يې بابړ خان نوميده ، چي هغه په کال ۹۱۲ هـ کې هرات ته دکاکړبابا دزيارت دپاره ولاړاو بيا بيرته وږوب ته را غلى او په ۹۲۹ هـ کي غرغښت نامه وليکله .نو دپټې خزانې ليکونکى وايي : داکتاب چي ما وليد خوږه شعرونه يې درلددله او دغرغښت عليه الرحمه دژوند اړخونه په کې ليکل سوي وه . چي په دې باب يې دبا مسؤليته خلکو له خولې يې روايتونه را ټول کړي دي . نوموړى کتاب دپټې خزانې دمؤلف پلار داود عليرحمه په توبه کي چي داوسني پاکستان په شمالي برخه کي موقيعت لري او يوه يخه سيمه ده هلته موندلى ؤ. او دمحمد بن هوتک کورنۍ کوچنيواوزنيونوموړى کتاب په سبق سره لوستى او او ګڼه يې ترينه اخيسته .

دلته يو يچلتوب ليدل کيږي اودهغه تر منځ بايد يو توپير وليکل سي او هغه دا چي يوکتاب چي بابا بابړلکلى دى هغه خوتذکرهٔغرغښت نو ميږي اوپه نظم هم ليکل سوى دى ؛ نومړې خبره خپله دوست محمد کاکړپه خپل کتاب کي کوي . اودوست محمد کاکړچي دبابړ نيکه زوى وو، هغه او هغه چا چي نوموړى کتاب ليدلى وو، هغو دکتاب پر ورکيدو پوره ويرجن سوي وه ، چي په دې باب دوست محمد کاکړ خپله داسي نقل کوي: زما پلار بابړ خان تذکرهٔ غرغښت ليکلې وه او هغه وخت چي بابړ خان وفات سو نوزه پرکورنه وم او نوهغه کتاب ورک سوى وو، اوچا ضايع کړى ، ماچي دکتاب خبري په وارو،وارو اوريدلي وې او ويلي مي وې ، اړهم مي يوه اندازه په ذهن او مغز کي پرتې وې ، نومي پر خداى توکل وکا اوهغه قيصې اوروايات مي بيا په شعر وويل ، خداى تعالى جل شان دې زما دپلار سعي مشکورې کا. نوپه همدغه توګه ددې کتاب کښونکى هسي نقل کا چي ما ددې کتابه دغه حکايت را نقل کړى دى . چي په پورته تو ګه مو خبري پرې وکښلې او دهغه شعر مو وليکه . اوس نودلته مو ددې خبري يادونه ضروري ګڼو چي ووايو : (تذکرهٔ غرغښت )هغه کتاب وى چي بابرباب ليکلى دى او بياهغه ورک سوى دى چي نوموړى کتاب نه يوازي دبابړ بابا کورنۍ ته يوه تراژيدي پيښه وه بلکي وتولوپښتنو ته يوه غټه غميزه وه . نو په همدغه سبب دوست محمد کاکړ چي ادبي توان يې په ميراث دخپله پلاره ورته پاته سوى ؤ، هغه ځان ودې ته مجبور کړ چي بيرته دسره بيا هغه کتاب وليکل سي او بيرته يې له سره هغه کتاب په مثنوي فورم سره په نامه د ( غرغښت نامه ) هغه وليکه او نظم يې کړ . ولې دواړه کتابونه چي ديوې کورنى ياد او وياړنه ده ، دموضوع په لحاظ دغرغښت نيکه ژوند يې ښودلى دى .په نوي ډول يې مرغلري وپيودلې او زاړه نقل ته نوى لباس ورپه تن سو، نومړى کتاب په لږ وخت کي وخپل پوره شهرت ته ورسيده . اودوخت پوهانو اوعالمانو به نومړى کتاب په درسي توګه لوست اوهغه ته يې دوخت ديوه لرغوني کتاب په ارزښت کتل . په دې کتاب کي اخلاقي منظومې ، تاريخي منظومې وې . اوپه مدرسو کي به نوموړى کتاب وهلکانو ته لوستل کيده او په دغه ډول دپټې خزانې دمؤلف کورنۍ چي يوه اديبه او علمي کورنۍ وه

هغو هم خپلو کشرانو او مشرانو ته نوموړی کتاب په لوستلو سره لوستلی دی . دیادولو وړ خولا دا هم ده چي په غر غت نامه کي نه یوازي دغر غښت بابا دژوند حال او احوال یادونه سوې ده بلکي ؛ نو رمضامین یې هم درلودله چي هغه هم دټولو پښتنو دپاره په زړه پوري دي لکه دزرغون خان شاقي نامه چي دپټې خزانې مؤلف له همدغه کتاب څخه رانقل کړې ده . او هم داچي کاکړ دغرغښت له اولادې څخه دی نو دهغه په باب هم په زړه پوري تاریخي یادوني سته . او دپښتو په ادبي تاریخ کي غرغښت نامه یولرغونی کتاب دی چي ورسته دزرغوني تر بوستانه دوهم لرغونی کتاب دی . داچي پټې خزانې چه ځيني را نقل کړي دي دهغه څخه داسي موړته څرګنديږي چي نوموړی کتاب په روانه او سلیسه ژبه لیکل سوی دی . اوادبي اوشعري فورم يې مثنوي فورم ګڼلای سو.

شیخ عیسي میشوانی

د ۹۰۰هـ شاوخوا

شیخ عیسی میشوانی په هند کي دپښتنو شهنشاهانو دوخت عالم اوفاضل شاعر ؤ.نعمت الله هروي په خپل مخزن کي د ده په ژوندانه داسي بیان لیکي اووايي: هغه وایي چي عیسی میشوانی دهند په املہ کي او سیده . او هلته یې محٰکي او پټي درلودل، شیخ عیسی لوی ولي اودخدای په یووالي کې په پښتو ـ فارسي ـ اوهندي ژبو شعرونه او لیکني کړي دي .

مخزن افغاني دعیسی مشوانې پښتو او فارسي ـ هندي یو شعر را نقل کړی دی ، خو له بده مرغه دغه اشعار کاتبانو خراب کړي او مسخ کړي دي او په ښه توګه نه لوستل کيږي . خو دپټې خزانې مؤلف دده یو پښتو شعر داسي را نقل کړی دی :

شعر

پخپله کار کړې پخپل انکار کړې
کله باداريم ، کله مي خوارکړې
ته خوقا د ربې په صـفـتــونـــو
کله مي نورکړې، کله مې نارکړې
عیسی حیران دی په دې شیو نو
کله مي يارکړې ، کله اغيارکړې

نعمت الـله هروي نورزی په خپل ( مخزن افغاني ) کښي هغه وخت چي دجهانګیر دورؤ داسي لیکي :چي شیخ عیسی په قوم مشوانی وو. اوپه داملہ کي دشیرشاه سوري په دوران کې ژوند کا وه، ویل کيږي چي یوه ورځ شیرشاه پر عیسی باندي شکمن سو او دخلکو دراپورونو له مخې شیرشاه ګمان کاوه چي عیسی به شراب خوري او همیشه شراب ورته په پیاله کي پراته اوپه شرابو بوخت دی خو، شیرشاه هم خپل یو څوکسیزه نماینده ګان وروليږل چي نوموړی حقیقت څرګند کړي ، خو څه وخت چي خلک ورته ورغلل نو که ګوري چي شیخ ته جام اوصوراحي پرته او څه ناڅه څيښني اوپه همدغه تووګه نو دشیرشاه خلکو ځيني وپوښتل چي دغه څه دي اوڅه چيښي ، نو عیسی هم ځواب ورکړ اوورته یې وويل : راسی تاسويې هم را سره وڅيښی نو هغوی چي دصراحي څخه یو څه ځانته ورواڅول نوکه ګوري چي هغه شيدې دي نو یې شاه ته رپوټ ورکړاوويې ویل : چي عیسی شراب نه بلکي شيدې چيښي .

همدغسي نعمت الـله هروي کاږي چي عیسی میشوانی یو لوی ولي او دخدای په توحید کي ښه شعرونه ویلي دي . هغه خپل شعرونه په پښتو ، فارسي او هندي یې ویلي دي . لکه چي مو دیوه شعر بیلګه په پورته ډول سره ولیده .

شیخ بستان بړيڅ

۹٦۰ هـ شاوخوا

شیخ بوستان(بستان) بړيڅ دمحمداکرم خان زوی. دپښتنودادبي اوروحاني مشاهیرواو مشاعروڅخه دی ، دی دځوانی په عمر هند ته ولاړاوپه سیاحت لګیاسوچي نوموړي سفردشیخ بوستان په تجربه اوعلمي پوهه کي ډير څه نورهم ورزيات کړه ، او هغه يې یو پوخ شاعر

کړ. شيخ دپښتو ژبي شاعر، ليکوال اوروحاني عالم دی . هغه پسله خپل سفرڅخه دخپل سفراو تجربيو يو کتاب وليکی چي د بوستان اوليا نوميږي ، نوموړي په دې کتاب کښي دخپل سفرليدلي حالات او تجربيي وليکلي . چي په هر وخت کي دويونکودپاره ګټور اوعلمي ارزښت لري.دپټې خزانې مؤلف ددې کتاب په باب داسي زياتوي چي نوموړی کتاب چي دسفر حالات او دسترګوليدلی بيان په کښي ذکر سوي دي ، برسيره پردې دسيمو دمشاهيرو او مشاعرو دژوند حالات هم په کښي ذکر سوي دي ، اودخپلي تجربيي مطالعات يې په يوه کتاب کي سره راغونډکړي دي . اوپټې خزانې د مشهوره شاعر شيخ تيمن اشعاراواحوال هم له دې کتابه څخه رانقل کړي دي . اوپردې برسيره شيخ بوستان خپل اشعارهم په همدغه کتاب کي راغونډ کړي دي ، دهمدغه کتاب له مخي ويلای سو چي شيخ بوستان بړيڅ دخپل وخت شاعر ليکوال او مؤرخ دی . اودپټې خزانې مؤلف دخپل پلار داود عليه الرحمه له خولې دده يوبدله داسي رانقل کړيده .

دشيخ بستان بدل

اوښکي مې څاڅي پرګريوان يوار نظر کړه پرما      راسه ګذرکړه پرما

دميني اوردی زما زړه يې وريت په انګـــار کينا      ښې تارتار کينا
خود به ويليږم چي مې زړه پرتا مفتون کی کينا ځان مي زبون کينا
اوښکي مې څاڅي پر ګريوان يوارنظر که پرما      راسه نظر که پرما

***

وکه نظر زما پرحال چي پردت رنځوريمه تل   په ويرناسوريمه تل
له زړه مي څا څي وينې سور په وينوخپل يمه تل      په اورجلبل يمه تل
اوښکي مې څاڅي پرګريوان يوارنظرکه پرما   راسه ګذرکه پرما

***

لــه درد، سوزه تل ناري او غـلـبلي وهـمــه      کريږې سورې وهمه
يوآ ن مې چيري نه آرام نه ټيـکاونــه وينــم      نه راحت کړنه وينم
اوښکي مې څاڅي پرګريوان يوار نظر که پرما      راسه ګذر که پرما

***

دخوږوزړو له حـاله ته ته يې ای باداره اګاه      يې دبې وزلوهمرا
دخپل عزت په روی بوستان ته کړه دمهر ښيندل      کړې له ګناهه ګواښل
اوښکي مې څاڅي پرګريوان يوارنظر که پرما راسه ګذر که پرما

***

**

*

نوموړی شعرهغه وخت چي شيخ دهندوستان له سفره په کال (۹۹۸)هجري کي راعلی او( دبستان اوليا) کتاب يې وکيښ نو دپټې خزانې دمؤلف پلار نوموړی کتاب په ښوراواک کي دحسن خان بړيڅ په کور کي ليدلی وو. چي په دې کتاب کښي شيخ عليه الرحمه دډيروپښتنوادلياوو دژوند حالتونه ، کرامتونه ، خوراک اوعادتونه رانقل کړي وه . اود نورو شاعرانو اوخپل شعرونه يې ليکي وه چي يوه نمونه يې دغه پورته شعر دی چي محمد هوتک عليه الرحمه دلته رانقل کړی دی . اوهغه هم دخپل پلار له خولې څخه رانقل کړی دی.

شيخ صاحب لومړی دخپل پلارنه زده کړي وکړې ، او بيا دښوراوک څخه دهلمند پرغاړه په يوه کوډله کي اوسيده اوبيا په ځوانۍ کي هندوستان ته ولاړی اوخپل ديني علوم يې بشپړه کړه .هغه دقدرت دآثارو تماشه وکړه اوبيرته دپخوتجربيو سره هيوادته راستون سو.

ظريف شاعرعبدالطيف اڅکزی

۱۷۲۹م ـ ۱۱۰٦هـ شاه وخوا

عبدالطيف اڅکزی چي یو ظریف ، فاضل او دلوړ نوم اونښان لیکوال شاعرتیرسوی دی. په اصل له بوستان دی او پلار یي کندهار ته را غلی دی.پلاریي غلام محمدنومیده اودکندهار ماشور ته یي کډه راوړل او هلته میشت سو.عبدالطیف په کوچنیوالي کي په علم پیل وکړاوقران شر یف یي زده او حفظ کړ نو ځکه حافظ دقران  هم ورته ویلای سو. نرم طبعت یي درلود او په ډیر نرمی سره یي دخلکوسره خبري کولې . او په طبعي توګه یي شعرونه هم نرم او دظرافته ډکه خالي نه دي هغه یو ظریف او نازک خیاله شاعر او دخلکو دژوند ډیرښه انځورونه یي په شعر کي تمثیل کړي دي او په دغه ډول یي ولسي قیصي هم په نظم سره راوړي دي . دهغه په شعرونوکي هغه نقلونه چي ولسونه پند او عبرت ځیني اخلي هغه په ډیرښه ډول په خوږه شعري ژبه نظم کړي او دخلکو دګټي دپاره یي چمتو کړي دي . دهغه شعر برسیره پردې چي یوښه نظم دی ، بلکي دهغه شعري مضمون یوډیرښه نصیحت او پند هم کیدای سي . اوپه شعر کي هغه نازک خیالي نغښتي ده ، چي اوریدونکی خوند ځیني اخلي ، او هغه دنازک خیالۍ ځانګړي الفاظ کاروي چي داور یدونکو دخوښۍ او دلچسپۍ سبب ګرځي ، نو ځکه یې ظریف شاعر بولو. او برسیره پر ظرافت هغه په شعري ټکواو جملوکي ګټور تولنیزاړخونه کاروي ، هغه دیارانواو اشنایانو په بانډارونو کي هم شعرونه لولي او دمجلس او بانډار خوند نور هم ور زیاتوي ، دېټي خزاني کاتب هغه کله ، کله ویني او اشعاریي اوري او دهغه له نظره عبالطیف اڅکزی پرهغه محال دڅلوېښتو کلونو په عمروو. اوهغه لیکي برسیره پردې چي عمر یي پوخ دی خو دځوانی خروش او مسرت او سمسورتیا په کښي ځرګنده ده . اودځوانانو په بانډارکي نشاط اوتازګي ساتلي ده . هغه برسیره پردې چي خپل شعرونه اوروي دنورو پخوشاعرانو شعرونه هم لولي او دوخت انتباهي نقلونه په مجلس کي اوروي . دهغه دظرافت نقلونه خورا ډیر دي. او هغه یو تولنیز شخصیت اودخپلوخت نامتو عالم اشاعر تیر سوی دی ، چي موږیي لاندي شعر دنمونر په توګه دلته راوړو چي دهغه دظرافت نماینده ګي کوي .

قیصه دسوی اوداوښ

غوږ ونیسۍ یارانو دادسوی اواوښ قصه سوه

خورا ډیره خوږه سوه

***

یو سوی داوښ اشناسو　　　ښېده یي همراه سو

یاري به یي کــولــه یولــــه بله یارانه سوه

خوراخوږه قصه سوه

اوښ وویل چي سویه ! ای زما یاره نیک خویه

بې تامي ښادي نسته شپه اوورځ مي په تا ښه سوه

خورا خوږه قصه سوه

ټول عمریي صحبت کا دسوی سرې الفت کا

شیبه یي بیلتون نه کایوله بلې مرکه سوه

خورا خوږه قصه سوه

***

سوی وو داوښ په کورکې　　　ژوندون یي په سرور کې

قصه به یي شروع کړه هر سهار ښوبه غرمه سوه

خورا خوږه قصه سوه

***

سوی تل میلمه داوښ وو　　　دوستي کي ډیر په هوښ ؤ

خپلوي سوه هسي ټنګه چي به پرې نه په برمه سوه

خورا خوږه قصه سوه

***

اوښ هم عزت دسوی کا　　　ساتني دابروی کا

دیار دزړه ده پاره به قبوله نه پلمه سوه
خورا خوړه قیصه سوه
***
یوه ورځ سوی میلمستیا کړه داوښ دپاریې داکړه
خپلوان یې را خبر کړله دسوی ټوله میلمه سوه
خورا خوړه قصه سوه
***

اوښ راغی دسوی کورته یو غار یې ولید پورته
داتنګ په هسې شان ووچي نه ځای یوه ګونډه سوه
خورا خوړه قصه سوه
***
راوړي یې خواږه وو یوڅه وه لږ.وابښه وه
داټوله چي یې راوړله داوښ یوه ګوله سوه
خورا خوړه قصه سوه
***
اوښ وړی ولاړی کورته ختلای نه سوپورته
سویانو یې ځای نه درلودی ټوله شرمنده سوه
خورا خوړه قصه سوه
***
سویا نو جمیعت کا ها سوی یې ملا مت کا
ویل ستا وداوښ څه دي چي دوستي سره توده سوه
خورا خوړه قصه سوه
***
چي سوی اشنا داوښ سي بایدچي لږ.په هوښ سي
داوښ دپاره ښایي چي پیدا یو مامته سوه
خورا خوړه قصه سوه
***
هر څوک چي یاراني کا چي پیل کا پیلخانې کا
هر چاه له مناسبه آشنایـي اوطریقه سوه
خورا خوړه قصه سوه
***
چي څوک مناسب کارکا عبرت له دې ګفتار کا
له خپله ټغره سمه دهرچاه پښه رااوږده سوه
خورا خوړه قصه سوه
***

واعظ ملامحمد حافظ بارکزی

داعالم دمحمد اکبر بارکزي زوی دی، چي دکندهار په کښته خواکي اوسیده . ده دخپل وخت مروجه علوم لوستي دي او په فقه کي استاددي. او د جمعي په ورځ په جامعې ګانو کې واعظ کاوه نو په دې خاطر یې (په واعظ) شهرت درلود . کله کله به یې په خطبه کي خپل اشعار هم ویل .
یو کتاب یې کښلی دی چي نوم یې دی (تحفهٔ واعظ) ، نوموړی کتاب ټوله واعظ او نصیحت دی . او خلکوته یې امر په معروف او نهي منکرکړی دی. محمد حافظ واعظ په رشتیا ویلو مشهوردی ،

دپادشاه او لويانو په مخ کي هم دخداى امر ښکاره وايي، که څه هم دشاه دګتوسره برابرنه وي . په شتيا ويلوکي هغه دچاه پروانه لري . هغه په طريقت کښي دميا نور محمد صاحب مريد دى . ده په کندهار کي ديني علوم زده کړي دي ، اوخپله هم دفقي لوى معلم او استاذ وو. او طالبانو يې دعلوموځخه ګټه ترلاسه کول . او دده پرشاه وخوا به هميشه طالبان را ګرځيدلي وه او ډير زده کونکي درلودله او ډير کسان يې تربيه کړي او روزلي دي . او يوه بدله يې دپټي خزانې مؤلَف را نقل کړيده او دمسلمانانودلوستلو دپاره يې راوړې ده چي دګتي څخه بې برخي نه د ه .

بدله واعظيه

کم بخته مکره پردنيا ډونګونه که دي زړه غواړي دجنت ګلونه
کم بخته موړيوميلمانه پردنيا وطن موبل دى آخير ځوپه رشتيا
هم به ښه بدسي رامعلوم په عقبأ ـ نوله سره اورکى په امان ځانونه
کم بخته مه کوه حرام چي بددي چه کړي حرام هغه باطن کې دددى
اعمال يې ټوله په عقبا کښې رددي ـ په لويه ورځ به يې وي تورمخونه
کم بخته مه کوه حرص ، قرارسه ـ ثنا درب کوه صبورپه کــارسه
توښه ددين وړه په دي کاروبارسه ـ چه بې توښې نه سي پيدا سودونه
کم بخته مه ځه دحرام پرلوري ـ خداى به وتاته په عضب وګوري

که دي زړه غواړي ښايسته ښې حورې
بـيـځـايـه مـه ږ ده بـې پر و ا پلــــونه
ريدى خان مهمند
۱۱۳۰هـ

ريدى خان دمهمندو دکلي اوسيدونکى دغياث خان زوى اود مسعودخان مهمندلمسى وو.پلاريې دحاجي ميرويس خان نيکه انډيوال اودځانګړ و رازونو ساتونکى ؤ. خپله ريدى خان هم په درباركي پوره عزت او قدر لري او په انډوالانوکي هم پوره عزت او مينه لري. هغه پوهه او عالم څوک وو، او په مروجه علومو کي پوره مهارت درلود او هغه ډيرزده کونکي هم درلوده اوپه فقه اوديني علومو کي يې زده کونکوته په پراخه حوصله تدريس کاوه .
ريدى خان په سنه ۱۱۳٦ کي واصفهان ته ولاړاوهلته يې دشامحمودسره بانداړونه اوعلمي مجلسونه وکړه.اوپه ورسته کې يوکتاب دحاجي ميرخان اوشامحمود دجنګونو کيسي وکښلى ، نوموړى کتاب څلورزره بيتونه دي چي نوم يې (محمودنامه ) پرکښيښود. اوهغه وخت چي دشامحمود په مخکي ولوسته پاچاريدي خان ته زرطلاوې انعام صله ورکړې اوهغه بيا نوموړي صله پريارانوووېشل، ريدى خان په خپلواشعاروکي څلوريځي، دوه يځي (مثنوي) غزل اوداسي نورفورمونه په ځان کي لري . اومحمودنامه يې يوخوړکتاب دى ، چي ډيروخت يې پښتانه په خپلوبانداړواومجلسونوکي زمزمه کوي. په نوموړي رزمي کتاب کي دګرګين خان ګرجي دوژلوکيسه اوداصفهان دفتوحاتوکيسي په کښې سته .هسي وايي محمد کتاب الرحروف چي:ما دريدي خان څخه غوښتنه وکړه چي دنوموړي کتاب يوه برخه ماته راکړه چي زه يې په همدغه کتاب کي وليکم هغه هم ماته يوه لويه برخه راکړه اودادى اوس مي دلته يوه برخه وليکل نو ماهم نوموړې برخه دلته وکښل اودخداى څخه راضي يم چي زما دکتاب دغه برخه په غني سوه .اوپه دې برخه کي دګرګين خان کرجي دوژلو کيسه او نقل دى .ريدي خان هغه څه ليکلي دي څې نوموړي په خپله ليدلي دي اويا يې دپوره باور والا کوم چاه څخه اوريدلي دي،په هرصورت نوموړى يوشاعراوعالم شخصيت ګڼل کيږي چي دشعرونوډولونه يې په لاندي ډول ګورو.لاندي مثنوي دريدي خان ده .

دريدي خان مثنوي چي له محمود نامې څخه رانقل سوې ده
((دګرګين مړينه ـ دحاجي ميرخان ستاينه ))



حاجي میرویس نیکه چي په میرانه یې دملي مشر لقب ګټلی دی

اوس به وتا ته حکا یت کړم د ښو- خوږ روایت د ګرګین خان دوژلو
چي میرخان تللی اصفهان ته ونه - مخ یې مکي دپاک صبحان ته ونه
پاچاتي عرض کړتول اقوال دپښتون - دګرګین ظلم بد احوال دپښتون
پاچاویل زه نسوای کولای چاره - دګرګین خان ظلم و ستم دپاره
که یې معزول کړم کندهارنه پریږدي - جوروستم اوخپل شعارنه پریږدي
ګرګین خو ګرګ دی ګرګ خوظلم کوي - ویني تویونه هم پسونه څیري
زه هم خایف یم چه به څه کړم ګرګین - نامسلمان دی ارمنی دی بېدین
نه په اسلام کي ځان پا بندګڼینه - نه نصراني نه له عیسي بیرینه
بیریږم زه چي خدای کړي قهر ښکاره - دسلطنت په ړناکور سي تیاره
میرې خان ویل ای حسین پاچا وګوره - حال دحاکم او رعایا وګوره
ګرګ داېله کړپه رمه سوشبان - جوروستم کاندي بیحده ګرګین خان
موږله طاقت نسته چي کړو به زیا تی - صبرپر ظلم دظالم ارمنی
داځلورم وار دی را ځم سلطانه - عرض دظالم له لاسه کړم سلطانه
که پاچا نکړي داد خواهي دمظلوم - ظۀم حاکم کا ظلم ډیر په محکوم
جور چي ډیر سي سلطنت سي برباد - دظلم قصرپیناه بې بنیاد
دلته په دوام یې نور بیتونه هم سته چي ډیر ښه خبره په کښي ځرګنده ده.
چي وایي: شاه هي دکفرسره کیدای سي ؛ خودظلم سره نه سي کیدای .
کا فرکولی سلطنت سي مدام - که وکړي داد نه وي جابرپه انام
مګر ظالم خو نسي کړای سلطنت - خالق رحیم دی ورکوي خلافت
چاته چه زړه یې وي په مهرودان - دخدای عیان ګڼي پر مځکه انسان
سلطانه واوره په ښي غوږ داوینا - مکړه ستم دخالق الله په هر چا
دستمګاروپای ورادی خراب - دظلم اوریپکا پخپله تراب
دمظلوم اه داسي کاري دی ګوره - چه اوریې نه ځي دظالم له کوره
لمبې به بلي کا دظلم په کور - توله به کاندي بینوا په دې اور
ښایي ظالم چه رحم وکا په ځان - په ظلم خوارنکړي خپل ځان اوجهانسلطانه ګوره په ځان رحم وکړه -
خپل کلی کورپه جورمه ورا نوه
پاچاته هسي ویناوکړه میرخان - خوغوږیې نه وواوریدوله پځان
ګرګین یې پرینښودکندهارکي ظالم - نه ئې کړدفع لاس دده له عالم
ګرګین یې شپانه کا چه کړي خوارر عیت - دګرګ په خیر،څیري په ظلم ووحشت
میرخان خوابدی ولاړ حجازله چه کړي - رسول دخدای ته په زاري داد خواهي

داﷲ پاک په دربارکي غوښتنه :(دادخواهي دمیرخان په حضور د سیدالانس والجان ).
ولاړی دشپې یې په یثرب کا فریاد - رسول دخدای ته چي سو قوم برباد

ستا پر امت راغی دظلم دوران ـ واوره رسوله ددې قوم فغان
پښتون خو ستا پرنامه ځان کی فدا ـ ای خیر الناسه واوره ته يې ندا
وژغوردوته دظالم له لاسه ـ ګرګین له منځه دپښتون وباسه
ستا په نامه دی کلمه ګویه پښتون ـ نه بسي هیڅکله له تانه راستون
مرګوژوندون مو داسلام دپاره ـ ستاددربارستادسلام دپاره
مه مو کړه هیر خیرالواري رسوله ـ فخرکونین نورالهدي رسوله
اوښکي مي ځا ځي په دربار یم ولاړ ـ قوم سوپه اوردظلم ټوله لتاړ
یوار نظر وکړه پرموږ چه سو وړ ـ وظالمانو ته تر څو به یو پړ
ستا لطف ومهر دی شامل پر جهان ـ هر خراب زړه دی ستا په مهر ودان
که ستا نظرنه وي خراب سو پښتون ـ په اور دظلم تور کباب سو پښتون
راغلم له لیري ستادربار ته نبي ـ ته مي شفع سه خدای غفار ته نبي
چه پر پښتون دقوم نازل کي رحمت ـ کړي يې خوندي ناموس پخپل مرحمت
لاس دظالم يې له ګریوانه کا لنډ ـ وج سي دظلم دګندوخیرو ډنډ
ستا شریعت سي ټنګ په منځ دپښتون ـ ورک سي بیداداوکم سي رنځ دپښتون
دامي دی سوال ولاړ دي رته یمه ـ محتاج دتش ولږ نظردي یمه
دقوم حال کړم درته عرض په ادب ـ ته يې بادار د کل عجم او عرب
بي له تا نلري پښتون خوالګر ـ ته يې ملهم دخوږوزړودپرهر
وژغوره زموږ ناموا نا موس له بیداد ـ کړو بي ناموسه ظالمانو برباد
سرکه را پورته زموږه حال وګوره ـ دظالم ظلم بد احوال وګوره
نه يې له تا شرم وحیأ سته نبي ـ نه شرم کاندي له عیسی ارمني
عرض مي دحال وکا وتاته پیشوا
بل څوک مو نشته خوالګرپه دنیا

حاجي میرخان په مدینه طیبه کښي خوب ولیده اوزیری دنجات له ظلمه پروسو.
چه میرخان هسي غرض کا حال دظلم ـ هغه شپه مات سو ه توره ډال دظلم
میرخا ن په خوب و لید ص دیق ا کبر ـ چه ورسره حضرت فارو ق وعمر
وې ای سپن ږیریه نورڅه غم مه کوه ـ قوم دی خلاص سوکورټ ماتم مه کوه
و لا ړ سه خپل قوم ته د ا زیر کړ ژر ـ چه د ظلم سو کـــم نقصان ا و ضرر
پښتو ن به خد ا ی کا له ظا لمه آ زا د ـ نه به سي ننګ او نا مو س يي بربا د
خد ا ی به دا قو م کا په رحـم و د ا ن ـ نوم به يي وینه مجاهـد پر جها ن
تل به دخدای په بنده ګی کي وي لوړ ـ څوک به يي نه کا سرپه ټيټه ور ځوړ
کلمه د خدای به وي جاري په ا فواه ـ ورکوي دوی به په دې لاره کي ساه
څو يي طـره وي داسلام په بـګړی ـ نه به سي ورک نوم ددې قوم له نړی

میرخان نوموړزیری واخیستی اوخپل هیوادته راستون سوهلته يې دعلما ؤ څخه هم فتواواخیستله
بیا هم ریدی خان دحال بیان داسي کوي :
زیری چه واورید میرویس خان په منام ـ خوښ سو دهغو په سپيڅلي کلام
بیا يـي پـیـد ا کــړ ل علمأ د حـرم ـ مفتي قا ضي او هم پيشوا د حرم
حا ل يي د ظلم د ګر ګین کا بیا ن ـ فـتـوا يي وغـوښته له د ویه میرخا ن
ټـول عـلـمـا د د یو فتو ا ورکړه ـ هســي تحـریر هســي انشأ ورکـــړه
چــه د ظا لم د ظـلـم رفـع روا ـ په تیر چه وي دي لـــه اسلا مــه سوا
حاجي میرخان راغی وطن ته بل کال ـ قــوم يي ولیدی په ظـلم پایمـا ل
په تدبیر کښیوت چه ناموس وساتي ـ ننګه د قــوم کـــا په ټنګه خـــوندي

مشران يـــي و ليد ل د قـوم په سلا ـ ود وی ته يي ووي دحـــرم ما جرا
دعا هم خوب او هم فتوا دعرب ـ قـوم يي كـــا د ځا ن د بنو په طـلـب
ظلم يي ډ يركا پر خوارانو د قوم ـ ځان يي كا كرګ دغـمخورانو د قـوم
مشران يي را وستل په حبس وپه بند ـ منا فقـين يي كړل په قوم سربلند

((مصلحت دميرخان او قران كول دقوم اوبيا د ګرګين وژل))

حاجي ميرخان وكا تدبير مصلحت ـ پښتانه ټول سول په نا موس او په پت
ټولو قرآن وكا چي ځان كا خوندي ـ له جـورو ظـلـمو دظالم ارمـنـي
سيدال ناصراو با بو جان وو با بی ـ بل با در خان وو د بادرو لـمسـی
مياجي هم راغی دميرخان په كومک ـ يوسف راټول كړله دسيوري هوتک
عـز يز نـورزی د د لارا م پهلوان ـ ګلخان با برو بل وو نور بړ يځ خان
راغی نصرو او ا لكو دجـلـد ک ـ كـــايي ځوانانو دلښكرو كـــومــک
بل يحيی خان ووبل يي زوی محمدخان ـ ټول سره يوسول چه كړي مړګرګين خان
يونس كا كړ و كا يرغل په ګرګين ـ پښـتنو جوړكړ پر ګرګيا نو نا ور ين
ګرګين يي مړكا ټول ګرجي سوكشتار ـ قوم كا خلاص له ظلم وجوره غفار
قندهار ونيو حاجي مير په همت ـ قوم يي ټول كا، وررته يي كړ نصيحت
چه ظالم ومړاوس خوموږ سوآزاد ـ خا لـق دي نه كا پښتون قــوم بربا د
يا چا ظالم دی موږيي لوټ كا لښكر ـ ښا يي چــه وسا تو ځا نو نه له شر
اصفهــا ن ډک وو له لښكـرو دشاه ـ سبا بـــه را سي په زرګـــونو سپاه
نه به پښتون پريږدي پرمخ دجهان ـ ورک به كا نوم ، ننګ نښان دافغان
دښمن قــوي دی راسی کی اتفاق ـ ځان مو چمتو کی ليرې كاندی نفاق
په كندهاركي يي را ټول كړل خانان ـ ټوله د قـــــوم اختيار داره مشران
هر قوم وركړله ځوانان تـــوريا لي ـ ټول وه غښتلي ننګيالي ، جنګيالي
شل زره جمعه سوه په منځ كي دښار ـ ګرده ولاړ وه دميرخان په ګفتار
ميرخان انصاف كا،وو سپين ږيری مشر ـ قوم يي وونه لكه زوی او كشر
چه داسي كار وكا حاجـي ګرند ي ـ د پښتون نا موس يي وكـا خوندي
كال وويوسل نونس اوزرپه شمار ـ خلاص سو له ظلمه دګرګين كندهار
د ظلم پا ی دی هسي ورا ن علمه ـ نه د ی په ظـلـم څوک ودان عالمه
دظلم اور چه بل سي سوځي جهان ـ په كښي كباب سي ستمګر ظالمان
ظـلـم جفأ كـوي پرځان نه په بل
ويني هر څوک سزا دخپل بد عمل

دهوتكيانو دوره چي په تاريخ كي نامتو اودافتخار وړ دوره ده دلوړ او ملي مشر ميرويس خان په هوښيارانه مشرتابه سره را پيل كيږي.ميرويس خان چي په مير خان سره پيژندل كيده په كال ۱۰۸٤هـ ق كي په اټكل ډول زيږيدلی دی.

ميرويس نيكه مخكي له دې چي دسياست ودنيا ته را داخل سي هغه تجارتي كارونه مخته بيول او ډير هوښيار او ځيرک انسان وو، او بي په كندهاركي يي ديوه لوړانسان په توګه كار كاوه ، خو څه وخت چي پر كندهار با ندي دګرګين اودهغه دانډوالانو دخوا څخه سخته ور ځ را غله نو ميرويس خان هم خپل ټول فكر او احساس ودې ته ور واړاوه ، چي افغانستان دېردو او ظالم ګورګين دظلم څخه وژغوري ، نوددې كار دپاره يي بنسټيز كار را پيل كړ لو مړی يي حج وكړاو په حج كي مسلمانان دګر ګين دظلم څخه خبركړه او بيا يي دډيرو درنو ملايانو فتواوا خيستله او دخدای په درباركي دافغانانو دپاره بريا ليټووغوښت ، هغه وچي بيرته وكندهار ته تر را ستنيدو ورسته يي ګرګين مړكړاوانډيوالان يي دخپلو عملونو په سزا ور ساه اودكندهار اوځينو نورو سيمو مشران يي سره را غونډ كړه او يوه لويه جرګه يي دافغانانو جوړه كړه او په ټولو برخو كي دخلكو دغوښتني سره سم

مشران دهیواد دملي حا کمیت دپاره وګمارل او صفوي دولت یې په ټوله افغانستان او شاوخوا کې ناتوانه کړ.میرویس نیکه ته دافغانانو دنیکه لقب ور کړل سوودا ځکه چې په افغانانو کې نومړی لقب ډیردروند لقب دی.







دکندهار په کوکران کې دستر ملي مبارز الحاج میرویس خان نیکه مزار

میرویس نیکه بر سیره پر دې چې دهیواد سیاسي استقلال یې په سیمه کې تثبت کړ.بلکې ؛ دافغانانو دپاره یې یوه لویه امپراطوري هم را منځته کړه اوهغه په په ټولنیز لحاظ یو عالم او دپوره مهارت او پوهې څښتن وو.دمیرویس نیکه په ملي مشرتوب سره افغانستان په سیمه کې یو داسي هیواد جوړسو چې په ټولنیز لحاظ ، ادبي لحاظ اوډموکراسۍ په ډګر کې نه داچې په هغه وخت کې سارى نه ورلو بلکې تر هغه ورسته یې تر لوی احمدشاه بابا تر دوران پوري دهیواد ملي عتباراونوم اونښان په نړۍ کې سارى نه درلود. حاجي میرویس خان یو ملی مشراومنل سوی شخصیت وو،چې دهوتکي دولت خښته یې په افغانستان کې کېښوده. او ترده ورسته بیا په دې سیمه کې دهوتکو په ټوله دوره کې دهنر اوادب دپاره دیادولووړکارونه تر سره سوي دي .په دې وخت کې یو لوی انجمن یا ټولنه دنارنج په قصر کې سره را ټولیده او دوخت ډیربنه ادیبان ، خطاطان ،شاعران پوهان سره کښیناسته او پر ځینو قلمي نخسو به یې کارکاوه اودلرغوني وخت دشاعرانواولیکوالانو یادونه یې په خپلو زحمتونو سره ژوند وساتل.په دې وخت کې نه یوازي نارینو ادبي پرمختیاوي درلودلې ؛بلکې ډیري درنې ښځې هم وې چې په لکنو او لوستلو کې لابری درلود او شعرونه او مضمونونه به یې لیکل : چې یوهم دهغو دجملې څخه دحاجي میرویس خان مور نازوانا دیادولو وړ ګڼم ، همدغسي ونوموړي درنې کورنۍ دجملې څخه بي بي زینبه چې دمیرویس نیکه لور کیده هم دوخت یوه ډیره ښه لیکواله او شاعره وه.
دهوتکو په دوران کې دنارنج ادبي قصردهوتکو پا چهانو درباري قصروو.خپله میرویس خان ور حمان بابا ته په ډیره درناوي کتله او دهغه شعرونه به یې دفال په څیرکتل او ګڼه به یې ترینه اخیسته لکه څنګه چې حاجي میرویس خان دحاج څخه وکندهار ته را ستون سو نو یې دخلکو سره خبري

وکړيي اوهغو ته يې درحمان بابا ديوان خلاص کړ ديوه نيک پال په توګه اوهغه يې دځانه سره ګرځاوه، څه وخت چې ديوان دنيک پال په ډول خلاص کړ په هغه کې دغه لاندي شعر ليکل سوي ؤ :

زه مکتوب غوندي په پټه خوله ګويا يم
خاموشي زما تيرى کا تر غوغا ز ما
کښت دعشق په توده مځکه آمان چيرته
سمندر بويه چه زيست کا په صحرا زما

تر هغه ورسته چې نوموړى شعر يې دجرګې په منځ کې ولوست نويې جرګې ته مخ را واړاوه اووې ويل : ((رحمان باباواي او صلاح را کوي چې اوس موږته خاموشي ښه ده ،دظالمانو کارخلاص دى، ولي موږ هم بايد دخاموشي څخه په ګټه اخيستلو خپل مقصد ته ور سيږواوچې وخت يې را ورسيده نوبه پرتاسو باندي ږغ وکړم ، منتظر اوسى .هغه وخت را رسيدونکى دى چې ظالمان دهيواد څخه وشړو.تاسي خپلي وسلې پټ ځاى دګل ګلاب تر پاڼو لاندي پټي کړى .
جرګې دخپل مشر خبرې په ټوله معنا درک اودږغ په انتظار سول.همدغسي ميرويس خان دګرګين په مړينه او دکندهار په آزادولو کې دلوى او پا خه هنر څخه کار واخيست او په پرله پيې توګه يې دقومي مشرانو اواهل نظر خلکو سره صلاح او مشورې کولې، خو بيلاخره په دې وتوا نيده چې دکندهار دخلکو دوينو تاوان او قصاد دګرګين او ګرجانيانو څخه واخلي.که څه هم په دې باب ډول، ډول روايتونه سته ، چې ګرګين ميرويس څه ډول وواژه؛ دبيلګي په ډول ځيني مؤرخين واي چې ګرګين دښار نه دباندي دعوت کړاوهلته يې دخپلو ساتونکوسره يوځاى وواژه ؤ خو ځيني بيا په دې اند دي چې ګورګين يې په خپل کورکي دشرابو په وسيله نشه او دخپو ساتونکو سره يې وواژه ،خوډير تاريخونه بيا په دې اند دي چې ؛ هغه وخت چې بلوڅ يا غيان سوه او ګورګين ته خبر ورغلی نوګورګين دهغوى دارمولو او تر ټلو دپاره ورغلی ، خو په لاره کې دحاجي ميرويسخان درې زره لښکرې ورته ودريدل اود ګورګين زرکسه عسکر يې محا صره کړه او بيا يې تاريخي درس ورته ورکړ.چې لو مړى يې ګرګين ادبيا يې دهغه ملګرې ووژل ابيا بيرته ښارته را ستانه سوه ، که څه هم ښار هم دګورګين دلښکرو اوپلويانو څخه ډک وو.اودښار حساس برجونه هم دګرجانو په لاس کې وه.نوکه چيرې هغه په دې خبرواى چې ګرګين ميرويس خان وژلی دى نو بيا به يې هم درند او سخت مقاومت کړى واى ؛ خو دميرويس نيکه هوښيارانه مشرتابه او دقومونو سره صلاح او مشوره ددې سبب سوه چې ګرجانيانو ډير لږ مقاومت وکړ او بيله ډيرو تلفاتو يې کندهارله ګورګين او دهغه دپلويانو څخه ونيوه. خو څه وخت چې اصفهان دپيښې څخه خبريږي ، نو په ډير خښم او غضب سره تصميم نيسي ،که څه هم دکندهار خانانو په ډيرو وختو کې دمغولي دولت سره دځان په قيمت مبارزه او مقاومت کړى وو. خو بيا هم دغه سوال ورته پيد اکيده ، چې دصفويانو نيرواو قوت دکندهار دمبارزينو څو چنده کيږي. اوموږ به دهغو په مقابل کې خپل سيا سي واک بيرته دلاسه ورکړو.خو ميرويسخان چې درحمانبابا پر ديوان او اسلامي شرعيت باندي عقيده درلودله نو هميشه به يې دخلکو په منځ کې درحمان بابا څخه پوښتنه کوله (دهغه ديوان به يې دپال په څير خلاصوه) . او په دوهمه جرګه کې دخلکو په منځ کې درحمان بابا ديوان خلاص کړ ؛ خلکو ته يې مخ ور واړاوه؛ چې رحمان بابا څه وايي:
هغه داسي وايي :

چې آسمان يې مخ پټ کړى په سحاب و
خـد ا ى وما وته ښکاره کړهغه نمربيا
چه رقيب را ته تــــړلى په زنځير وو
خپل حبيب را با ندي پرانيت هغه وربيا
په وصال يې منت با ر اوسه رحمانه
په صد ف کښي د خل نشته دګو هربيا

خلکو چي دميرو يس ملي مشر پرکړنو عقيده درلودله نو په بشپړه اطمنان يې دهغه دخبرو په عملي کولو کي خپله همکاري او دځانه تيريدنه نه سپمول. بيا ميرويس دهغه سوال په مقابل کي چي دصفويانو لښکر به زموږ آل اواولاد توله را مړه کي . خو ميرويس ملي مشر بيا هم داسي وويل : دصفويانو لښکري په عياشۍ او بدو بيرانو اخته دي هغه دجنګ توان زموږ سره نه لري او موږ دخدای په توکل بريا لي يو اودغه آيه کريمه يې وويل :(کم من فته قليله غلبت ) اووې ويل: الله مويار او کومکي دی.اوسنی صفوي دولت دنا اهلو کسانو په لاس کي دی. په ور ستي وخت کي ميرويس خان خپله بيا نيه په دې مهمو ټکو سره پا يته ورسول؛ ګرنو دوستانو او ملي مبارزينو!آزادي دهر انسان حق دی او موږ ته ښه موقع په لاس را غلي ده چي اوس مو هيواد آزادسو، نو ستاسو څخه همت په کار دی چي دغه خپله آزادي وساتی.که څه هم په شاه وخوا کي مولا دصفوي دولت جرړي نه دي ختلي، خوتاسي کولای سی چي دظالمانو دلاسه خپل هيواد وژغوری،هغه خپله آزادي دپښتونولی، انسانيت او شريعت سره برابر ګڼه.او ځان يې پرحق ګڼه چي هيواد دفساد اوظالم دزوره وژغوري.خلکو دميرويس خان سره په قران ،مالګه ، ډوډۍ ، طلاق اوتوره قسم ياد کړ.په دې وخت کي دميرويس سره دولس ولسي خانان او مخور ملګري وه. لکه : سيدال خان ناصر نامتو جنرال ،بابو جان بابی ،ملاپيرمحمد مياجي ، بهادرخان ، عزيزخان نورزی چي ددلارم دپهلوان په نوم هم ياديده ،ګل خان بابر،نورخان بريح چي ممکن دبريحانو دخانانو څخه وي څي په ښورابک يا بلوچستان کي اوسيده، نصرالله خان الکوزی دالکوزيانو مشرچي په جلدک کي اوسيده،يحيا خان هوتک دميرويس نيکه ورور،يونس خان کاکړ چي د ږوب دخانانو څخه وو.

دوی تر لوړي ورسته دګورګين اوګرجيانو جرړي ور وايستي او هيواد يې يو ځل بيا پسله ډيرو کلونو څخه آزاد کړاو يو ملي دولت يې ددريمي لوی جرګې په لارښونه جوړکړاو ښا غلی ميرويس خان ته دملي مشر لقب ورکړل سو. خو داچي نوري به څه ستونزي په تاريخي لحاظ پر ملي جنبش دميرويس خان پر ملي دولت تيري سوي وي هغه خو به خامخا دهند دمغلي دولت دمقاومت سره مخا مخ سوی وي او هم به دصفويانوددولت تاړاکونه پر کندهار با ندي را غلي وي ؛ خو زمکوږ دبحث موضوع نه ده موږ يوازي دهمدغه ملي حکومت پر ادبي بهير با ندي ږغيږو او پاته موضوع وتاريخ ته پريږدو.